# د ارواحو له ښاره



www.sikaraam.com

"... اوس چې په هر څه سترګي پرانیزم يوازې يوه کلیمه ښه په څرګنده او غټو تورو لیکل شوي وي: تسلیت.

دتسلیت کلیمه اوس داروااوو په ښار کې نه یوازې دود ده، بلکې د ژوند طرز اوسلوک ګرځیدلې ده . تسلیت په هر څه او دهر څه له پاره کارېدلای شي . دا کلیمه اوس په یاد ښار کې د ژوند او د روزګار د تفسیر او تعبیر کلیمه هم ده.

نو نن هم تاسو ته «تسلیت» وایم، یعني ډاډ درکوم. یا د زړه صبر او زغم درته غواړم دا یوازې وړیا غوښتنه ده چې هیڅ عملي مصداق نه لري..."

د کتاب له متن څخه

# د اروااوو ښار چېرې دی؟

ادبیات له انسانه بهر د پېښو روایتونه نه دي، بلکې د دغو روایتونو د حسي شویو انځورونو بیاځلې هستونه (تخلیق) دی.

کټ مټ لکه خوبونه:

د خوب عناصر حقیقي دي، هغه څېرې، ځایونه، نومونه، اشیاء او ان ویرې او خوندونه، چې تاسو یې په خوب کې وینئ، خامخا یې یو حقیقي (مثُل)

په دې کایناتو کې شته. داسې څه چې شتون یې د (وجود) له دایرې بهر وي په خوب کې نه وینئ. هغه څه چې (وجود) نه لري، د بنیادم لاشعور ته نه ځي. خو د څېرو، اشیاءو، ځایونو، نومونو، ویرو او خوندونو اړیکي، منطقي تړاو، تاریخي (زماني او مکاني سمون) او په یوه عقلاني موقعیت کې یې شتون په خوبونو کې هغسې نه وي، لکه په ویښه چې وي. راځئ، یوه بېلګه وشنو:

تاسو د خپلې زلما یا کوشنیتوب له زمانې څخه خپل نیکه پېژنئ، هغه مو لیدلی و، تاسو ته یې مینه درکړې وه. دا نیکه (الف) وګڼئ. اوس ستاسو ژوند د شپېتو کلونو شاوخوا دی او یو ګلالی لمسی لرئ، چې ډېر درباندې ګران هم دی، خپل لمسی (ب) وګڼئ. ستاسو نیکه تر دې وړاندې مړ شوی، چې تاسو واده وکړئ، دا په دې مانا چې ستاسو نیکه ستاسو لمسی لیدلی نه دی، یعنې (الف) (ب) نه پېژني. تاسو له (الف) او (ب) دواړو سره عاطفي تړون لرئ او یوه شپه خوب وینئ، چې ستاسو نیکه ستاسو لمسی له لاسه نیولی او  د غره په یوه خورا لوړه څوکه کې سره روان دي او په دغه خوب کې تاسو احساس کوئ، چې د غره څوکه ډېره سړه ده، ښایي په خوب کې مو کوشني لمسي ته اندېښنه وي، چې یخني یې ونه شي. د غره لوړه څوکه (ج) بللئ شئ. د غره لوړه څوکه د پامیر ښاخ دی، چې نه تاسو، نه ستاسو نیکه، نه ستاسو لمسي هغه لیدلې یا حتی اورېدلې ده. بس د خوب کار دی. ستاسو پینځلسم نیکه زر کاله پخوا د پامیر په ښاخ رااوښتی



www.sikaraam.com

او هلته یې یخني شوې ده، آس یې هم یخنۍ ور وژلی دی او دی په ډېره خواري تر کومې ودانۍ ژوندی رارسېدلی دی. یخني او دغه سختي (د) وګڼۍ.

( الف، ب، ج، د) ټول په یوه شېبه کې ستاسو د خوب (رؤیا) مېلمانه دي. د ویښ شعور له نظره د دوی اړیکه عقلاني نه بریښي، زمان او مکان یې بیخي سره لرې دي. خو نوې ارواپوهنه راته وایي، چې ستاسو له پینځلسم نیکه رانیولې، ستاسو تر لمسي پورې دا ټول ستاسو په قومي – جمعي ناخوداګاه کې زېرمه دي، د پامیر لوړه څوکه ستاسو په جینیتیک کې رالېږدې ده او د پینځلسم نیکه د یخنۍ کړاو هم ستاسو په لاشعور کې د یوه ګروم په توګه زېرمه شوی دی...

نه غواړم له موضوع لرې شم، ادبیات کټ مټ په همدغسې یوې لاشعوري ساحه کې راپنځیږي. ادبیات له خوبونو سره یوه نازکه پوله لري. د خوبونو او هغو تخییلاتو ترمنځ چې هنر پنځوي د یوه ویښته په اندازه واټن دی.

هغه تاریخي پېښې، چې ستاسو په چاپېریال کې پېښیږي، ستاسو (د یوه وګړي په حیث) او ستاسو د مخاطبانو (د ټولنې د غړیو په حیث) لاشعور ته ورځي او هلته زېرمه کیږي. دا پېښې که په خوب کې ځان تکرار کړي، نو تاسو یې خپل خوب (رؤیا) ګڼۍ، خو که د تخییل په مرسته مو هنري ژبه

ورته ومونده‌لـه او بیان مو کړې، نو باور ولرئ، چې هنري شهکار به مو پنځولی وي. لـه دغې ساحې څخه راپنځېدلي ادبیات مخامخ ستاسو د مخاطبانو له لاشعوري زمکې سره اړیکه مومي او د هغوی عواطف، احساس او تخییل راپاروي، ځکه خو یې اغېز او منښت خورا ځواکمن وي.

د ۱۳۷۰ لمریزې تورې لسیزې په کلونو کې د کابل د خونړیو شخړو په سلګونو ژورنالیستیک و تاریخي روایتونه خپاره شوي دي، چې یوازې د تاریخ لیکنې د مستنداتو لپاره د ارشیفونو په درد خوري. خو د اروابناد اسحاق ننګیال "سیوری" ناول به تل د دغو پېښو یو هنري – ادبي انځور راروانو نسلونو ته ورلېږدوي، راروان نسلونه به هغه حس کوي او لـه هر کابلي سره به دردیږي.

د ښاغلي اکبر کرګر دغه اثر لـه همدې اړخه ځانګړی دی. د دغه اثر د لوستلو پرمهال ستاسو ذهن د ماتو (منکسرو) کرښو په بڼه د هغو ټکیو ترمنځ په زیګزاګ بڼه خوځښت مومي، چې د حقیقي شخصیتونو، پېښو، موقعیتونو، اشیاءو او نومونو د وصل لپاره راکښل کیږي. د ښاغلي کرګر په دغه ناول کې ګورئ، چې پېښې رېښتینې دي، تاسو هم اورېدلې یا لیدلې دي. ځینې اشخاص هم پېژنئ، موقعیتونه هم یا کابل دی، یا د وطن کومه بله سیمه، خو د دوی ټولو اړیکه، تاریخي (مکاني و زماني) تړاو او

ریښتیاغوندېتوب هغسې نه دی، لکه تاسو یې چې له یوه ژورنالیستیک یا تاریخي متن څخه تمه لرئ.

کیسه څه ده؟

موږ یوه اوږده غمیزه تر شا پرېښې، بلکې لا هم په کې تر ستوني ډوب یو، عزیزان مو وژل شوي، لوږې مو زغملي، تحقیر شوي یو، کډوال شوي یو، ناروا راسره شوې ده، جفا ګانې مو لیدلې دي، ښې ورځې مو هم تجربه کړې دي، ډېر څه مو په نوستالژیو کې دردوي او ژړوي... دا ټول ورو ورو زموږ لاشعور ته تللي او هلته زېرمه شوي دي، زموږ عواطف، احساسات، ګرومونه، هیلې او غوښتنې په همدوی کې ریښې لري. کیسه لیکوال (ښاغلی کرګر) څه کوي: همدې ساحې ته ننوځي او ګوري، چې زموږ (مخاطبانو) او د ده د لاشعور په ګډه زېرمه کې یو لوی ځواک ( پوتانسیل) سره شریک دی، خپله کیسه له همدې ځایه راپیلوي او د خپل اثر لپاره تلوسه Suspense یا د تعلیق حالت، چې تاسو له کیسې سره ملګرتیا ته هڅوي، زیاتوي.

په دې کیسه کې لولئ، چې په یوه روایت کې: د عربو د خونړي لښکر د زمانې کیسه روانه ده، بیا د یوه ښار کوم مستبد پاچا د مړیو له سر په سر کولو څخه دیوال جوړوي او د عربو د خونړي لښکر په وړاندې یې دروي... دلته ستاسو ذهن خامخا هغې کیسې ته ورځې، چې د کابل د شېردروازې



www.sikaraam.com

یا اسمایی پر ډېرو د کابلشاهانو له خوا د دیوال جوړولو روایت تداعي کوي، خبره نږدې دولس یا دیارلس سوه کاله پخوانۍ ده ... د دغې تداعي راوي هغه اروا ده، چې موږ یې جسم همدا نن یا پرون خاور ته سپارلی دی، همدا اروا د نن و پرون کیسې هم کوي، د سبا پېښې هم ګوري او د هغې بلې دونیا د پېښو نکل هم راته کوي. (د ارواوو ښار) یوه تراژیدي ده، د تراژیدی ارکان باید وپېژنو، تراژیدي یوازې د انسانانو د ګډو (مشترکو) دردونو او رنځونو روایت نه دی. دا تعریف اوس زوړ شوی دی. تراژیدي په نوې فیلوسوفیکه پېژندنه کې د هغه څه (یا هغو عواملو) د را سپړلو او بربنډولو هنر دی، چې د انسان (درد و رنځ) ته استمرار ببښي.

د (تراژیدي) ریښتیونی راپېژندونکی سیدهارتها ګوتاما بودها (بودا) دی. بودا ویل: " ژوند د انسان د درد و رنځ د استمرار کیسه ده، چې له هستي سره یې غبرګه ملګرتیا روانه کړې ده."

د ګابریل ګارسیا مارکز (سل کاله یوازې) اثر به څو ځله تاسو وخندوي، دا داستان د یوه انسان د ژوند درې څلور نسله غمونه او دردونه د طنز په ژبه تکراروي، خو په حقیقت کې دا داستان یوه ژوره تراژیدي ده، چې کرکټرونه یې غواړي د یوې ایډیالې بې پروایي په زور د کومیډي رنګ ورکړي، خو نه کیږي. ژوند یعني (درد و رنځ) استمرار مومي.

د ښاغلي کرګر په دغه کيسه کې حضرت آدم ګوري، چې مار يا شيطان يې تېرباسي، هابيل ګوري، چې بيا بيا يې قابيل وژني، د ښاغلي کرګر په دې کيسه کې کابل، افغانستان او افغان انسان ګوري، چې ظلم ورسره کيږي، دا ظلم بل څوک نه، بلکې پخپله يې له ځانه سره کوي. په دې کيسه کې يو عرب جنګيالی له خپلو غبرګو تورو سره راغلی او د کابليانو سرونه ريبي، دا يو تاريخي روايت دی. د کرګر صاحب په کيسه کې کمال دا دی، چې د غبرګو تورو او د سرونو د ربېلو د تراژيدۍ استمرار بيانيږي. پر لومړني عرب چې په غبرګو تورو يې د کابليانو سرونه رېبل زيارت جوړ شوی او د هماغو کابليانو بچيان ورته پړ مخې په زاريو او دعاګانو پراته دي، چې ده وژلي دي. عرب په بېلابېلو جامو کې بيا راځي او بيا راځي، کله انګريز غوندې او کله يو بل غوندې، خو غبرګې تورې يې لاس کې دي او د کابليو سرونه ريبي، بيا يې ريبي او پسې بيا يې ريبي، کابليان نه هوښياريږي، د ليکوال لپاره کوميکه تراژيدي دا ده، چې کابليان به د هريوه لپاره بيا بيا زيارتونه جوړوي او په زاريو او ژړا به يې پښو ته پراته وي...او دا کيسه ريښتيا هم استمرار مومي. زمان او مکان توپير لري، شخصيتونه او نومونه يو له بل سره منطقي تړاو نه لري، د نن کيسه په پرون او د سلګونه کاله پخوا کيسه په نن کې تکراريږي او همدا د بشريت برخليک دی، چې پخپله يې ځان ته ټاکلی دی. کټ مټ لکه خوب چې ويني.

ځوک څه خبر؟ ښايي د خوب دونيا ريښتيني وي او دغه څه چې په رڼو سترګو وينو دا دروغجنه وي؟! ايا په دې مو فکر کړی دی؟

څه خبر ياست، چې ښاغلی ليکوال د اروااوو له ښاره د يوې ريښتينې دونيا کيسه رااوروي او موږ د تخييل په حواسو ورته غوږ يو، هرڅه ممکن دي!

کله چې فيلوسوفي او پوهه (علم) ستومانه شي، نو ادبيات مرستې ته ځان رارسوي. ادبيات همدومره ځواکمن دي، که نه يې منئ، د ښاغلي کرګر دا کيسه ولولئ او بيا له ځانه سره د ټولو هغو پېښو په اړه فکر وکړئ، چې ستاسو له ژوند څخه يې دوزخ جوړ کړی دی. د اروااوو ښار يا دوزخ په موږ کې دننه دی، غوږ شئ! غږ يې اورئ؟

دا داستان  د همدغه دوزخ يو هنري روايت دی، چې زه يې ليکوال ته د پنځولو مبارکي وايم.

درنښت

څېړنوال عبدالغفور لېوال

۱۴۰۱ لمريز د وري ۲۹مه

ل – ف



www.sikaraam.com

www.sikaraam.com

## ۱

نن درته د تسلیت پیغام استوم، تسلیت په دې خاطر چې تاسو مې په وروستۍ پېښه ډېر وځورولئ. تاسو وځورېدلئ؛ خو زه ډېر ارام یم، زه ارام شوم له یو دایمي او د کلونو له عذابه په ارام شوم. ځکه ژوند له کړاو سره مل دی. د سرو سکروټو بار دی چې انسان یې په اوږو وړي. البته! تاسو به زما په دې پیغام اوس باور وکړئ او زما وینا خو اورمرو ومنئ چې دا مهال زما ارواح ارامه ده، د چا خبره د ارامۍ ساه اخلي. نن د جمعې شپه ده، اومه ورځ ده. تاسو پوهېږئ چې د کایناتو بشپړتیا په همدې ورځ شوې وه، دلته د ارواحو د دمې او استراحت قلمرو دی. دا زما د ارواح حکم او خبره نه ده؛ بلکې له لویو اوامرو څخه ګنډل کېږي. له همدې کبله ارواح مې د ارواحو له ښاره تاسو ته ډاډینه او د زړونو صبر غواړي. دا هم درته زغم غواړي چې اوس له تاسو راجلا شوې ده. نوې دونیا ته ته راغلې ده. هماغه شان چې هلته وه، دلته هم سرګرداني ده، هلته به کله ناکله لمر را وبرېښیده؛ خو دلته شپه او ورځ وریځ ده. که رښتیا درته ووایم شپه او ورځ نه برېښي، توپیر یې نه کېږي، ویل کېږي چې زمان نور خپل ځای خالي کړی دی خو ارامه ارامي شته. نه هغه کسان شته چې څوک په قمچینو ووهي او نه هغه کسان شته چې په مرمیو او باروتو د سهي غوښې او هډوکي هوا ته جګ کړي.

دلته څوک په چا غرض نه کوي. په لومړۍ شپه دوه کسه چې اوږدې داړې او لکه د آس اوږده مخونه یې درلودل، راغلل ارواح مې ورپورته شوه، سلام یې واچاوه، هغوی سلام وانخیست، یوازې په سر یې اشاره وکړه. هغوی چې لښتې



www.sikaraam.com

يې په لاس کې وې، د کبر او غرور حد يې نه و، خو خبرې يې ځارويو ته پاتې کېدې. د خدای شان دی، هغه چې بدرنګ او ناوړه عذاب خلکو ته ورکوي، خدای پاک داسې موجودات هم بدرنګ پيدا کوي. دوی يې يوه ښه بېلګه وه. بيا يې نور سوال و جواب وکړ. سوال و جواب يې هم بې خونده وو، نه خو زما له شان سره برابر و او نه د بل چا. خو دوی خپلې اپلتې ويلې. ما ورته غوږ نيولی و. ما ته د دوی چوپتيا د خپل ژوند د وروستيو کلونو ګاونډيان را ياد کړل.

خو سره له دې چې هغه مهال به مې له يوې خوا ارواح د ګاونډيانو له چلند سره بوخته وه، له بلې خوا مې ارواح هم راته هغه مهال د انګليسي فيلسوف **توماس هابس** د کتاب پر سر کې يوې جملې په بنګارې تکراروله، لکه چې د مچانو په ژبه يې راته هجا کوي:

«افسوس په ژونديو

افسوس په مړو شويو

او خوښي هغو ته ده، چې نه خو اصلاً ژوندي شول او نه يې د مړه کېدو اړتيا پيدا شوه.»

دلته مې هم ارواح همدا جملې له ځانه سره زنګوي، ټالۍ وهي؛ خو رښتيا د ګاونډيانو خبره مې کوله.

کله چې به له کوره راووتل. شين سهار به و، ما به سلام واچاوه، خو هغوی به سلام نه اخيست، يوازې د سر اشاره به يې کوله، د ځينو ګاونډيانو سرونه به هم ډېر غټ و، ما ته به انديښنه شوه چې سر ترې کښته په سرک تول نه شي؛ خو



www.sikaraam.com

هغه ګاونډي چې په سپي کې به يې پړی اچولی و، کله به سپي ترې دمخه شو او کله به هغه تر سپي دمخه شو. دواړه به داسې روان وو، لکه د يو قوم ملکان چې کومې د ستورې ته په لاره درومي. د سلام په وړاندې به يې غبږ غوږ نه ختلو، خو زما بل ګاونډی بيا نورې ستونزې درلودې.

هغه بيا داسې و چې هېڅکله مې د خپل کور له دروازې بهر نه ليده، يوازې په نيمه شپه به يې د چرسو او سيګرټو لوګي زما د کوټې په کړکۍ راننوتل. ما به پرته له دې چې يو څو بدې ردې ووايم، بله چاره مې نه درلوده؛ خو چې خبرې به يې پيل کړې؛ نو داسې لکه کسټ چې په ټيپ ريکارډر کې چالان کړې، پرله پسې به ګړېده، کيسه يې نه خلاصېده.

خو دلته چې مې روح له کالبده جلا او د شاهپرک په څېر الوځي، ګاونډيان نشته. کله مې په نظر يوه لويه دښته راشي، چې سر او پای يې نه معلومېږي، وچه دښته وي او کله چې يوه تنګه کوټه چې نفس په کې نه ويستل کېږي، ځان ويني؛ خو رښتيا خبره دا ده چې د دې يوې اوونۍ په موده کې هره شېبه په دې خيال وي، چې تاسو ته ليک در واستوي. په تېره د ژوند ملګري ته چې کله همدا روح له تنه جلا کېده، نو هغې په خپل مخ راکښودل، ډېرې چيغې او فرياد يې وکړ. د ژوند ملګرې مي ځکه ووېلې، چې کله ژوندی وم او په خپل کار روزګار بوخت وم، فعال به وم نو هغه به هم لکه زما د لاس امسا داسې وه؛ خو اوس چې ما ژوند پرېښی دی او د ژوند په نامه څه نه پېژنم، هغه په هماغه پخواني نامه يادوم.

په هماغه شېبه چې د جسم له زندانه راجلا کېدلم، لکه چې يو مهال د څرخي پله د زندان له يوې لوېې دروازې راوتلم، نو نورې ارواحوې مې ليدلې، هغوی



www.sikaraam.com

ما ته په تمه وې، د مور ارواح، د پلار ارواح او د نورو تلليو يارانو ارواح. د هغوی په اکر کې خپګان او خوښي نه بريښېده. بې توپيره و، يوازې د مور شونډې رپيدلې، لکه چې تل يې ما ته دوعاوې کولې، د پلار ارواح مې هم ليده چې حېرانه ولاړه ده. لکه په ژوندني چې به يې زما را تلونکي ته سوچ کاوه. حيران و، خو زه د جسم له زندانه را جلا شوم.

نو زه دا ليک تاسو ټولو ته چې د ځمکې پر سر لا ساه باسئ ليکم. خو کله چې مې په ليک پيل وکړ، تېرې اوږدې ترخې او خوږې خاطرې مې بيا د ذهن په اوږده واټ کې قطار ودرېدې. يوه يوه رامخته کېدله او راته ويل يې چې زما يادونه ولې نه کوې؟

خو زه مې ځينو يادونو او خاطرو ته خطاب کوم، وايم چې ولې خلک وځوروم. چې«تېر شول، هېر شول». اوس يې د يادولو وخت نه دی، دا يادونه ځورونکي دي. خو بيا هم که هر څومره هڅه وکړم چې له خپلې مخې او د ذهن له دروازې يې وشړم، بيا هم په پوره سپين سترګۍ زما د ذهن په دروازه کې د پخوانيو ملنګانو په څېر له خپل کند او کچکول سره ولاړ وي. سم دم را ننوځي او راته وايي: ياد دې دي چې ډېر زلمي وې، د راتلونکي فکر درسره لږ و، د دې ورځې په باب خو هېڅ شی ستا په ذهن کې نه ګرځېدل.

يوه بله ارواح وايي: زه او ته سره د عجيبو اوغريبو لارو په اوږدو کې يوځای شو. په لاره مو مزل پيل کړ. مزل ډېر اوږد و، لاره هم ډېره ناهمواره وه، کله به زما پښه له ډبرې سره ولګېده او تيندک به مې وخوړ، کله به ته په مارکونډيو او غنو وختې، بيا به کښېناستې، يوه يوه مارکونډۍ به دې له پښې ويستله. وينو به لارې وکړې، زما به هم ځان ته پام نه و، زما له پښو به هم وينې بهېدلې. ځانته



www.sikaraam.com

به مې هېڅ فکر نه وو، داسې به مې انګېرل چې ګویا وینې په لار کې بهیدلې وې او پرتې وې، خو داسې نه وه. وینې زما له پښو او د پښو له تلو راوتلې، سترګې به مې سرې وې. تاسو ته به مې فکر شو، ستا به هم دا حال و. ډېر کلونه په همدې کې تېر شول، زه او ته د نن ورځې په څېر دوه په دوه و، بېرته دوه په دوه پاتې شو، خو نن د سفر د پیل د ورځې نه دمخه په څېر بیا هم ته یوازې شوې. زه درنه راغلم او ته خپه پاتې شوې، ستوني مو پړسېدلي و، مخونه مو پړسېدلي و، ژبې مو وچې وې؛ خو زه درته یوه رښتینې خبره کوم:

«یوه رښتینې خبره خو دا ده چې زما مرګ او پناه کېدو ته اندېښنه مه کوه. پناه کېدل په بل ډول د ژوندانه ادامه ده. انسان چې پیدا شي، له هماغې اولې ورځې ورسره د هغه پناه کېدنګ ملګرى وي. ډېر ترې ډارېږي. زه هم ډارېدم؛ خو اوس درته وایم چې د ډار خبره نه ده. ولې او د څه لپاره؟»

رښتینې خبره دا چې زما سختي او اندېښنه تر همغه ساعته او شېبو پورې وه چې زه مې له تنه راجلا شوم، کالبد مې پرېښود او ما پرواز وکړ. زه له پولې را وا وښتلم. زما ټوله ستونزه تر هماغه پولې پورې وه. زما جسم زما په ولو بار و. زه اوس راحت یم، دا داسې پوله وه لکه یو کډوال یا مسافر چې په خپل وطن کې په تنګ شي، کار روزګار ورته نه وي. د خپل اولاد ډوډۍ او کالیو ته حیران وي. تعلیم خو څه کوې، هغه خو لوکس او سینګاري شی دی. نو بیا لویې لارې ونیسي، له خپل کلي کوره را ووځي، هدیره او دېره پرېږدي. مور یې په دروازه کې قرآن ورته پر سر ونیسي. د اوبو یوه کاسه ورپسې وشیندي. یو ملک ته داخل شي. هلته یا ښه ووهل شي، وټکول شي او یا خو یې په اوبو کې ډوب کړي یا یې ژوندی وسېځي او بیا بل ملک ته ننووځي. هلته له سپیو سره په جنګ واچول شي. له ایران او تورانه را تیر او مغربي ملکونو ته راشي. ترکیه



www.sikaraam.com

شا ته پرېږدي، د يونان له کمپونو نه راوتښتي او بيا د فرانس کلاي (سرحدي ځنګل سيمه کې دکډوالو پنډغالی ) ته راشي، جرمني او يا نورو ملکونو ته راشي. زه هم داسې شوم، زه له هغه سرحد نه راتېر شوم. دا ټول د ژوند سرحدونه وو، ما کراس کړل؛ نو ځکه زه راحت يم. دلته زه د ډوډۍ پيدا کولو په فکر کې نه يم. زما يوازې ستاسو ژړا او انګولا باندې انديښنه ده. تاسو د دې بيغمه تم ځای نه خبر نه ياست. مرګ کومه غيرطبيعي پېښه نه ده. سکون دی، ارامي ده، سکوت او بېغمي ده؛ خو اوس خبرېږم چې دغلته ورځ په ورځ هديري پراخېږي، ځمکې خپله خوله پرانيستي ده. هر څه تر کومې تېروي، لومړي يې د ازادۍ په نامه يې يوه پيغله تر کومې تېره کړه. اوس يو يو رانيسي او ساه يې باسي.

فرض کړئ چې زه اوس، د ځمکې د سر يوه بېلګه به درته ياده کړم. په دې مانا چې فکر وکړئ چې زه اوس له يونان او صربستان نه اوښتی يم. لوېديځ ته رسېدلي يم، دلته دا ځای لکه يو شين سمندر داسې دی، چې په کې ننووتي يا غوپه شوي نو بس غوپه شوې، زه هم غوپه شوم. اوس له ما سره د هېڅ شي انديښنه نشته او نه يې کوم، دا ځکه چې زه په يوه بله دونيا کې يم. زه په يوه لوی سمندر کې غوپه يم. د ځمکې پر سر څو شپې زما د عبث ژوند شپې وې او تېرې شوې.

***

زما د سفر زمان اپوټه شان دی. دلته د شپو ورځو او مياشتو حساب نشته. خو د روح د سفر يا د دې ابدي سفر اوومه ورځ ده. اوه ورځې د مخه چې زه مې له جسم نه جلا کېدم. په هماغه ورځ له تاسو هم جلا شوم. ما خو د خپلو اوږو

بار لیرې وغورځاوه. تاسو ډېرې چیغې او کوکارې ووهلې. له ما سره دا مجال نه وو چې درته ووایم ولې او د څه لپاره؟

نن سهار مې د دښتې په لور سترګې وغړولې. دښته په شنو واښو فرش وه. د سهار لړې ورو ورو د ځمکې له سره پورته کېدلې. دلته لمر نه راخېژي. چنچڼو شور او ځوږ جوړ کړی و. روح ته مې هغه ماشومتوب سترګو ته ودرېد چې سهار به دېري ته ووتلو، هلته به هم داسې د مرغانو شور و. دلته مرغان او چنچڼې نشته؛ بلکې هاغه پخوانی یاد ورته راغبرګېږي، دلته دا اسمان ستوري هم نه لري، بنیادمان هم نشته، هېڅوک نه وي، خو د بنیادمانو اسویلي او اهونه په فضا کې وریځ جوړوي. د بنیادمانو د تنو بوی سپېرمو ته راځي. کله ناکله خو د ځمکې فریادونه هم اورم، چې د ځینو کسانو له اجسادو کانګې کوي؛ خو ځمکه بېوزلې هم چاره نه لري.

تاسې مه خپه کېږئ. روح په همداسې یو حالت کې دی، خوښ دی چې له پولې راتېر شوی دی. د ژوند یا حیات له سرحده اوښتی دی او یوې بلې دونیا ته راغلی دی. دا هم له ځانه سره په تکرار وایي چې ژوند نور پای ته ورسید. د ځمکې پر سر په هماغه قلمرو کې چې ژوندي به ګرځېدل، ګونګوسي اورېدل کېدل چې نږدې ده د ځمکې د سر او د پناه او مرګ د نړیو پوله ړنګه شي، ځینې خو وایي چې پوله په ړنګېدو ده؛ خو هر څوک یې نهویني.

پرون یو څوک راغی، زما ځای ته رانږدې شو. څېره یې نه لیدل کېده، یوازې د هغه سیوري خبرې کولې. راته یې وویل اوس خو پوه شوې چې یوازې یاست. په اول سر کې هم یوازې وې، اوس هم یوازې یاست، انسان یوازې وي.



www.sikaraam.com

روح د خبرو مجال نه درلود. بیا یې یو تصویر راوښود. هلته چې په ګاډي کې سپور وم. څو نور کسان هم وو، د یوه جوړه کالیو غوټه مې په لاس کې وه. توره خړه وه چې له کوره را ووتلم، په اسمان کې لا ستوري معلومېدل چې ګاډي په یو نامعلوم لوري حرکت کاوه. زه هم پکې سپور یم. څو کسه نور هم شته، دوه مېرمني هم دي، یوه نسبتاً ځوانه او یوه زړه بوډۍ ده. ځوانکي هلک چې له اوربل نه یې تېل څاڅي، په بوډۍ ملنډې وهي. وایي زه خو په خپل برخلیک پسې ځم. موږ په خپل برخلیک پسې روان یو. دې بوډۍ ته ګوره! دې خو د خپل برخلیک ټوله برخه خوړلې ده او داسې یې ژوولې، چې ان غاښونه یې هم پکې له لاسه ورکړي دي. بل تن یې چوپ کوي، وایي په بوډۍ مه لګیږه. هغه چوپ کیږي؛ خو دومره وایي، بوډۍ د ژوندو برخه خوري. بیا په کټ کټ خاندي، بل ورته وایي، ژوند څومره د ملنډو جوګه کلمه؟

ګاډی په نامعلوم لور حرکت کوي. موخه او هدف یې معلوم نه دی چې چېرته درومي. کېدای شي د ډرایور به سر خلاص وي. همدا ګاډی بیا په یو بل څه بدلیږي او یوې بلې دونیا ته مو لیږدوي. اوس له هماغه ځایه هم رالیرل شوی یم. دې دونیا ته راغلی یم، دلته هېڅوک نشته یوازې ارواح کښته پورته کیږي. هر یو ما ته برندې او په ځیر ګوري. څه نه وایي؛ خو هر یو ګوښی او یو له بل سره خبرې نه کوي.

تاسو ته روښانه کوم چې ما د نن ورځې یوازیتوب دمخه وختونو ته بیایي. هغه مهال چې روح له هر څه راجلا شو، حیران و، د نن په باب یې فکر نه کاوه. له تېر مهال سره یې هم فکر شلېدلی و. یوازې په هماغه حاضر مهال کې و. له یوه چا سره په یوه ځای کې اوسیده. هغه هم یوازې و. ټوله شپه به له یو چا سره په خبرو بوخت و. د کوټې له مخې یې څوک نه شول تېرېدای. دا ځکه چې



www.sikaraam.com

ساتت په ساتت به يې سيګرټ څکل. لوګو به ټول تنګ د هليز او کوټې نيولې وې. د بيرو کارتنونه به يې هم تشول. هغه مهال به هم يوازې ووم؛ خو چې کله به په لاره يوازې تللم، نو فکر به له تاسې سره يوځای و. روح به يوازې په لار روان وو. خو د سوچ او اندېښني په لحاظ به له تاسو سره مشغول وو. نن دا کار نه شي کېدای. د فکر تنابونه اوس له ماضي سره شلېدلي دي. په مستقبل کې هم لنګر نه اچوي.

خو روح د هغه ګاونډي په څېر نه و، زما خبرې ډېرې دي. د نورو خبرو د ويلو لپاره به بل وخت ته حاضرېږي. اوس همدومره بس دی. زه له تاسو راجلا شوی يم. تاسو د خپل ژوندانه –که ژوند ورته وواي – بار ته اوږه ورکړئ. ما ترې اوږې سپکې کړي دي. يوازې هغه څوک چې زما په نشتون کې يوازې پاتې کېږي، ورته تسليت او د زړه صبر غواړم. روح اوس په خم کې غوپه دی، ورځ په ورځ او شېبه په شېبه خپل هويت او خپل شناخت له لاسه ورکوي. د مرګ لار حقه ده په واقعيت کې د ژوند دوام دې خو په بله بڼه.



www.sikaraam.com

۲

دلته د تکرار اړتیا نشته، زه پوهېږم چې تاسو زما په جلاوالي خپه شواست، ډېر خپه شواست، روح مې خپل لید ستاسو په څېرو مښلولی و، ښه درته ځیر و. هغه پوه شو چې له تاسو سره د ژوند او حیات مینه دومره ژوره ده چې هېڅ بل بدیل لکه مړینه ورته د منلو وړ نه شي کېدای. ستاسو په څېرو کې یو دروند غم لوستل کېده. داسې برېښېده لکه د غم په نامه یوه لویه خیمه پلنه وي او تاسو په کې دننه ناست یاست، ساړه ساړه اسویلي مو له خولو را ووځي، غم کله د یو بوډا په څېره کې او کله د یوه ملا په څېره کې ګرد تاوېږي او خپل اوراد زمزمه کوي. روح ستاسو د احساس شاهد و چې په ورځني ژوند کې مو د هغه په باب هېڅ فکر نه کاوه. زما په تن کې سترګې پټې شوې، یو څوک را غی، رانږدې شو، زما له زنې یې یوه سپینه چروړۍ تاو کړه. زما سترګې کلکې پټې شوې. د دود دستور په پام کې نیولو سره سم له تاسو را جلا شوم. له کوره راوویستل شوم. یو ځای ته یې راوړلم چې پراخه دښته وه. لویه کنده یې ویستلي وه. یو څوک له یو بل تن سره پسېده او دا روایت یې کاوه:

«کله قابیل پاڅېده هابیل یې وواژه، نو بیا په هماغه ورځ یو کارغه پیدا شو، ځمکې ته راکوز شو، په مښوکه یې ځمکه وکیندله او بیا یې هابیل په کې کېښود. خاورې یې پرې واړولې، کارغه یا زاغ له ځایه والوت.» نو ځکه له هماغه ورځې راهیسې هر څوک چې د چا خبره پور پرې کړي، یعنې روح او ساه یې له تنه جلا شي نو بېرته خاورو ته چې د«مور د غېږې او ګېډې» په څېر ده، ورځي. دا ځکه چې په انسان کې یو روح وي چې باید بېرته خپل مالک ته وسپارل شي. دا دود له هماغه ورځې راپاتې دی. هغه مهال څو محدود



www.sikaraam.com

کسان نور هم را ټول شوي و، يو له بل سره پسېدل، خو له څخه د رخصت اخيستو شېبه وه.

بالاخره يې زما په جسد خاورې واړولې. له خاورو اړولو نه وروسته يو د سپينو کاليو خاوند چې د پرښتو(!) اکټ يې کاوه، اوږده ږيره يې پر مخ ځوړنده وه. اوږدې تسبيح يې په لاس کې وې، هرې تسبيح دانې د اړولو په مهال مرميو ته ورته ټکار کاوه. زما د کوزې شناختې خوا کې ودريد، د څو آيتونو له قرايت نه وروسته يې ستونې صاف کړ. داسې برېښېده چې ستونې يې کوم تکليف هم درلوده. په خبرو يې پيل وکړ.

«ديندارو ايماندارو مومنانو! دا بنيادم، که انسان ورته ووايم چې دلته اوس پروت دی، (قبر ته گوته نيسي) نن يې له موږ او تاسو رخصت واخيست، يو نوی دور يې پيل کړ. دا دور د هغه لپاره د حساب او کتاب دور دی. هغه به حساب ورکړي. يوازې دی ابدي شو. روح يې له بدنه جلا شو، روح به يې په دې دونيا کې له موږ او تاسو سره چې موږ به يې نه وينو موجود وي. هر ماښام به د خپلې هستوگنې دروازې ته درېږي، که څوک دوعا کوي، خوښ به شي، اوستون به شي. خو که د چا هېر وې؛ نو بيا خو به ارواح خپه شي.

اړينه ده چې ووايم: که ده ايمان تېر کړي وي، راساً به جنت ته درومي. زه بايد تاسو ته ووايم چې د دوزخ شپې او شېبې ډېرې گرانې دي. دوزخ لکه د دې دونيا پر سر ژوند. موږ به د جنت خبره پرېږدو. موږ به د هغه څه خبره را واخلو چې موږ لپاره جوړ شوی او يا موږ د هغه لپاره رامنځته شوي يو.

ايماندارو!



www.sikaraam.com

تاسو پوهېږي چې د دوزخ په باب هر ځاې او هر ديني عالم خبرې کوي. هر څوک مشر يا لارښود چې ودرېږي او يا ورته د نصيحت موقع پيدا شي، د دوزخ وېره او ترهه خپروي. دا د دې لپاره چې خلکو ته يا بنيادمانو ته وښيي چې بايد سمې لارې ته برابر شي.»

هغه انګېري چې د وېرې او ترهې خپرول د چا خبره سمې لارې ته د برابرولو تګ لاره ده. خو داسې نه ده. وېره او ترهه غضب زېږوي، ځکه خو دوزخ ځمکې لاندې دونيا او يا له فاني دونيا ښارونو ته راغلی دی.

خو هغه خپلو خبرو ته دوام ورکوي وايي:

«زه به دلته د دوزخې ژوندانه څو بېلګې تاسو ته ووايم. »

د سپينو کاليو خاوند چې د درون (دننه) رنګ يې سپين نه و، په خبرو خبرو کې وويل: «زه د دې پر ځای چې خبرې وکړم، زه تاسو ته څو انځورونه درښيم، دا انځورونه تاسو ته د دوزخ تمثيل کوي.»

د سپينو کاليو ځښتن د خپلې چپنې يا قبا نه يو تصوير راباسي، تصوير حرکت کوي. خوځنده دی. يو مور نغري ته ناسته ده، يو څه پخوي، ځمځې په ديګ کې تاووي، بيا چايجوش رااخلي او بيا په ديګ کې اوبه اچوي. خو ناڅاپه پرې غږ کېږي. وايي: «مورې، راووځه ورور مې راغي.»

مور پاڅېږي. په منډه دروازې ته ورځي، ګوري چې درې څلور تنو يو کټ په اوږه کړی، د کور مخې ته را روان دی، هغه شهيد شوی دی، دوه مياشتې تر مخه يې واده کړي و، سرتېرې و، د يوه جګ غره پر سر يې پوسته وه په اوږده جنګ کې چې تر سهاره ډزېدلی و، مرمۍ يې خلاصې کړې وې. بالاخره د



www.sikaraam.com

دوښمن په مرمیو غلبېل شوي و، جنازه يې کور ته ورغلله، مور چې يې دا حال ويني، خپل اکر او خپل هر څه له لاسه ورکوي. د جنازې په ليدلو په ځمکه لوېږي. بېرته نه را پورته کېږي. خو ځوانه ناوې يې لاسونه پر مخ ږدي او د ژوند د راتلونکي په لور چې سترګې پرانيزي، يو توره سمڅه ويني، د شهيد ښتن جنازه د زلمي د مور له جنازې سره غبرګېږي. په خوار او بېوزلي کور او جونګړې د غم وربځې پلنېږي. دردونه پنځېږي. نو دا هم د دوزخ يو انځور دی چې د سپينو کاليو خاوند يې د قبر پر سر له خپل تخرګ نه راباسي او ټولو ته يې ورښيي.

هغه يو بل انځور له خپل تخرګ نه راباسي، خلك ځان ته مخاطب کوي وايي وګورئ دا يې هم بله بېلګه ده، داسې بېلګې بېخي ډېرې دي. انځور هم د دوزخي ژوندانه بل انځور دي.

هلته په انځور کې يو بل بوډا په ملا کړوپ شوی دی. ملا يې کلکه په څادر تړلې ده، نوې خپل پټې کې له کاره راوتلی دی. ګوري چې د دوه زامنو جنازې يې د کور پر مخ را روانې دي. هغه دا پېښه ګوري. د هغه ملا نوره هم کړوپېږي. د زامنو غم يې نور هم کوچنی کوي، په ځمکه ورو ورو د هغه څېره ورکېږي. په ايره بدلېږي. د سپينو کاليو خاوند وايي دا هم د دوزخ يو بل انځور دی. کله چې ځوانان وژل کېږي، نو دوزخ له دې بل څه دی؟

له مړستونه وړاندې هلته په کوڅه کې يو سوداګر ورروان دی، هلکان او نوي زلموټکي ټولی ټولی د ديوالونو چنو ته يا دېوالونو ته تکيه ولاړ دي. سوداګر چې دروند خورجين يې څنګ ته اچولي دی، په خورجين يې ډېرې ليکې هم برېښي، په غټو تورو پرې کښلي دي. «ديموکراسي، بشري حقونه، د ښځو



www.sikaraam.com

ازادي او داسې نور...» خو په لار کوږ روان دی. هر یو هلک چې ورنږدې کېږي، هغه ته یو څه په لاس کې ږدي. ورته وايي دا ژر خولې ته واچوي، عجب خوند کوي، هغه د کوڅې بر سر ته رسېږي، هلته درېږي، شېبې وروسته په بل انځور کې ټول ځوانان په خیرنو کالیو کې په کوڅو کې پریووځي. په خاورو کې رغړي. ببر سرونه پرېووځي، هر یو له ځانه یو څادر تاو پروت وي. د سګرتو او نورو شیانو تروه او ترخه بویونه ترې راپورته کېږي.

دا سړی بنجاره دی. له ورایه ګوري. نه یوازې یوه کوڅه بلکې د ښار ټولې کوڅې له زلمیو ډکېږي، ټول په خاورو کې رغړي. د یوې مړی ډوډې لپاره نورو لارویو ته لاس اوږدوي.

لاروي ورته وايي: «ولې کارونه نه کوي؟ د څه لپاره په کوڅو کې پراته یاست؟ لاړ شئ کار وکړئ». خو ببرسري او خیرن هلکان ورته خوله چینګوي، یو ورته په زنګېدلي اواز ورغبرګوي: «راشه که ته په دې حال کې شوې، نو بیا خو به له ځایه هم ونه خوځېږې.»

بنجاره په انځور کې له ورایه همدې صحنې ته ځیر دی. په دقت یې څاري، له ځان سره وايي. ما خپل کار وکړ. زما پروګرام د عمل جامه واغوسته. دا نسل نور په ختمېدو دی. دا نسل چې ختم شي، نو په واقعیت کې د دې ښار د کوڅو مالکان ختمېږي. مرګ به راج چلوي او مرګ یعنې «زه پخپله!». دا زما یو بل نوم دی.

بنجاره له ځانه سره وايي: «لږ وخت پاتې دی، چې د ښار ټول وګړي نشه شي. په خاورو کې ورغړي. خپله ماضي هېره کړي، چې بیا ونه وايي: موږ هم اوږده ماضي درلوده. له دوی باید ماضي او مستقبل دواړه هېر شي، یوازې په حال



www.sikaraam.com

زمان کې ژوند وکړي. نو دوی چې کله ځان هېر کړي، د ځان او خودۍ معرفت له لاسه ورکړي، د خپلو ماضي شتو او شتمنيو نه هم ناخبره کېږي، بيا هماغه مهال دی چې «مرگ» پر دوی بادشاهي کولای شي. دوی چې اوس د تقدير په لومو کې گير پراته دي. په خاورو کې رغړي او ببر سرونه يې نيولي او پراته دي. پر هماغه لار رهي دي چې بنجاره ورته جوړه کړې ده.»

بنجاره سوداگر چې له ليري ملکونو او د سمندرونو له اخوا غاړو دلته راغلي، خورجين په اوږه ټينگوي. يو بل قطار گوري، چې په وستلونو او کوڅو کې راروان دی، ورته گوري، د دې قطار وگړي چې پر لار روان دي، هغوی پښې پورته نيولي او پر سرونو باندې حرکت کوي. بنجاره له ځانه سره وايي:

«دا هم زما کرشمې او کوډې دي چې ومې کړي، ما داسې درمل دوی ته نه دي ورکړي چې په پښو ولاړ شي. دا دی زما د درملو اغېز.»

نو بيا له ځانه سره بنگېږي. «دوزخ نوڅه وي؟ د ځمکي لاندې دوزخ اوس د ځمکې سر ته راغلی، دا ښه ده چې همدلته يې نطاره وکړو.»

د سپينو کاليو خاوند تابلوگانې په تخرگ کې منډې، مخامخ لمر د اسمان منځ ته راغلی دی. د دښتې په ليرې څنډه کي شپانه رمه پووي. د پسونو رمباړې او چيغې پورته دي. خو د سپينو جامو خاوند وايي: «تاسو پسونه هسې رمباړې وهئ، اوس تاسو څوک قرباني ته نه بيايي، د قربانيو لپاره د دې ښار وگړي قطار ولاړ دي، يو له بل نه مخکې کېږي.» هلته ليرې د شپانه د هلللله اواز اورېده شي. پسونه اووزي رمباړي وهي. د شپانه سور خه‌ل دلنډې پرې شوې لکۍ خاوند سپی سترگې له ليرې د سپينو جامو په خاوند لگېږي، داسې



www.sikaraam.com

معلومېږي چې سپي کوم ځناور ليدلی دی. خپل کوم رقيب يې ليدلی دی او د خپل ځان د ساتني په پار ورته غاپي.

۳

کله چې د سپينو جامو خاوند او نور وګړي زما له راوړلو او سپارلو وروسته رخصت شول. اوس د ځمکې د سر له پيسو څه نه لرم. نه د شپانه اواز او نه د پسونو رمباړې او نه هم د سپي غپا چې د سپينو کاليو د خاوند د قلقلو سره به يو ځاې کېده او نااشنا موزيک به يې جوړاوه. هغوی رخصت شول، زه يوازې پرېوتم.

نن چې د جمعې شپه ده، په سپېڅلو کتابونو کې راغلي چې ورځې او شپې خو ټولې د الله رحمت او سوغات دي، د زمان او مکان مالک هماغه دی؛ خو د جمعې شپه مبارکه په دې ده چې د کايناتو جوړښت په کې بشپړ شوې دی، نو ځکه دا خپل تبرک لري. زه په همداسې يو مهال او يو مکان کې ځای پرځای يم، دا مکان هم ډېر ستر او پراخ او هم له دوه مترو يا څو ګزو نه زيات نه دی. زه خو نفس ايستلو ته هم اړه نه لرم، له خوراک او څښاک نه هم بې نيازه يم. زه يو لوګی يم، يو سيوري يم يا په يوه وږمه او څپه بدل شوی يم. هغه احساس چې له تاسې سره مې په ژوند کې درلود، اوس يې نه لرم، کېدای شي همدا سبب به وي چې ځان ارام احساسوم، يوازې يوه ارواح يم. د يوه لوګي او يوې نرۍ وږمې په توګه. يوه شېبه ترمخه مې همدې حالت رامخې ته کړل، لکه په ژوند کې چې به چا راته په غوږ کې وځڅول، چې يو څوک هلته په



www.sikaraam.com

لوی مړستون کې خوځېږي او ستا په مرقد باندې شمعې بلوي، څراغونه بړدي، رڼا پنځوي.

ما ویل د څه لپاره؟

ویې ویل: «زه هم پوه نه شوم؛ خو کله کله له ځینو قبرونو څخه باندې خلک راځي او رڼا پرې روښانوي، نو دا به هم د تبرک لپاره وي.»

هغه په مرقدونو باندې رڼا او یا څراغ بلوي. اصلاً دوی په کورونو کې د رڼا او روښنایۍ سره مخالفت کوي، هلته یې مخنیوی کوي، د ژوند په ځایونو کې یې مخه نیسي.

کاش دوی دغه رڼاګانې او شمعې د ژوند په ځایونو کې لګولې وای. دوی راځي په مرقدونو او مړستونونو کې روښنایي ګاني بلوي. دوی هلته رڼا نه پنځوي، دوې یې د قبرونو پر سر بړدي. هغوی په دې چم غواړي، چې ټول زیست او ژوند پای ومومي، تورتم راولي یا تورتم پلن کړي؛ نو بیا به روښنایي پلنه کړي. د قبرونو له پاسه رڼا د قبرونو منځ ته نه لوېږي او نه ورته اړتیا شته. د د مانا دا هم کېدای شي چې که رڼا په یوه کوټه کې وي؛ خو هغه هماغه څوک رڼا ګوري، شمع ګوري، څراغ ګوري چې د هغه په شاوخوا کې وي، خو د هغه د وجود په دننه کې د هغه په روح او روان کې نه وي، بلکې تورتم وي. دروني تورتم د ډېرو بلاګانو مور ده. همدا تورتم دی، چې هره شېبه له تنونو بهر کېږي او د «سپېڅلتوب» په نامه د انسانانو ژوند پای ته رسوي. ساه ګانې اخلي، ارواحوې الوځوي، جسدونه د سړکونو په سر پاتې کېږي، په کورونو کې سیځل کېږي، په دښتو کې بویونه کوي. دا ځکه چې د هغه تورتم قربانیان دي، چې د وجودونو او تنونو څخه را ووځي .



www.sikaraam.com

دا هغه تورتم دی چې له وجودونو او تنونو را بهر کېږي، د «تقدس» په نامه د «الله اکبر» له نامه سره بدرگه کېږي، یو ځوان زلمی په ډېرو ولي او د بدوي بشریت د ناکردو په دود یې وژني.

یوه نجلۍ په عام محضر کي دروي، په لښتو یې وهي، خپلې کړنې ته د «سپېڅلتوب» جامه وراغوندي.

یوه مېرمن حلالېږي، د وجود پوټکي یې باسل کېږي، چې ونه پیژندل شي.

یوه ورځ مې د ځمکې پر سر د یو ماشوم انځور لیده، چې په یو دېوال ځړېدلی و. ماشوم په ډېرو پروت و، د خلکو څپلۍ او بوټان یې رنګول، په کار او رنګولو هم ستړی شوی و. سر یې په ډبره ایښی و. د وچې ډوډۍ کوچنۍ چنډه یې په مخ کې پرته وه. سر یې ببر او پښې یې چاودلې او لوڅې وې. خو د نورو د پښو بوټان او څپلیو د رنګ لپاره له کوره راوتلی و. په ځمکه ستړی ستومانه پروت و. دوه کسان په لاره روان هغه ته را ورسېدل. دواړو کسانو په خپل اوږود او د خپل درون په دونیا کې د تورتم یو دروند بار لېږداوه. ښه مست روان و. هلك یې له خوبه راویښ کړ. خپلې څپلۍ یې هغه ته د رنګ لپاره ورګوزار کړې، په خپلو منځو کې یې د یو بل سره د خپلو ستړیاوو او له دروند پېټو له وړلو شکایت کاوه. بل ملګري یې هم ورته او همدا شان حال وایه. له هغو سره دومره څه نه وو، یوازې تورتم و. د هغو په روح اوروان کې تورتم، لکه د یوه غره په اندازه تورتم. نو خبره دا ده چې هغوی چې زما په مرقد څراغ لګولی دی، کاش دا څراغ یې په خپل تن کې لګولی وای. کاش دا څراغونه یې د خپل تن په دننه دهلېزونو کې لګولي وای، لږ څه به یې خپله لاره لیدلې وای .



www.sikaraam.com

خو نه داسی نه ده! دلته په دې چم باندې د «تقدير» باچا حکومت کوي، د تقدير باچا ډېر ځواکمن دی، هغه غواړي چې همدا شان د روښنايۍ پرځای تورتم وپنځيږي او د تورتم په پنځېدو سره بيا رڼا وپنځوي، دا به داسې مهال وي چې د رڼا د ليدو احساس به نه وي؛ نو د دې احساس د مړه کيدو لپاره ټوله هڅه روانه ده. کېدای شي ژر تر ژره ټول چم او د ژونديو سيمه په مړستون بدله شي. بيا يوه روښنايي چې د احساس او درک وړ نه وي وپنځيږي. نو اوس تکل ټول په هغه لور دي.



www.sikaraam.com

رښتیا ما د تورتم کیسه کوله. دا تورتم چې کله ناکله ما ته په بیروني دونیا کې له گرځېدو راستون شي، نو همدا تورتم کیسه کوي چې څنگه پلن شو او څرنگه په دښتو، غرونو، بوټو، ونو او بالاخره په انسانانو کې ننووت. روح مې دا پوښتنه راولاړوي چې ښه د دې تورتم لامل څه دی او ولې وغځېد؟ له هره ځایه ولاړ خو د دې ښار له وجوده لیرې نه شو.

ځکه خو نن روح ډېر ناارامه دی. اندېښنو او سوچونو په سر اخیستی دی. له ښاره تور گرد او لوگي را پورته دي. حیرانېږي، چې د رواني غمیزې اصلي لامل پیدا کړي، هغه لکه یو نارامه او حیران ملنگ په شاړو او بې وگړو ښار کې ځوړند سر روان وي. د ښار په کنډرو او کنډوالو سر وي، د ښار سړکونه چې اوس شاړ پراته دي، د ښار وگړي هم یو نیم ډېر رنگي رنگي اخوا دې خوا لیدل کېږي. جسامتونه یې نه برېښي، یوازې ارواح یې وې. د ښار په منځ کې روانې وې. دا ارواح گانې ځمکې ته نه گوري؛ بلکې سترگې یې پاس اسمان ته نیولې دي. له ستورو مدد غواړي، داسې فکر کېږي چې له اسمانه کومه معجزه غواړي.

خو ارواح په همدې حال کې د یو تاو راتاو سړک په بره څنډه کې یو بوډا قالبین ویني، چې څادر یې د سړک په خوا کې غوړولی ناست دی. کیڼ لاس ته یې دوه درې زاړه کتابونه یو پر بل ایښي دي. درې څلور د مریو په څېر رنگه ډبرې یې هم پرې دپاسه ایښي دي. یو جوړه عینکې چې د هغو یو ډنډر مات دی، هم ایښي ده. بله جوړه یې چې تار یې ترې تاو کړی و، په سترگو ایښي او مزی یې شا ته په څټ کې غوټه کړي و، چې که کښته وگوري له سترگو یې ونه



www.sikaraam.com

لويږي. د عينکو په څنګ کې يوه ګرده ذره بيني هېنداره چې څه واړه شيان لوي بريښوي ايښې ده. د فالبين ښي لاس ته هم د اوداسه زړه خټينه لوټه ايښودل شوې ده.

روح د يو زلمي هلك په څېره کې د بوډا مخ کې کښيني. پوښتنه کوي؟ خو فالبين بابا يوه پوښتنه لرم، که راته ځواب راکړي؟

هغه وايي، پوښتنه مه کوه. زه دې په مطلب پوه شوم. فالبين ورته وايي: «زما د ټنډې او مخ ګونځې خو ګوري؟»

ــ هو ګورم يې!

ــ دا ګونځې نه دي؛ بلکې د روزګار ترخې، خوږې، لوړې او ژورې دي. نو کله چې ما تاسې وليدئ، ستاسې پوښتنه مې ستاسې په ټنډه کې ولوسته. پوه شوم چې د ويلو حاجت دې نشته؛ بلکې زه به يې درته بيان کړم.

فالبين خپلو خبرو ته دوام ورکوي وايي: «زه به درته کيسه وکړم. د کيسې په پای کې کيدای شي، سر دې پرې خلاص شي.»

***

وايي چې يو مهال د دې سيمې په يوه ولايت کې يو سړی مامور شو، د ماموريت په مهال يې د خلکو جېبونه وشلول او ځان يې پرې وپړساوه، نو بله‌ې يې ورکړي او يوه اداره لکه مستوفيت چې د ولايت دعايداتو، مالياتو بندوبست کوي، په پيسو يې واخيست. په کور کې يې اولاد نه کېده، نو يوه ورځ يو مشر حکيم جي ته ورغی، چې تاويذ (تعويذ) ورته ورکړي، چې ماشوم يې پيدا شي. حکيم جي ورته څه شيان دم او تاويذ يې ورکړ. يو بند يې هم ورکړ چې



www.sikaraam.com

په غاړه يې واچوي. کال وروسته بيا هغه حکيم جي ته له يوې اندزاه شکرانې سره ورغی او له سره يې حکيم جي ته ګونډه ووهله. ويل يې زيری مې راوړی دی او ستا لاسونه مچوم چې دم دعا دې کار وکړ. تاويذ دې اثر وکړ.

حکيم جې ويل څه خبره ده؟

ــ صيب، ستا د دعاوو له برکته زما زوی پيدا شو.

حکيم جي وپوښته: «نوم دې پرې ايښی دی؟»

ــ نه صيب نوم، به هم ته ږدې.

حکيم جي يو زوړ کتاب را واخيست، چې د لتو پوښ يې درلود. پاڼې يې هم زېړې وې. کتاب يې واړاوه. ټنډه يې تروه شوه. له ځانه سره وبنګېد. سترګې يې د عينکو له شاه پورته کړې وې، ويل يې: «بس د خدای کارونه دي.» نوم يې ورته ذليل کېږده. په دې کې يوه فلسفه ده. هغه بيا پوښتنه وکړه، صيب څه خبره ده؟

حکيم جي ورته وويل: «تا ته دې مبارک وي؛ خو ستا زوی د ملک او خلکو لپاره ډېر بد زېری دی!» هغه ورته حيران شو، ويل ولې څه خبره ده؟

حکيم جي وويل: «خبره دا ده چې ستا زوی حرامي دی.»

د ورغلي سړي رنګ زيړبړي، وايي دا څه اورم؟

حکيم جي وايي: «حيرانېږه مه! پوه شوم چې د حرامي کلمه دربانډې بده ولګېده. حرامي يوازې ولدالزنا ته نه وايي؛ بلکې هغه چې د حرامې روزي او



www.sikaraam.com

خوراک له امله د مور په ګېډه کېږي، پلار يې بډې او رشوت اخيستي وي. هغه هم حرامي دی او دا حرامي لا ډېر خطرناک دی.»

د ورغلي سرې رنګ نور هم زېړ شو. هغه مهال ورياد شو چې په زور او جبر يې له خلکو بډې اخيستې. ان په نه خبره يې له يوې کورنۍ نه د شيدو لنګې غوا هم په بډو کې واخيسته. لږ څه وارخطا شو؛ خوله يې بنده بنده شوه.

حکيم جي بيا خبرو ته دوام ورکه ويل يې: «دا زما خبره نه ده؛ بلکې د کتابونو ده. کتابونه دريابونه دي، هر څه پکې شته. نو ياد لره، کلونه به تېر شي، زه به نه يم او ته به هم نه يې. خو ستا همدا زوی به دې وطن او دې ښار ته اور واچوي. خلک به غلامان کړي. د دې ښار وګړي به کلونه کلونه تر بمونو لاندې رېزمريز شي. په سمندرونو کې به د ماهيانو خوراک شي. ذليله به شي او دا به ټول ستا د زوي له لاسه وشي، ځکه چې دی پخپله ذليل دی؛ نو ذلالت به زېږوي. د نورو مرييتوب به کوي، دا ځکه چې ريښه يې خطا ده.»

ورغلي سرې د حکيم جي خبرو ته حيران پاتېږي. له خبرو کولو وځي. نور څه نه وايي؛ خو کوم رشوتونه او بډې يې چې په تېرو وختونو کې اخيستې وي او خپل حيواني ژوند يې پرې جوړ او د بيت المال غلاګانې يې کړې وې، هغه ټولې خاطرې يې يودم د مېږتون د لښکر په توګه د هغه د ذهن او مغزو وستل ته لار کوي. نور هم وارخطا کېږي. له حکيم جي نه رخصت اخلي.

د ماشوم پلار کور ته ځي، هلته ماشوم له خپلو ډېرو تلوسو او انديښنو سره راپورته کوي، په غېږ کې يې نيسي؛ خو د ماشوم څېره هره شېبه بدلېږي. کله لکه اوښ څيره باسي، کله يې سترګې په تندي کې ليدل کېږي، کله له خپل وخت نه اوږود شي او کله هم نور څه. پلار يې توبې باسي. ژر په لمانځه



www.sikaraam.com

درېږي. نفل کوي؛ خو په همدې شېبو کې شیطان ورته په مخ کې شین کېږي، په کړس کړس ورته خاندي، همدومره ورته وايي:

«زما د انډیوال زېږون دې درته مبارك وي. زه یوازې وم. په مکه کې مو په ګټو ویشتلم؛ خو ما زغم کاوه. پر ما مو لانت ویلو؛ خو هیله من یم چې ښه سبق درکړم.»

***

زلمی روح ټوله کیسه اوري، ځان ته یې فکر کېږي، د ارواحو ښار ته یې فکر وراوړي. له ځان سره بنګېږي. وايي:«اوس پوه شوم، چې دا کوم ذلیل کس وو چې ښار یې په ماتم کښېناوه. هرې خوا ته یې منډې ووهلې. زموږ ټوله هستي یې داو کړه. او اوس دا دې د ځمکې له سره په ورکېدو یو او پناه کېږو.»



www.sikaraam.com

## ۵

روح چې د حرامي کیسه واورېده، نور هم ګنګس شو، ځکه هر ورځ نوې نوې پېښې ګوري. نوې نوې غمیزې لکه د مني بادونه او سیلۍ په ښار را دبره کېږي، د خلکو او د ښار دوګړو روح له تنه جلا کوي، لمر په ښار سهار راخېژي او ماښام پریووځي. خو د ماتم وریځ د ښار په یوه څنډه کې ولاړه ده کله خوره شي او کله هم راټوله شي؛ خو د قلمرو له ساحې څخه نه لیرې کېږي.

خو روح خپلې کیسې ته دوام ورکوي وایي: موده وشوه چې زه همدې ابدي دونیا ته راغلې یم. ما په همدې دونیا کې خپل ماهیت او هر څه له لاسه ورکړل. زه لکه یو سیورې داسې ووم. کله رڼا پلنه شي، سیوري تښتي او تري تم کېږي. زه لکه یخ او کنګل داسې یم، چې لمر پرې را وخېژي او کنګل ویلي شي. ذره ذره شي او خپل ماهیت له لاسه ورکړي، زه د دې دونیا په همدې لوې سمندر کې ورک شوم، دا سمندر چې نه خو بیخ لري او نه غاړې، زما په څېر د ډېرو انسانانو چې دونیا ته راغلي وو، لوی شوي وو، هیلې او امیدونه یې پیدا کړي وو او په سلګونو او زرګونو ارزوګانو کې یې یوه هم پوره نه شوه. نیمګړي او د ژوندانه یا حیات له لوی او ګڼ بازار نه تش لاس ستانه شول، خپه ستانه شول، هېڅ توښه او متاع یې وانه اخیسته خو په دې هم پوه نه شول او نه یې پرې سر خلاص شو چې ژوند تعریف کړي.

ما ته به هغه کسانو چې ویل به یې د امید اوهیلو خبره به یې کوله، ما ته به شک را ولوېده، څه به مې نه ویل. سندري به هم ویل کیدلې چې «ژوند ښکلی دی» خو په دې نه پوهېدل چې کوم ځای یې ښکلی دی. ایا هغه شېبه یا لحظه چې



www.sikaraam.com

د څو کلونو یا میاشتو په واټن کې تېریده، همدا یې هدف وو؟ نو اخیر څه؟ زما خو پرې سر خلاص نه شو، که یو څوک چې د ډېرو شتو او شتمنیو خاوند به و او شپه او روځ به یې په عیش و نوش کې تېریده، هم به یې ژوند درلوده خو یو بل چې په خوا یا چم ګاونډ کې به له لوږې مړ کېده. یا د غبرګو زامنو جنازو ته یې اوږه ورکوله یا هغه مور چې د زوي له مړي سره خپله ساه ورکوي، ژوند یې ښکلي دی؟ که د اول یاد کس ژوند ښکلي دي نو چې د دویمې بېلګې ژوند له تراژیدیو ډک و، نو هلته هم ژوند و او دلته هم ژوند و، په ځانځانۍ کې د ژوند ښکلا مطرح ده او که په کلیت کې؟ نو چې ګورو په کلیت کې خو ژوند نه یوازې ښکلي نه چې لا بدرنګ هم نه دی، هېڅ نه دی. بودا سیدهارتها له پادشاهي پالنګه را ووت په لاره تېریده، یو سړي ویني چې له تبې شت کېږي، بل ویني چې ځنکندن یې دی، بل ویني په هغه شان، نو اوراه ګي نه اختیاروي؟

خو زما سر پرې خلاص نه شو، زه له هغه پولې څخه په حرکت کې شوم. ډېر کسان په حرکت کې شول، یو لښکر جوړ شو چې د عدم په لور راځغلېدل. هغوې هم د ابدیت په لور چې ادرس یې په عدم کې وو، په ځغاسته شول. له سیندونو او ځنګلونو تېر شول. خو سیند او یا سمندر په خپله غُولۍ کې را ونیول، ویده یې کړل.

سمندر ورته وویل: زما زړه ستاسو د ټاټوبي په څېر تنګ نه دی. زما غولۍ پراخه ده. لمر په کې نه ډوبېږي، زما د لمنې کوز او بر سر نه بریښي. کوچني شاولي چې شونډو یې پتري نیولي وو او له څېرې یې قهر او غضب ورېده، په ماشومتوب کې یې پلار د حیات په اوبو پسې رااستولي او د مور له غېږې راخوځېدلی و. د ابدي حیات اوبه یې وڅښلې، ښې ډېري یې وڅښلې، له



www.sikaraam.com

ستوني يې تېرې کړې وې، داسې چې نورې يې د ځان، زمان، مکان، شپې او ورځې توپير نه شو کولي.

د سمندر ماهيانو له کوچني شاه ولي نه وپوښتل:

تاسو څوک ياست؟ او له کومه دې ښارګوټي ته راغلاست؟

هغه په ځواب کي وويل: زه نه يم خبر چې څوک يم؟ دومره پوهېږم چې د کوچنۍ ګل مينې ورور يم. هغه په کور پاتې شوه. د اتو نهو کالو وه. وايي چې د هغې پلار هغه يوه بډاى سړي ته د پيسو په بدل کې ورکړه، ويې پلورله. هغې چيغې او فرياد کاوه: «زه کوچنۍ يم، زه ښوونځی لولم، زه سبق وايم.» خو پلار يې ويل:

«شريعت په اته کلنه هم حکم کوي د «شريعت» بايد درناوي وشي. نو اوس ته شريعت پېژنې؟»

بيا يې دويده کېدو په مهال زهر خولې ته واچول او سبا سهار هغه هم پسې راغله. خو ما ته يې اوس پته نه شته، چې چېرته به وي. يو بل ماهی را دمخه شو. هغه ډېر وږې او حريص و، ترې ويې پوښتل:

ستا کلي، ښار، ملك او کور مورږ ته انځور کړه، چې ويې وينو؟

په ځواب کې يې وويل: «زه يې نه شم انځورولی؛ خو دومره پوهېږم او زمورږ په کلي کي اوازه وه چې يو حرامي يا حراموني پيدا شوی دی. هغه به دې ښار ته اوراچوي. خلك اوتر اوتر ګرځېدل چې حرامونی ووينې، خو حراموني چا نه پيژانده، هوښيارانو وويل دا داسې حراموني نه دي، بلکې هره شېبه خپله څېره بدلوي. شيطان د هغه په ستاينه نه مړيږي.» خو شاه ولي وايي:

«له ما خو ان خپل نوم هېر دی. زما هېڅ شي هم په یاد نه دي. خو یوازې دومره پوهېږم. چې یو ګڼ کلي وو، کورونه یې نږېدلي و، په کورونو یوه اوچته او دنګه سپینه جنډه ولاړه وه. زه نه پوهېدم، خو نورو کسانو چې به پورته وکتل، ویل به یې په جنډه یوه کلیمه کښل شوې ده. نورو به وپوښته څه کلیمه ده؟ وایي چې دا جنډه هم د هماغه حرامزاده په لاسونو ایښودل شوې وه.»

خو هغه به وویل: «په جنډه ماتم کده یا د ماتم کلي نوم کښل شوی و. نو زموږ د کلي نوم همدا «ماتم کلی» و او داسې جنډه یې درلوده. نور نه پوهېږم.»



www.sikaraam.com

٦

زه چې اوس له ماتم کدې نه راکوچېدلي يم، د ماتم کدې اصلي کردار کله شيطان او کله دجال او کله هم يوه بله اشا شي، د اصلي عامل په توګه نه پيژندل کيږي. هغه داسې يوه اشا ده، چې د ځمکې د سر په موجوده قلمرو باندې چې موږ ترې راغلي يو او د ښاريانو قطار دې لور ته پيل شوی دی، څوك يې ګومان نه کوي. خو زه خپله او د ماتم کدې کيسه درته وايم.

رښتيا زه په داسې يو حالت کې واقع يم، ارومرو ډېر کسان چې له ما خبريږي زما کورنۍ ته تسليت وايي. زه اړ يم چې ورته تسليت ووايم. دا تسليت چې زما له خوا ويل کيږي، عجيب دی. عجيب خو ځکه دی چې تاسې باور نه کوئ چې يو سړی يا يو څوك چې نفس او ساه نه شي ويستلی، څرنګه ژونديو ته تسليت ووايي. خو زه چې په «رښتوني دونيا» يم، تاسو ته تسليت وايم. په کوم مکان او په کوم قلمرو کې چې زه يم او هغه ځای ته چې زه راغلی يم، جلا او ګوښې دونيا ده. تر اوسه چې تاسو ته هر څه د دې دونيا په باب ويل شوي، لږ څه فکر پرې په کار دی. زه يې درته وايم.

يوه خبره خو دا چې ژوند څومره خالي او بې مانا متاع ده. يو سړی خاورو ته سپاري، تر قبره يې بدرګه کوي، بدرګه چيان ورسره ملګرې وي، لکه تاسو چې له ما سره واست. درې بېلچې خاوره پرې اچوي او بيا رخصت کيږي. کور ته درومي، په دې تصور ځانته ډاډ ورکوي، چې اوږود عمر يې پر مخ کې دی؛ خو دا د څولسيزو وروستۍ اوونۍ څومره ده. ولې هماغلته کار پاې ته ونه رسېده. ولې هماغلته پاتې نه شواست او له هغه سره هم تم نه شواست؟ نو دا ده



www.sikaraam.com

د ژوند د بې خونده متاع ارزښت، هغه ډېر ارمانونه وروزل، د عمل او تر لاسه کولو لپاره یې هلې ځلې وکړې. هر څه پاتي شول. وګورئ موږ هم لکه د ونو، بوټو، وابښو او نباتاتو په څېر یو، چې راپورته کېږو، را لویېږو او بیا په یو موسم کې تري تم کېږو، ورکېږو، خو که بوټي او نباتات بیا راپورته کېږي، هماغه شان نه وي، لکه دمخه ارومرو چې د بادونو څپېړي یې سيځي، د لمر تنابونه پرې اغیز کوي، دروميي او رادروميي او موږ هم داسې او بله دا چې موږ ته د «ډېر شریف مخلوق» خطاب کېږي خو کله چې زما ارواح همدا اوس د بنیادم نادودې او ناکردي یاد ته راوړي نو په کټ کټ په خندا شي، وایي په داسې بلا واوړي چې په غاړه او د حرامزاده بېلګه چې د دونیا اود دوران لوي دجال دی، راته مخې ته ږدي.

همدا شان بیا ما ته سم د واره د قابیل او هابیل کیسه رایاده شي. قابیل پاڅېده، خپل ورور یې د حسد او کینې له مخې چې پلار یې د هغه ښایسته خور هغه ته ورکړې وه او هم یې خدایانو ته سوغات د منلو وړ و، د چا خبره چې سر یې ورته تاو کړ او په یوه پراخه دښته کې یې وواژه. بیا کارغه له کومه لوري راکښته شو، هغه ته یې په خپله مښوکه کنده وکیندله او په کې یې ښخ کړ؛ خو له هماغه ورځې ان تر ننه پورې د قابیل د اولادې په اندامونو پښېماني او وسواس حاکم دی. د شرم احساس او د ګناه احساس خو لا څه کوي، هغه بېلې بلاګاني دي چې بنیادم ورسره چمبړ دی. خو څوک به وکولای شي، چې دا موجود بنیادم له خپل کرداره واړوي او په شریف موجود یې بدل کړي؛ خو والله الاعلم.

دا نن وګوره، زه له تاسو را جلا شوم. ستاسو په کلي او مالت کې څه حالت دی. دا د همدې «اشرف المخلوقات» د کردار پایله نه ده؟ هغوی نه دي چې



www.sikaraam.com

هم د خپل الله نوم اخلي او هم خلك وژني، هم ځان وژني، هم بمونه ړدي. ګورو چې نباتات، حيوانات او د طبعيت نورې شته وې، له دې ناورينه په امان دی هغو ته بيا بله ستونزه پېښه ده.

نن زه له خپلې كوډلې را ووتم، يوې لويې دښتې په لور والوتم. دښته نه وه، لكه يو ملك، يو هېواد، يو وطن، چې هم پكې كلي وو، هم ښارونه، هم ژوندې غرونه او دښتې، خو بنيادمان يې پړمخې پراته دي او ساه اخلي.

د بنيادمانو نفس د دښتې پر سر دوريځو او لړو چتر جوړ كړ، هغوی ټول پړمخې پراته دي، يو له بل سره خبرې نه كوي، يو بل ته نه ګوري، كوم ځای كې يو د بل په لور لاس اوږدوي، يو څه غواړي خو ځواب نه اوري.

زما سيوري زما څنګ ته رانږدې كېږي، غواړم ترې وپوښتم خو هغه پخپله زما په پوښتنه پوهېږي، راته تمثيل كوي. هغه ما ته د يوه داسې ښار انځورونه راښيي چې وګړي يې د تقدير او برخليك په طمع او هيله ناست دي. د همدې هيلې د پوره كېدو لپاره په اپينو روږدي كېږي. اپيون د خلاصون او ژغورنې يوازينی لاره بولي. د همدې اپينو اندازه نوره هم زياتوي كه تر مخه يې ښه بدله وه، اوس د لوګو او پوډرو په بڼه راظاهرېږي. هر يو هڅه كوي له دغه په اصطلاح «نعمت» نه ځان برخمن كړي. ورو ورو دا عادت په ټوليز او جمعي عادت بدلېږي، چې په پايله كې ټول په خاورو كې پړمخې څملي. په خاورو او دښتو كې غځېږي، كالي يې د بارانونو او جړيو په اثر شړېږي. چمتې چمتې او ټوټې ټوټې كېږي. تنونه يې بربنډېږي خو فكرونه او ذهنونه يې كار نه كوي. حافظه د ټولو له منځه ځي، يو بل نه پېژني. خو هغوی چې د اقتدار په نشو مست دي، هغوی هم خپله حافظه له لاسه وركوي، هغوی هم خپله ماضي



www.sikaraam.com

هېروي. يوازې د خوند او لذت، شهوت او اقتدار په شرابو نشه او مستېږي او د يو حکيم دا وينا پرې صدق کوي چې وايي:«انسان دوه ګوني ماهيت لري، په اسمانونو کې الوتنه کوي، روح يې د ستورو سره د ناستې لېوال دی، په داسې حال کې چې د انسان غرايز (حيواني) هم خپله تنده خړوبوي.» او بيا بل ځای زمزمه کوي: «هڅه وکړه چې يو وار هم که وي چې په بشپړه حيواني چلند وکړي، نو وبه ويني چې د زغم وړ نه يې.»

زما سيوري، زما روح دا ټول انځورونه زما په وړاندې ږدي، خپل مخ اړوي او د دښتې په لويه او پراخه سينه کې ترې تم کېږي. زه د تل په څېر يوازې پاتې يم. نور هېڅوک نه وي، يوازې د نشه يې او خمارو لښکر وينم، چې په خاورو کې پړمخې پراته دي او د تقدير په هيله وروستي نفس باسي.



www.sikaraam.com

هو تقدير لا حاکم دی. هر څه د تقدير په لاس کې دي. کله چې د دې ښار د خلکو برخليک ليکل کېده، په روښانه ليک يې د دوی تقدير د غم په نامه ليکلی و، ځکه خو هغه حرامي چې يو مهال را پورته شو، په ډاګه يې اعلان وکړ چې د زماني «دجال» دی. «دجال» هر څه بدل کړل او د ښار د وګړو د تقدير لوحه يې د ښار په منځ ميداني کې پورته کړه ويې ويل: زه نه د چا په خوښه راغلي يم او نه د چا په خوښه پاتې کېږم او نه د چا په خوښه درومم. زه يم د زماني د بدلون استازی.

خو راځئ نن زما د روح بلې خبرې ته غوږ شئ. نن مې روح تاسو ته د خپل مرګ خبره نه کوي. راته وبرېښېده چې تاسو مې وځورولئ؛ نو ځکه زه درته بله کيسه کوم:

زه چې کله ښوونځي ته ولاړم او بيا وروسته مې شونډه توره شوه؛ نو کله چې په حجره يا دېره کې مشران ناست وو او زه به هم د کټ کوزې برخې يا پياړمې ته ناست وم؛ نو هماغه مهال چې مې د خپل تن څېره په هينداره کې وليده، يو تصور به را پيدا شو. دا چې نن درته ليکم، له کلونو څخه د ډېر اخوا خبره ده. هغه وخت به مې د مشرانو او ښوونکو او باتجربه کسانو چې د چا خبره څو کميسونه يې زيات زاړه کړي وو، خبره اورېدله چې دا دونيا چې موږ په کې ژوند کوو، يعنې د «ځمکې د سر ژوند» په دې کې موږ داسې يو لکه مېلمانه لاروي، چې له يو کلي تيرېږي او په جومات او يا د يو خان په حجره کې شپه تېروي. دا به مې هم اورېدله چې د انسان لپاره اصلي دونيا هغه ده چې انسان



www.sikaraam.com

پکې ابدي شي. دغو کسانو څخه زما خیال دا خبره هېره وه چې ووايي اصلي دونیا د عدم او «نشتون »دونیا ده، ارومرو چې د هغو فکر او سوچ په دې خبره نه رسېده، چې ووايي د نشتون دونیا یعنې ابدي دونیا!

دې خبرې ته د عارفانو پام شوی وو. هغوی په دلایلو سره دا خبره واضح کړې او شنلې وه چې له موقت دونیا څخه تلل حتمي دي. ابدي دونیا زموږ اصلي کور دی نو اوس ځکه زما روح له دې ابدي دونیا یعنې د نشت او نیستۍ دونیا له پراخې سینې نه تاسو ته وايي او د نن کیسه درته کړي، چې د تقدیر او برخلیك په غاړه اچول کیږي. هغه د یوه زلمي کیسه ده.

د دې زلمي نوم چې هر څه و، خو موږ به یې د هارون په نامه یاد کړ. هارون ډېر ښکلی او دنگ زلمی و، هغه پرون د خپل کور له مخې پورته کړای شو، ځو تنو ټوپك والاوو په زور او ځواك گاډي ته پورته کړ. جېبونه یې ورته لوټ کړل. نو د دې لپاره کېدای شي په یو شمېر کسانو په بله موخه دا ځوان وژلی او یا یې تن ورته له روحه جلا کړی وی. نن ورځ دا کیسې عامې دي. اوس په ښار کې زیاتره کسان د دې لپاره ابدي دونیا ته استول کیږي چې د کفر ټاپه پرې ولگېږي او یا یې د جنت په تکل د تلو او استولو تکل شوی وي؛ خو زه د جنتونو له سیمې تاسو ته وایم. اوس چې زه پوهېږم، جنت یو رومانتیك شعر دی.

وايي چې د ارواحو د ښار په بازار کې هر څه د اسمان په بیه دي، وریجې اوړه، ټیپر، الوگان، سابه، شین او تور چای، گوړه او نور خو د یو شي ارزاني ده چې ځینې ښاریان سم دم ورسره د «ماشاءلله» عبارت هم وايي او هغه «مرگ» دی. نو زما کیسه هم د مرگ له مارکیټ څخه کښل کیږي. هارون یې



www.sikaraam.com

نیولي و، زندۍ کړي يې و او بيا يې څو مرمۍ ویشتلی و، جسد یې ورته له ګاډي راکښته کړی او د سړک په غاړه يې اچولی و، جیبونه یې ورته څیرې کړي و، د هغه د مېرمن او دوه ماشومانو ارواح ګاني ورته ولاړې وي. د مېرمن ارواح يې يې رېږدیدله، اوښکې يې پر مخ روانې برېښېدې، څېره یې نه معلومېده، یوازې روح يې سکیندې وهلې. ماشومان يې ولاړ ول، څه یې نه ویل. حیرت وهلي و، د پلار جسد او تنې ته یې کتل، د پلار روح يې پرې غږ نه کاوه او نه یې ورسره خبرې کولې. همدومره يې ورته اشاره کړه، چې زه نور له تاسو سره نه یم. په همدې ترخ کې چې د غم وریځې راپلنې دي، دوه لاروي تېرېږي. هغوی پرې په اوږو دي. د کار وسایل ورسره دي، چېرته مزدورۍ ته روان دی، چې په جسد یې سترګې لګېږي، ژر یو مبایل له جیبه راباسي. د پولیسو ماموریت ته زنګ وهي.

-«دلته یو جسد پروت دی، په وینو کې لت پت پروت دی. »

پولیس ترې د ادرس پوښتنه کوي. کوم ځای؟ دلته د سړک په غاړه له کوچني مارکیت نه لږ شا ته، دلته چې پټي دي، کروندې دي او فصلونه ولاړ دي.

هغوی وايي: «دا ساحه پر موږ اړه نه لري».

نو دا خو کوم بهر ملک نه دی، همدا ښار دی.

ــ «همدا ښار دی، خو موږ د بلې ساحې لپاره کار کوو.»

بل تن يې بلې خوا ته زنګ وهي. ورته وايي: «دلته یو جسد پروت دی. په وینو کې لت پت پروت دی، روح يې الوتي دی، ملایکو ته ورغلي دي. تاسو يې وګوري، چې دا جنایت چا کړي دې؟»

ځواب کې اوري: «دا ارزان بیه سیمه ده. دا مارکیټ ارزانه مارکیټ دی، مرګ په کي ډېر ارزانه دی. هر یو په کې د «کلیمې» په نامه وژل کېږي. دا هم د تقدیر کارونه دي. تقدیر نه بدلیږي. قاتل هم مقتول هم، بې ګناه هم او ګناهګار هم، د ټولو ورتله الله لره دي. دا زموږ په اراده کې نه دي. دا سیمه هم زموږ د کنترول سیمه نه ده.»

دوه ماشومان هماغه شان د پلار جسد ته ګوري. د مېرمنې روح هم حضور لري، سره له دې چې هغه په کور کې ناخبره ده. لاروي بیا هم ټینګار کوي، ورته وایي: «تاسو د دې ملک ساتونکي یاست، تاسې چارواکي یاست، راشئ او د جنایت پوښتنه وکئ.»

په ځواب کې وایي: «نو د جنایت پوښتنه څوک کولی شي. دا د مطلق ذات کارونه دي، چې پوښتنه وکړي. موږ خاکي بندګان یو. څه خپله لار دې وهه، موږ بیکاره نه یو!»

خو بیا پوښتنه کوي: «ایا سړي ساه ورکړي ده؟»

لاروی وایي: «هو ساه یې ورکړې ده. جسد یې پروت دی، وینې ترې تللې دي. دا باید له لارې پورته شي، پولیس یې باید معاینه کړي چې دا جرم څنګه او ولې شوی دی؟»

مقابل لوری ترخه خندا کوي، ورته وایي: «دا اوس رواج دی. غم یې مه کوه. موږ له یو ترسره شوي عمل سره مخامخ یو. موږ د چا تقدیر نه شو بدلولی. موږ نه شو کولی، بېوزلی هسی هم مړ دی او بله دا چې دغه ساحه زموږ مسوولیت نه دی.» بیا وایي:



www.sikaraam.com

«هر نفس لرونکي چشيدني دی د مرګ.»

هغوی هم ترې اوږه خالي کوي، جسد چې په سړک پروت دی، له خپل روح نه جلا شوی او روح يې ورته سر ته ولاړ دی. د مېرمني او ماشومانو روح يې هم ننداري کوي، نورې ارواح ګاني هم رانږدې کېږي. همدومره وايي: «نو تسليت درته وايو! د ارواحو ښار ته ښه راغلاست! د تسليت ښار ته ښه راغلاست! دلته تسليت هم ارزانه دی.»

خو چارواکي بې پروا ناست دي. د نخودو کپې او د کشمشو دانې خولې ته اچوي، بيا شين چای ورپسې ګوټ کوي: «وايي زموږ مسووليت نه دی.» د ټول ښار وګړي خپلې اوږې خالي کوي. بې پروايي او نه پام راج چلوي. دا ځکه چې د نشتون يا عدم وريځې او لړي په ښار راپلنېږي، ژوندي نرۍ ساه باسي، او نور يې د مرګ لپاره قطار ولاړ دي. د حيات او يا ژوند په نوم څه شی نشته. بې پروايي حد نه لري. د کامو «ميرساولټ» لکه چې يو وار بيا را دمخه کېږي او هغه مشهوره خبره يې زما د روح په وړاندې انګازي کوي چې وايي: «نن مور مړه شوه، ښايي پرون، نه پوهېږم. د زړو کسانو له کوره يا نرسنګ هوم نه راته تيليګرام را ورسېده: مور مړه شوه، سبا خښېږي يعنې ګور ته سپارل کېږي. په درنښت. دا هېڅ مانا نه لري. ښايې پيښه پرون شوې وي.»

۸

نو دلته ده چې د ارواحو په ښار کې بې پروايي راج چلوي. هر څه او هر څوک له ځانه پردي دي او د «مور مړه شوه» کیسه هره ورځ تکرارېږي او کله خو خبرې تقدیر ته سپارل کېږي. خو کوم څه چې زه دلته لیکم ما ته معمول خبره ده. زه پرې تعجب نه کوم. فکر کوم تاسو ته به حیرانوونکي وي. ځکه زه خو د بلې دونیا په موډ کې یم. اصلاً په ژوندوني داسې ویل کېده، چې «څوک تېر شو نو هېر شو». اوس زه هم ځان په هیرو او تېرو کې حسابوم. که زما روح له جسم سره غاړه غړۍ او له تاسو سره روزګار او راشه درشه وای, نو به مې پر هر څه اندېښنه کولای خو اوس یې نه کوم، ما ستاسو له مالته لا له مخه خپلې پښې سپکې کړي دي خو که رښتیا درته ووایم روح مې ستاسو په باب اندېښنې لري، اندېښنه پرې فکر کوي، سره له دې چې زما هستي نوره نشته؛ خو روح مې په پخواني قلمرو ګرځي او زه دا خپلې خبرې هم د خپل روح له ادرسه کوم.

تاسو له ژونده سره مینه لرئ. حق لرئ چې ویې لرئ، روح مې پوهېږي چې مرګ تاسو ته ناوړه ښکاري. رښتیا هم هغوی چې له دې پولې را واوړي اورا تېر شي، نو ورته ستونزمنه به وي چې په دې اړوند فکر وکړي.

هو زه پوهېږم چې تاسو د ژوند ډېر لېوال یاست، دا ښه کار دی. خو ایا په دې ټکي مو سر خلاص کړئ، چې مرګ هم تاسو په تخرګ کې له ځانه سره ګرځوئ. مرګ مو په ولو بار دي او زه چې تاسو ته تسلیت عنوان کوم په همدې موخه چې اوس ستاسو ښاریه د ارواحو په ښار بدله شوې ده. ژوند په سترګو نه بریښي. نو مرګ او تسلیت لکه دوه دستور عام شیان دي.



www.sikaraam.com

هغه د لیکوال خبره مې شېبه په شېبه یاد ته راځي. نه خدایه! زما سیوري او زما روح چې د هاله په څېر زما د تن په وړاندې ولاړ دی، لکه پسته وږمه تاوېږي. کله رڼا شي او کله وږمه شي او کله لکه شمع یو څرک ځان راوښیي خو ژر لا درکه شي. هغه لیکوال به ویل: «مرګ نه دی چې ما ډاروي. بلکې په مرګ کې ژوند کول مې ډاروي. نابودي او نشتون د هغو کسانو لپاره چې ډېره موده ژوندي پاتې شوي وي، وحشت نه دی او د حیرانۍ خبره نه دهه.»

د خلقت لپاره خدای ګناه یا جزا ورکولو ته اړتیا نه لري. پخپله انسان کفایت کوي چې دا کار وکړي. که داسې وي چې دا حالت له بدو هم بدتر شي، نو هغه مهال مطلق کولای شول معصومیت رامنځته کړي»

زه په دې دونیا کې چې ما په کې لنګر اچولی دی، څه نه وایم، نه غواړم څه ووایم خو نن درته یوه بله کیسه کوم.

تاسو به خبر یاست چې یو ښکلي زلمي چې غرونه او دښتونه یې تر پښو لاندې کړل، له سیندونو او دریابونو راپورې ووت او خپل کلي ته یې ځان ورساوه. په خپل کلي کې یې یوه ښکلې نجلۍ چې لا دمخه یې پرې زړه بایللی و، ورسره کوژده شو. هڅه یې دا وه چې خپله کوژده بلې دونیا ته چې هلته یې ژوند کاوه، له ځانه سره بوځي. خو د کور په مخ کې د پیسو او شتو په خاطر ټوپک والاوو وواژه. مال یې ورته لوټ کړ او جسد یې په کوڅه کې پروت وو. د کورنۍ خوښي او ښادي یې په غم بدله شوه، هغه یې دلته راووست، دلته یې ښخ کړ او کوژده یې سرتوره شوه. پر ځای پاتې شوه. دا دی څو میاشتې وروسته د هماغه زلمي کشر ورور نن د هغه قبر ته ولاړ و. ارواح کیسه کوله چې د هغه له کوژدن شوې نجلې سره یوځای ولاړ و. خو د دې پر ځای چې



www.sikaraam.com

دوعا وکړي، ورته ژړل يې او په ژړا يې اجازه غوښته چې له نجلۍ سره کوژده وکړي.

خو د هغه د ورور ارواح چې څو مياشتي تر مخه بلې دونيا ته يا ابديت ته راغلي وه. دواړو ته يې حيران حيران کتل. د مړه زلمي ارواح بي توپيره وو. هلته له ارواح نه د عشق احساس تللی او کډه يې کړي وه. هېڅ يې ونه ويل، يوازې د راغلو کسانو يا دوعا کوونکو خبرې او ژړاوې يې واورېدلې.

نو دا کيسه مې ځکه دریاده کړله چې اوس بې پروايي او بې توپيري په ټول ماحول لاسبري ده. ارواح ګانې د ښار له پاسه ګرځي. د ماښام په تروږمیو کې د کورونو دروازو ته ورځي. هېڅوک څه نه وايي. پخوا به دوعا ګانې کېدلې؛ خو اوس هغه هم نه کېږي. ورته وخت نه لري او اړتيا يې هم نه احساسوي. نو د ارواحو ښار ته پرته له تسليت او ډاډګيرني نور څه ووايو؟



www.sikaraam.com

اړتیا ده چې ارواح بیا د دجال کړو ته را وګرځي او د دجال کیسه نوره هم وغځوي. پوهېږئ چې دلته ټولې ناارامې ارواحوې راټولې دي؛ خو دجال له خپل لښکر سره د ښار په کوڅو کې په قهقه خندا کوي. دا هم غبرګوي چې ولي ما ته د دې ښارګوټي کسانو شیطان ویل: زما مرتبه خو له هغه هم اوچته ده، زه هم مقربه ملایکه یم، چې اسمان ځمکې ته او ځمکه اسمان ته وروستلای شم.

هغه په تکبر سره وایي: د ښار د وګړو ارواحوې باید په دې پوه شي چې دلته د ژوندیو او د ژوندانه کیسه نوره نشته، یوازې د مرګ او مرګونو سرود غږېږي. یوازې ساندې اوربدل کیږي. زه هم تاسو ته د ژوندیو او د روغجنو امېدونو او هیلو داستان نه شم ویلی. زه د اخیرت له دونیا یا په بله ژبه له ابدي دونیا څخه خبرې کوم. هلته یا هغه دونیا ته چې بالاخره انسان ورځي او پکې خاورې کیږي، بیرته نه راګرځي. روح یې اسمانونو ته عروج کوي، کیسه کوم. زه تاسو ته له تسلیت نه پرته چې اوس یو دودیز او عام عبارت دی، بل څه نه شم ویلي. تسلیت هغه عبارت دی چې نن ورځ یا اوسمهال د ټولو متحرکو ارواحو د ژبې ورد دی. دا طبیعي خبره ده دا ځکه چې د ارواحو په ښار کې، د مړو په ښار کې، د دربه درو په ښار کې، د تسلیت په څیر د صبر د کلمي په څېر، بل ښه عبارت نه شته. دا ارواح چې اوس نارامه دي له خپل قلمروه دلته راغلي دي. د ارواحو یا د اشباحو له اصلي ښاره دلته راغلي دي.



www.sikaraam.com

همدا ارواحوي چې زه يې دلته گورم، ټولې نارامې، مضطربې، وارخطا او هيجانې دي، داسې لکه د يو چا په کور چې د مرميو باران وشي، چت يې را ولوېږي. ماشومان يې د خاورو لاندي شي. بوډا پلار او مور يې بې کفنه په خپلو کاليو کې د خاورو لاندې شي. د ژوند هېڅ متاع ورته پاتې نه شي او په لويه لاره رهي وي. که په لاره هم رهي وي، خو د ډزو اواز د ماشينگنو شنهار يې په غوږونو کې انگازې کوي، وارخطا روان وي. په داسې يو حال کې دلته راغلي وي. پخپله د يوې داسې افسانې تمثيل کوي چې تاريخ زمان او د انساني روان په پلن او اوږده واټ کې يې بېلگې لږې ليدل شوې وې. دلته راغلي دي. دا جلا او ځانگړې دونيا ده.

په دې دونيا کې چې زه ترې کيسه کوم، لمر په کې نشته، اسمانونه هم نه ليدل کېږي، ستورې او سپوږمۍ هم نه تر سترگو کېږي بلکې يوازې سيوری دی، يا ارواحوي دي چې د سيورو او لړو په څير گرداگرد په حرکت کې دي. اضطراب او هيجان رااخيستې دي.

نن سهار زما روح د سيستان په پراخو دښتو وگرځېده. هلته د وژل شويو انسانانو جمجمې او هډوکي پراته وو، زما د روح غوني ورته ځېږ شو، ورته حيران شو، خدای پوهېږي. وډار شو، ما هغو ته کاته، پام مې ورته کاوه. همدغه مړو هډوکو او جمجمو ته فکر وړی وم چې يو د سپينو ويښتانو والا بوډا روح چې لکه په ملا کړوپ را روان وي، رانږدي کېږي، يوې پرخې (ډبرې) ته تکيه کوي، امسا په خپل څنگ کې دروي. روح ترې پوښتي، د دغو مړو شويو او ورستو هډوکو ککريو او د وينو د سېلاب چې خاوري او دښته يې سره اړولي ده، د اور د لمبو او هم د لوگو د لوخړو په باب پوښتنه



www.sikaraam.com

کوي، خو بوډا پخپله په خبرو راځي. هغه وايي پوهېږم چې ته څه غواړې پرې پوه شي، هماغه درته زه وايم:

کله به د هغه د خبرو په ترڅ کې د بوډا څېره ورکه شوه، یوازې اواز به یې اورېدل کېده. کله به بیا هم په ناروښانه اندازه څېره ولیدل شوه. کله به هم یوه خړه لړه ولیدل شوه چې خبرو به ترې لارې کولې ویل یې:

«تعجب مه کوئ! حیرانېږئ مه، دا هلمند دی، دا سیستان دی، دا درستم او د زال د سهراب او د سودابې ټاټوبې دی، د هغو د ځغاستو، منډو او معرکو ډګر دی. د هغو ارواح اوس هم په هر کاڼي، بوټي او هره پرخه کې موجودې دي. دلته د انسانانو د کبر او ظلمت تاریخ داسې ډېرې کیسې لري. زه به درته یوه بله کیسه وکړم:

زرګونه کاله ترمخه دلته یو لښکر راغی، هغه لښکر د اوسني راغلي لښکر په څېر چې د تمدن(!) په نامه راغلي نه، بلکې د تقدس او سپېڅلتیا د عوه یې کوله، پر ضد یې له کلیو او کورونو خلک راپاڅېدل. د بهرنیو وحشي لښکرو سره یې مقاومت وکړ، همدا مقاومت یا د عربو د وحشي لښکریانو سره د مقاومت په بدل کې یوه غوټه پاتې شوه. د هغو په تحت الشعور کې اوس هم دا غوټه پاتې ده. دا غوټه د سرطاني دانې په څېر پاتي شوه. نو کله چې د زمان په اوږدو کې په هره دوره کې داسې یو ځرخ راتاو شي، بیا همدا اهریمني ځواک، د تاړاکګرو ځواک، د یرغلګرو، لوټمارو، د لښکر اژدها د هغو د تنونو او وجودونو څخه را ووځي، بیا دا خلک سیځي. جسدونه یې ورته په همدې لویو د ښتو کې شیندي او ککرۍ یې د اسونو د دپوندو لاندې کړنګار کوي.»



www.sikaraam.com

بوډا امسا ته لاس اوږدوي، هغه رااخلي، په کیڼ لاس د سترګو له پاسه چتر جوړوي، د لمر په لور ګوري، خو لمر نه برېښي، بیا د دښتې سهیل لور ته وړاندې ګوري، وایي:

د عربو هغه لښکر چې د تقدس په نامه یې د وینو سیلاب بهاوه. له هاخوا (لویدیځ) راغی. هغوی له ځانه سره د قهر او غضب لمبې درلودې. قهر، تندې، وحشت او بې رحمي د دې لښکر په خټه کې اخښل شوې وه. خو د دې دښتو او کلیو خلک لکه د دې قلمرو تاو راتاو غرونه سپر شول او په بېدرېغه ډول یې په وړاندې ودرېدل.

د لښکرو یو وحشي سردار چې ججورې یې کښته راځوړندې وې، د شونډو پلنوالی یې له څېرې اژدها جوړه کړې وه.

د خلکو د ډار او ترهې لپاره او د دې لپاره چې د خلکو مقاومت تېکنی اوکمزوی کړي، ویې څپي او تارومار یې کړي، نو امر کوي:

«د دې خلکو له مړو او اجسادو نه دیوال جوړ کړئ. یعنې مړي یو پر بل سر پر سر کېږدئ، بیا د هماغه جسدونو څخه تکیه ځایونه جوړ کړئ.»

همداسې حال کې د وحشت سردار چې د مکر و فریب لپاره یې د تقدس جامه اغوستې وه را ووځي. د اجسادو له پاسه کښیني او بیا د وحشت د سر لښکرو بیرغ د اجسادو او مړو شویو په ډېری رپېږي، پرېکړه کېږي چې هر کال په ملیونونو درهم د وخت احاکم ته واستول شي.

بوډا مکث کوي لمر خاته ته سترګې اړوي په سترګو لاس چتر کوي بیا وایي:



www.sikaraam.com

«د یزید بن معاویه په مهال د همدې سیمو د یو ښار خلك پاڅون کوي. یزید مسلم بن زیاد گماري چې پاڅون وځپي، د یزید سپاهیان له سختو جگړو وروسته چې د ښار له خلکو سره یې کوي، د ښار خلك یو وار بیا کافران(!) کېږي. دا وار قتیبه بن مسلم ښار ته راځي. د ښار خلك لومړي د یرغلگرو په سپاهیانو بریالي کېږي. قتیبه بلخ ته نږدې د طالقانو ښار ته ورځي. د ښار زیات شمیر خلك وژني او اجساد یې د ښار په څلورویشت کیلومترۍ کې د سړك دواړو خواوو ته ځوړندوي. د فاریاب خلك هم له یرغلگرو سره تړون ماتوي. د یرغل او داړې حاکمانو په وړاندې را پاڅېږي، قتیبه بیا له بخارا نه فاریاب ته ورځي، د ښار او سیمې ټول خلك وژني، ښار د اور په لمبو کې سیځي، داسې چې له هغه وروسته د فاریاب ښار «د سوي ښار» په نامه یادېږي.

کله چې د سیمې بندیان شوي خلك راوستل کېږي. قتیبه وایي چې د هغه تخت بهر راوړئ:

هغه د خلکو په منځ کې کښیني. وایي چې زر کسه بندیان د هغه په مخ کې، زرکسه کیڼ لور ته اوزر کسه ښي لور ته اوزر کسه نور شاته ووژنئ. تاریخونه کیسه کوي وایي:

په هغه ورځ د قوم د مشرانو شمشیرونه رااخلي. پر هغو د وگړو سرونه قلم کوي، داسې شمشیرونه یا تورې چې سرونه یې نه پرېکول او نه یې غوڅول، په بدل کې یې زما شمشیر واخیست او هر څه هڅه چې یې وکړه زما شمشیر جلا شو. د وحشت د سردار د کورنۍ ځینې کسانو راسره کینه وکړه او هغه کسان چې شمشیر یې کارولو، هغو ته یې اشاره وکړه چې د شمشیر خوله کږه کړي، لږ څه یې کوږ کړ، چې کله به د چا په غاښونو ولگېده، نو هغه یې سورى کاوه.



www.sikaraam.com

بوډاوویل: حیرت مه کوئ، اوس بیا هماغه د تقدس په جامه کې د وحشت سپاهیان هلمند کې راڅرګندي شوي، غواړي هلمند او سیستان کې د خلکو په وینو ژرندي وګرځوي.

***

خو نن ورځ له ځینو تاریخي خونړیو پېښو نه زرګونه کلونه تېر شوي دي. نن اسمان هماغه شان ولاړ دی، لمر سهار راخیژي او ماښام په لوېدو او غروب سره توره شپه راولي. خو داسې نه ده له کلونو راهیسي په دې پلنو او هوارو دښتو، په لوړو غرونو او ښارونو یوه توره شپه لاسبرې ده. د ظلم او وحشت ارواح له کلونو راهیسي په یو او بل شان راپورته کېږي او د انساني نسل په ستوني چاړه ږدي.

بوډا لکه سیورې چې د دیوال له سیوري سره خپله څېره ورکوي، ورو ورو تري تم کېږي؛ خو اواز یې د بلې دونیا په ورشو کې اورېدل کېږي. هلته چې محشر ته تیاري نیول کېږي، اواز یې را ځي وایي: «اوس په دې کلیو او ښارونو او ځنګلونو کې نه یوازې دونو پاڼې رالوېږي، نه یوازې د هر څه رنګ د مني له بادونو سره زېړېږي، نه یوازې ارواحې پورته اسمان ته پورته کېږي.» هغه بوډا مو ولیده چې د هغه سپین ږیري په چیغو سره چې د کورنۍ ټول غړي یې له لاسه ورکړي وو، چیغې یې اسمان ته پورته شوې، په عرش کې هم پاڼه ونه خوځېده. د چا سترګه ونه رپیده، د چا ستوني ډډ نه شو. په یوه بله سیمه کې یوه مور چې مخ یې په وینو سور و، مخامخ ولاړه وه. په خپلو اولادونو یې ژړل. د هغې په چیغو هم اسمان را ونه لوېده، ځمکې حرکت ونه کړ. لمر ورته برندې کتل. سپوږمۍ په منځ د اسمان راغله تېره شوه. شیطاني اراوح د تل په



www.sikaraam.com

ځېر د ټول قلمرو په فضا لاسبرې وه. سیوري او ارواحګاني ګرځېدلې، خو انسان هېڅ ارزښت نه درلود. اوس هر څه د تسلیت کلیمه په خوله راوړي. اسمان هم تسلیت وایي، لمر هم تسلیت وایي. سپوږمۍ او ستوري هم تسلیت او د ډاډ غږ کوي. خو د قهر او غضب د سردار سترګې هماغه شان له وینو سرې بریښي.



www.sikaraam.com

۱۰

د ارواحو په دې ښار کې يو کرکټر څو نومونه لري. کله شيطان کله جدال، کله د تقدس په جامه کې د غضب او قهر سردار او کله هم ذليل الماهيت ټول او ټول يو نوم دی. اصلاً يو روح دی چې په بيلابيلو څېرو کې را برسيره کېږي. د دې قلمرو د مظلوم انسان د انسانيت کيدلو انتقام اخلي.

نو چې ربښتينې او سپينه خبره درته وکړم، څو لسيزې کېږي چې روح مې د واقعيتونو له دونيا نه، يا دفاني دونيا نه ابدي هغې ته راغلی دی. دا به هم تاسو ته ووايم چې يوه شېبه د ځمکې د سر له دونيا څخه بي غمه نه يم. هر څه داسې په رڼو اوغړېدلو ګورم، روح راته داسې انګيزه راکوي، لکه چې اوس هم د خپل جسم په زندان کې يم، ژوندی يم او د ځمکي په سر له تاسو سره ګرځم؛ خو زما د روح دونيا رنګينه ده، اوس چې په هر څه سترګې پرانيزم، يوازې يوه کليمه ښه په څرګنده او غټو تورو ليکل شوي وي. تسليت، د تسليت کليمه اوس د ارواحو په ښار کې نه يوازې دود دی؛ بلکې د ژوند طرز او سلوک ګرځېدلې ده. تسليت په هر څه او د هر څه لپاره کارېدلي شي. دا کليمه اوس په ياد ښار کې د ژوند او د روزګار د تفسير او تعبير کليمه هم ده.

نو نن هم تاسو ته «تسليت» وايم، يعنې ډاډ درکوم، يا د زړه صبر او زغم درته غواړم، دا يوازې وړيا غوښتنه ده چې هېڅ عملي مصداق نه لري. کله چې مې نن سترګې پټې شوې او سم دواره څلويښت کاله مخکې دور ته ورستون شوم، نو ځان مې د کابل پوهنتون له ماحول نه په ترانځ د حقوقو پوهنځي په لور په ځغاسته راورساوه، سم دواره مې ټولګې پيل کيده. د فلسفې استاد مې تباشير په



www.sikaraam.com

لاس په توره تخته د د «اهورا او اهريمن» کليمي رسموي. استاد په دقيق انداز د «خلقت اسطوره» بيانوي. هغه د نوي او زاړه، د علم او جهل، د رڼا و تورتم د اهورا او اهريمن ترمنځ جګړه شرح کوي.

استاد وايي:

په پيل کې روښنايي وه، روښنايي او رڼا د ټولو شيانو ماهيت او اصل و. او د ثواشه (مکان او افلاک)، زروان (زمان) ځای درلود. نور يا روښنايي نوراني او رباني موجودات وزېږول، چې ډېر ستر يې « زروان» (ناپايه زمان) و، چې هغه ته يې «ناپايه زروان» او خدای زروان هم باله. هغه ابدي پادشاهي درلوده.

نو «زروان» په زرګونه کلونه قرباني ورکړه، چې له بطن نه يې دوه بچيان وزېږېدل. يو اورمزد او بل اهريمن. اورمزد چې د قربانيو په برکت پيدا شوی و خو اهريمن چې د ترديد شک او وسواس ثمره وه چې ټول وجود له ياد و صفاتو مالامال و. زروان وويل: هر يو چې ما ته ژر راشي، نو د عالم او کايناتو پادشاهي به د هغه وي.

بدخصلته اهريمن خپله تنه څيرې کړه او په منډه ورغی. زروان په يو درنګ کې هغه په خپله وړاندې يو بدمرغه او ذليل موجود وليده. تری ويې پوښتل، تاسې څوک ياست؟

بدخصلته او شرير اهريمن وويل، زه ستا زوزاد يم، زروان وويل: زما بچی بايد نوراني، خوشبويه وي، خو ته تورتم، ظلماني او ګنده يې!

همدا وخت کې نيک بخته نوراني اورمزد يا اهورا د هغه بل زوی په ښکلي څېره او نوراني او معطره بڼه کې راښکاره شو.



www.sikaraam.com

زروان پوه شو چې دا زما حقیقي بچی او زوزاد دی. نو ورته ویې ویل: تر دې شیبې چې تاسې د هستۍ په ډګر کې قدم ایښی دی، د هغه روښنایي په پیل کې چې زما ابداع او زما زېږنده ده ما قرباني ورکوله، سرښندنه مې کوله، نذراني مې ورکولي، نو له دې وروسته ستا د قربانۍ او نذرانو وار دی. لعنتي اهریمن په قهر شو، ویې ویل، تاسې وعده نه وه کړې چې دواړو بچیانو کې چې هر یو تا ته ژر درشي، د کایناتو پادشاهي به د هغه وي او هغه ته به یې ورکوي؟

زروان وویل: زه به د نهو زرو کلونو دمخه ستا لاس په نړۍ کې پري نه ږدم، چې یو څه ته ور اوړود شي. دا ځکه چې ستا د ظلماني او پلید ماهیت نه کرکه لرم. خو بدخصلته اهریمن یوازې له تېر وخت نه خبر وو او له راتلونکي ناخبره و. کله چې پوه شو چې نور د ماتې سره مخامخ دی، د هغه تور او ظلماني سپنجي حالت تېریدونکي دی. د اورمزد یا اهورا سلطنت نوراني، دایمي او ابدي دی؛ نو تورتم ته ننووت او درې زره کاله په تورتم او تیاره کې ساکن او بې حرکته پاتې شو. اورمزد پورته او اهریمن کښته و، د اهورا ټول موجودات په معنویت کې وو.

درې زره کاله شا ته پاتې شول چې اهورا بیا اهریمن ولیده او د جنګ لپاره رامیدان ته شو. دا دوران د نور او تورتم د مینې او کینې، د ظلم او عدالت د ابادي او وراني د یوځای کیدو دوران و، چې پیل شو. د اهورا او اهریمن د نهه زره کالو جګړه پیل شوه. اهورا چې تنه یې له روښنایي، رښتیا و او د پوهې او معرفت نه مالامال و، خپل سپاهیان یې ودرول. د پوهې او معرفت ارباب د سپېڅلتیا ابدي مظاهر رامنځته کړل، چې نظم یې درلود. پاکي یې درلوده. کمال یې درلوده او ابدیت یې په برخه و. اهورا وځلیده چې په زرین تخت کښیني، د هغه اراده د لمر له ارادې سره یوځای کېږي، ټول یو شان فکر کوي، یو شان



www.sikaraam.com

خبرې کوي او يو ډول چلند او بيا اهورا پرښتې زېږوي. لکه رشن يا د رښتياوو پرښته... او نور چې هره يوه د خير او فضيلت سرچينه وه.

***

استاد د اهورا واهريمن جګړه تر دې ځايه را ورسوله. زياته يې کړه دا جګړه لا دوام لري، د کابل پوهنتون د همدې جګړې يو سمبوليک ډګر دی، دا جګړه په دې ډګر کې د دې ځاې د جوړېدو راهيسې پيل شوه. ما ته ياد شي چې يو وخت چې تنکي زلمي او د پوهنتون په خوا کې نږدې، په يوه ليسه کې مې درس وايه، يو ماسپښين له خوبه را پاڅېدم، رښتيا مازديګر وو، د تمانچې ډزې مې واورېدې.

زه له خوبه وارخطا راوېښ شوم. ډزې د پوهنتون په انګړ کې شوې وې. هلته ورغلم، څو کسه نور هم و، د سيدال په نوم يو ښکلي زلمې په وينو کې لمبېدلی و، ولاړو کسانو وويل:

اهريمن بيا را پورته شوی دی، اهريمني ارواح نوره د کمښت احساس کوي، نور خپل ځای او مکان تنګويني. د هغه په کالبد کې چې نجسه او پليده ارواح پوه شوې ده، اوس يې د معرفت او تعقل مرکز ته لاره کړې ده. دلته راغلې ده او د ټولو اهريمني ځواکونو په ملتيا يې دا دی نن سيدال په وينو کې ولمباوه.

د سيدال حماسه پاتې شوه. هيره شوه دا ځکه چې نور د پوهنتون انګړ تل د اهورا او اهريمن د جګړو ډګر وګرځېد. د سيدا ل قاتل او قاتلان څه بنديان شول او څه وتښتېدل. د پيښور د مالګي منډه يې کې يې واړول. بيا د تاريخ په



www.sikaraam.com

یوه څنډه کې په لویو اژدهاوو بدل شول. د اهورا او اهریمن د داستان شرح کوونکي استاد یې هم وواژه.

دا دی نن بیا دهماغې میاشتي دهماغې ورځې اوشیبو سره برابره ده. نن بیا اهریمني ځواکونه په هماغه دروازه پوهنتون ته ننوتل. په ټولګیو، ښوونکو، زده کوونکو یې باړونه وچلول، په لسګونه یي په وینوکې ولمبول. دوی هماغه د «الله اکبر» ناره هم کوله، اهریمن او دا شعار او کلیمه. الله اکبر چې خدای ته د ورتګ لپاره د عقیدت لپاره هم ویل کېږي. د پسه د حلالولو لپاره هم ویل کېږي خو اوس هماغه پسه چې د اسماعیل پر ځای حلال شو، نن د ارواحو د ښار زلمو ته د اهریمن له خوا وویل شوه. هغوی یې د ځمکې له سره پناه کړل. جګړه لا روانه ده. هیلې او امیدونه ورک دي. ترې تم دي. ترهه او اضطراب اوج ته ورسېده.

هلته لیرې د ابراهیم په اندامونو لړزه پرته ده. هغه لیرې په یوه ګوښی ځای کې زیږ زبیښلي ولاړ دی. ګورې چې پسونه نشته، بلکې اسحاقان حلالېږي. اهریمن زنګ وهلې چاړه په لاس او د هغو پر ستونو یې را کاږي. پرښتې یې نه منع کوي. خدای هم ورته ګوري. د نهی او منکر امر ورته نه کوي، بلکې په پلیده اراده کې یې لاپسې قوت اچوي.



www.sikaraam.com

۱۱

تسلیت اوس د ارواحو په ښار کې د اورادو او دوعاګانو ځای نیولی دی. اوس د ارواحو په ښار کې لکه د هر څه نوم او د هر څه لپاره حکم یوه معموله کلیمه او مفهوم ګرځېدلی دی. تسلیت اوس د ارواحو د ښار دویم نوم هم دی. په دې ښار کې چې سهار هر څوک له خوبه ر اپاڅي او یا د کور له دروازې بهر قدم ږدي، نو د تسلیت په کلیمه خبرې پیل کوي. کله ناکله خو د تسلیت مفهوم مادي او فیزیکي شتون پیدا کوي، لکه یو لوی غر، لکه یوه پراخه دښته او لکه یو مست او څپانده سیند چې پر مخ ځي او هره شېبه چې تېرېږي، سیند هم تېرېږي، زمان هم تیرېږي، زمان او وخت هم بیرته نه را ګرځي، د ارواحو په ښار کې یوازې د تسلیت مفهوم د تسلیت د مادي او فیزیکي مفهوم شتون لري. د هر چا د ژبې ورد او د ارواحو ښار کې اوس رسمي ژبه د تسلیت هغه ده. چې باید د هر چا او د هر هستوګن زده وي.

رښتیا نن سهار چې مې د ابدیت په دونیا کې یعنې د مرګ او مړینې په نړۍ کې سترګې پرانیستلې، د تورو لړو په منځ کې مې یو تنکی زلمی ولید، په فیزیکي او جسمي لحاظ نه بلکې د هغه خوله له خندا او موسکا ډکه وه، د ارواحو په دښته کې غځېدلې وه، په مخه را روان و. نوی تازه د ابدیت دونیا ته راغلي و. خو زما روح ما ته په خبرو شو، ویل یې ته یې مه پوښته، زه به د هغه ټول سرګذشت تا ته انځور کړم او په انځور کې به یې ټول حالت ووینې. تر هر څه تر مخه دا درته وایم چې تاسې د «کریستیان هنریکسن پرام» دا شعر اورېدلي دی، چې وایي:



www.sikaraam.com

گور کې ارامه ارامي ده

ښه چوپ ساکن دي او له غم سره اشنا نه دي.

خو دا وګوره، د ګور یا قبر او ابدي دونیا انځورنه دي، بلکې له فاني دونیا نه راکاپي شوي دی. ټوله کیسه په فاني دونیا کې تېره شوه او دا دی د کیسې په پایله کې جانداد دلته را واستول شو.

***

راته وویل شول چې نن د مراد دروازې ټک ټک کړه، هغه ته تسلیت د ویلو دی. زه په درنګ شېبه کې دروازې ته ودرېدم. دروازه مې ټک ټک کړه. دروازه بیرته شوه ارواح په داسې حالت کې چې چا نه لیدم کورته ننوتم.

مراد تازه په تازه له ښاره راغلي و، خلاصې تنۍ په یو ه شلیدلي کټ کې چې پیاړمه یې هم په ځمکه پرته وه پروت و. د جانداد مور ورته چاې راوړ، پیاله یې ورډکه کړه؛ خو په مراد کې د ستړیا له وجهې متره نه وه، چې ان پیاله پورته کړه.

د جانداد مور له هغه نه د هغه د کار په باب وپوښتل.

هغه زیاته کړه: «نن د کاروبار مزه نه وه. په کراچۍ کې مې پیاز او کچالو او نوره ترکاري اچولي وه. د ښارګوټي په کوڅو کې وګرځېدم، ډېرو لږو خلکو زما سودا واخیستله. زه بیا بیرته لوې سړک ته را ووتم. د سړک پر سر مې کراچۍ ودروله. د ښاروالي کسان را غلل، پرته له دې چې پوښتنه وکړي زما کراچۍ یې چپه کړه، بیا مې ډېر وخت عبث شو چې هغه را ټول او بیرته کراچۍ ته حرکت ورکړم.»



www.sikaraam.com

هغه ورته وايي: «اندیښنه مه کوه، د ستونزو او سختۍ داسې ډېرې ورځې تېرې شوې، دا به هم تېرې شي. لږ وخت پاتې دی که خدای کول جانداد به په خیر سره زده کړه خلاصه کړي. ارومرو به مامور شي، د معاش خاوند به شي. نو بیا به تاسې هم اړ نه یاست چې کراچۍ کوڅه په کوڅه وګرځوي او روزي پیدا کړي.»

مراد وايي: ستا خبره سمه ده، زما هم ټولې هيلې او امیدونه جانداد ته دي، خو زه د نن ورځې غم خورم، پرون چې جانداد پوهنتون ته تللو، ما ته یې کړه چې څو سوه افغانیو ته اړ دی چې کتابونه پرې واخلي.

د کتابونو اخیستل اړین دي، زه یې کتابونو ته سودا اخیستي یم.

هغه وویل: «زه باید د پوهنځي د دورې د پای ته رسیدو په موخه علمي رساله ولیکم او رسالي ته کتابونه په کار دي، روزګار هم داسې دی، چې نه کار شته اونه هم مزدوري.»

مراد ته ویل کېږي: خدای به خیر کړي. سودا مه کوه، زه به له ګاونډي مېرمنې یو څه پور کړم. جانداد ته یوازې څو میاشتې پاتې دي. هغه به خدای له پوهنتونه فارغ کړي، زما او ستا د دواړو نیستي به وشلېږي، امیدونه به مو ګلونه وکړي.

مراد د تورو چایو پیاله راپورته کوي، خولې ته یې وړي، خو ناڅاپه د کور دروازه په وارخطايي وهل کېږي.

مور دروازه خلاصوي. وايي یو څوک دی، مراد یې په کار دی.

مراد وايي: خیریت خو دی؟

استازي: خیریت نه دی. ستا د زوي په ټولګي کې خودکشه شوې، اوس په روغتون کې دی!

***

ارواح مې ټوله کیسه را ته وویله. نو د ارواحو د ښار یوه کیسه دا هم ده چې جانداد پرون زما ابدي دونیا ته راغلي دي. اوس دلته دغم او درد، خپګان، لوږې، تندي او هېڅ احساس نه کوي.

د کیرکهګارد خبره به دې اورېدلي وي چې وايي:

«هغوی چې ناښاده او خپه دي له دې امله دي، چې له مرګه ډارېږي خو اخیر موږ د امواتو د انجمن غړي د لرغوني روم د سپاهیانو په څیر له مرګه نه ډارېږو. موږ له مرګه بدتر مصیبت پیژنو، چې په ټوله کې او له هر څه زیات د ژوند کولو مصیبت دی.»

په رښتیا که داسې انسان یا ادم زاد وي، چې نه شي کولي مړ شي، هغه څه چې د سرګردانه یهودي» په کیسه کي نقل شوی دی، سمه وي. نو بیا ولي شک وکړو چې هغه ناخوښی انسان ونه بولو؟ بس یوازې هغه وخت کولي شو ووایو چې ولې زموږ د پام وړ قبر تش دی؟ علت دا دی چې ډېر خواشیني انسان هغه دي چې نه شي کولي ومري او خوښ کس هغه دی چې وکولي شي.» نو د ارواحو د داستان یوه خبره دا هم ده.



www.sikaraam.com

رښتیا یوه نوي خبره! هغه دا چې پرون د ارواحو ښار ته نوی کس راغي. د هغه په څېره کې چې له ورایه معلومیده خوښي او خپګان دواړه نه بریښیدل. خوښي او خپګان خو ځکه نه بریښېدل چې د ارواحو د ښار عجب دستور دی. دلته یوازې ارواح کښته پورته کېږي. د جسامتونو او بدنونو څه پته نه لګیږي، هغه لکه یوه بې ارزښته متاع چې روح ترې ووځي نو بیا خپل ارزښت له لاسه ورکوي، په دوه توته نه ارزي. په اصل کې خو په فاني دونیا کې اوس دود شوی ده چې هغوی چې د ارواحو په ښار کې ګرځي او کښته پورته ځغلي، خپل ارزښت یې لا له پخوا له لاسه ورکړی دی.

کیدای شي همدا سبب به وي چې هلته به هم د غم او خوښي خپګان او ښادۍ، یاس او هیله مندۍ ترمنځ پوله ړنګه شوي وي او یو بل به سره غاړه غړې شوي وي.

«روح وایي، چې که یو وخت به غم او خپګان له جسم او بدنه سره یوځای لېږدیدل اوس هغه تنونه او بدنونه په نشت حساب دي. خپل ارزښت یې له لاسه ورکړی دی. نو ځکه د غم او خپګان، خوښۍ او خوشالۍ د لېږد ارزښت یې هم له لاسه ورکړی دی.»

خو زه د هماغه ځوان کیسه درته کوم، د هغه په څېره کې نه غم بریښیده او نه خوشالي، روح او روان مې بیا وهڅېده چې راته روښانه کړي چې د هغه د غم او خوښۍ احساس په فاني دونیا کې پاتې شو او له ځان سره یې وویل: چې نور



www.sikaraam.com

نو دا دروند احساس په خپلو اوږو نه شم وړلی، تر څو به دا بار وړم؟ ارواح مي د هغه زلمي کیسه په دې ډول بیانوله.

***

هغه دوه ورځې وروسته واده کاوه. کورنۍ یې، د واده دستوره نیولې وه. ناوې د نوي ژوند د پیلامې په موخه شېبې شمیرلې. زلمي هم د راتلونکي خو د ډېر اوږده ژوند د جوړښت تصورات په خپله دونیا کې، په خپل روح او روان کې روزل، نه یې غوښتل د دې تصوراتو تناب وشلېږي. کورنۍ یې د واده په مراسمو بوخته ده، مور یې هرې خوا ته له خوښیو تاوېدله، د خوشالیو په جامو کې نه ځایېدله، پلار یې هم چې له پاخه عمر نه اوښتی دی، په کړوپه ملا یې څېره غوړېدلې ده. هرې خواته د دې او هاغې خواته د کار او چارو سپارښتنه کوي.

ناوې هم ځان تیاروي، د کلي نجونې یې د سینګارپه هڅو کې دي، غواړي جامې ورته چمتو کړي، نکریزي ورته کېږدي او سینګار یې وکړي. خو ناوې د هغه شېبې تصور کوي چې څنګه د خپل ملګري سره یو ځای ودرېږي، څنګه د ناویتوب په شپو کې شربت د یو بل په خوله کېږدي؟ څنګه یو بل ته سوغات ورکړي؟ همدا د تصوراتو تناب لا غځېږي خو زلمي له کوره لیرې د مرمیو په باران کې راګیر دی. هغه ان د خپل ځان په باب فکر نه کوي. په بشپړه توګه په یوه بله دونیا کې دی. د مرګ او ژوند په منځ پوله کې دی. اخیر فاني دونیا ته لاس پورته کوي او خدای پاماني ورسره کوي.

یومهال د کلي مخه په ناڅاپي توګه شور او پکړ نیسي، شور اسمان ته رسېږي د ژړا ګانو او فریادونو او چیغو اواز تر اسمانه پورته کېږي؛ خو غوږونه ټول کاڼه



www.sikaraam.com

وي، دا ځکه چې د فريادونو د اورېدو لپاره هېڅ داسې څواک نشته چې هغه واوري، لمر سترګه ناڅاپي خپله روښنايي له لاسه ورکوي، په ماحول توره تياره را غبرګېږي، اسمان هم تور اوړي، لړې ر اپلنېږي، د کلي مخه د يوې غمجنې او حيرانوونکي جنازي سره مخامخ کېږي. هغه نوی افسر شوي و. افسر په مخامخ جنګ کې د مدنيت او انسانيت له دوښمنانو سره شهيد شوی و. د واده د ډولۍ پر ځای يې د هغه جنازه د کلي مخ ته راوړي وه، پلار يې پړ مخې لويږي، مور يې هم بې حاله پريوځي، ناوې يې په منډه راځي او د کټ په خوا کې په ځمکه کښيني، يوازی د اوښکو سيلاب يې د مخ په ورشو لار کوي.

روح مي راته وايي: تعجب په کار نه دی. دا اوس دود دی. داسې دود چې د ارواحو په ښار کې په خلکو او د فاني دونيا په اولس لاسبری دی. هغوی هم ورسره عادت شوي دي، سهار چې له خوبه را پاڅي يو بل ته بايد تسليت ووايي، جنازي بدرګه کړي او هديرو ته ولاړ شي. اوس دا دی د ارواحو د ښار ځمکه کرار کرار ډډېږي او راپورته کېږي، دا ځکه چې اوسېدونکي يې ابديت ته ځي او بيوزلي بايد ابدي شي .

تاسې وانه وريدل او و دې نه ليدل چې يوه مور چې سهار يې زلمي زوی په وړاندي د زلمي د ماشوم زوی چې د مور په غېږ کې دی، له خپل لمسي سره د زوی په لور د خدای پاماني لاس خوځوی، هغه را ستنېږي د مور لاسونه مچوي، کار ته روانېږي. پوره دوه ساعته وروسته يې موټر په بم الوځي. موټر ټوټه ټوټه کېږي. هغه هم ټوټه ټوټه کېږي، د هغه د وجود ټوټې د ګاډې له ټوټو سره يو ځای کېږي. بيا يې د وجود ټوټې د ګاډي له ټوټو جلا کوي، په يوه څادر کې يې کور ته راوړي. هغه لارويو راټولې کړې وې. شيندل شوې وې،



www.sikaraam.com

هماغه شيندل شوی تنه يې د کور په دروازه را ننويستل کېږي، ارواح يې ليرې او چوپه ولاړه وي. د ټولو کسانو د اکر ننداره کوي. مور يې چيغې وهي. اخ! زوی مې لاړ، هغه نور نشته؟

***

د ځوان هلك ډېر دوستان خپلوان د کورنۍ غړي را ټولېږي، شهيد ابدي دونيا ته سپاري، خلك له هديرې را ستنېږي. مور چې تر دغه دمه يې ساه په وجود کې کښته پورته په حرکت کې وه. د خپل غم سره د جگړې په ميدان ولاړه وه. کوچني ماشوم (لمسي) يې په غېږ کې دی. د غم د درد سره د جگړې په پار په جگ غږ وايي:

ما خپل زوی ثمر ته ورساوه. د خلکو او هېواد خدمت يې وکړ، که ژوندی وای، نور به يې هم کړي وای خو زه وياړم چې نن د هغه په جنازه کې د پښو ايښودو ځای نه شته. مور هم دومره وويل: ستونی يې وپړسيد، کوچنی لمسی يې مچ کړ او بيرته ستنه شوه. چاپيريال او فضا د تسليت له غږونو ډکه شوه.

## ۱۳

دا دی وختونه واوښتل، لکه د ارهټ منګوټي یو په بل پسې یې پښې هم واړولې. اوس چې وجود، یعنې هډوکي او تنه مې په خاورو بدله شوې ده، یوازې زما روح دی چې د دواړو جهانونو یعنې د ابدي او فاني جهانونو له پیښو خبر دی، په دې مانا چې زه یعنې روح نور څه نه!

دا ځکه چې د فاني او ابدي دونیا پوله له منځه تللې ده. د ارواحو ښار او د ابدي دونیا توپیر نشته. د ارواحو په ښار کې ارواح ګانې په جسامتونو کې ګرځي، خو دلته یې له جسامتونو ازادي اخیستې ده.

نو روح مې چې څه هلته تېرېږي عکسونه یې راته را استوي او څه چې دلته پیښېږي، په خپله یې ویني. روح مې راته وایي له هغه ورځې چې د دونیا ستر بنجاره زموږ د کلي مځکې یا په بله کلیمه د کلي د لویې دروازې مخ کې ناست دي، شنې سترګې یې په پټاسه سرې کړې او له خولې یې بویونه او ډډوزي خېژي، خپله متاع پلوري او له خپلې ماضي او مستقبل نه د نابلدو کسانو څخه د څارویو په انداز خبر نه دي، ښه یې پلوري او ښه یې وپلورله.

بنجاره داحساس او عاطفي په نامه کوم څه نه پېژني، عاطفه او احساس د هغو د موخو او هدفونو تر ختو لاند پټ دي. د بنجاره سترګي او حواس یوازې ګټه او خپل هدف پېژني، د هغه له انسان او انسانیت سره کار نه شته.

همدا سبب دی چې اوس یې د ارواحو ښار د کربلا په میدان بدل کړی دی. د کربلا اسطوره یې یو وار بیا په اوسني دوران کې زرو درې سو کاله پس تکرار کړه.



www.sikaraam.com

نن يې داستان څه بل شان و. د ښار خلکو پتېيلي وه، چې نور د تسليت کليمه ونه وايي. تسليت د ژونديو لپاره د ژونديو د ډاډيني لپاره ويل کېږي؛ خو اوس د هغه لپاره ځای او دليل نه شته. ځکه چې بنجاره د ارواحو د ښار ټولو وګړو د پاکولو او د ښار له مخ نه د هغوی د ليرې کولو فيصله کړې ده. بنجاره په کراتو کراتو ډېره سنکيا راوړه، په خلکو کې يې وويشله. د تبرك په نامه يې په خلکو وخوړه او له هغه وروسته هغوی چې د خپل «زه» په کليمه او مفهوم پوهېدل، په هغو يې د کربلا د جوړولو تابيا وکړه.

د ښار اوسېدونکو په يو اواز وويل. د تسليت کليمه نوره د کتابونو او د خپرونو له مخونو ليري کړي. پرېږده چې را تلونکي نسلونه نور له دې مفهوم سره که رالوېږي او نسل پاتي وي، همداسې ناخبره پاتې شي.

دا خبره هغه مهال ډېره ډېره تکرار او واورېدل شوه، چې د جومات له لوډسپيکرو د اذان او د الله اکبر پرځای د تسليت خبره اورېدل کېده. پرون سهار چې لا رڼا نه وه، خپره شوې. تور تم و، چې يو ترهېدلي لاروي په مخ کې راشين شو. مخ او ځان يې ټول د خپل تن په وينو ککړ و. ترې ومې پوښتل.

هغه راته کړه: د ارواحو په ښار کې هلته وړاندې «شمر» ولاړ وو، شمر له کربلا نه را غلی و. کېدای شي د شمر روح په ډېرو بنجاره شاګردانو کې يا په لوی بنجاره کې حلول کړې وي. په ډګر ولاړ و، توره يې کښلې وه. له غاړې يې د قصابې چمړه په تنه زنګېده. د کابل قصاب له لوی ججوري سره د اوږده اوښ په څېر مخ او څېرې سره چې ژبه يې هم بنده بنده کېده، د ککريو د لو کولو په



www.sikaraam.com

مهال پر هغو د شاباسي غږ کاوه. دا هماغه قصاب دی چې کله د اهریمن او کله د شیطان او کله هم د دیو په څېره کې حضور پیدا کوي

اوږود مخې قصاب چې زاړه حکیم جي ورته د ذلیل نوم ورکړی، اوس د پسونو او څارویو د ساتنې دنده نه بلکې د ارواحو د ښار د حلالولو دنده یې درلوده. د شمر اکر او عمل یې هڅولو، خو شمر ویل زما دنده ده: ما ته مشر اوږود مخې اوښ وارو قصاب امر کړی، چې د ښار خلک نور د ژوند وړ نه دي. نو نن باید د ښار اوسېدونکي ټول بلي دونیا ته، د ابدیت دونیا ته واستوم، په فاني دونیا کې د دوی وخت پوره شوی دی.

روح ترې وپوښتل، دا اوږود مخې اوښ ډوله قصاب څوک دی؟

هغه وویل: هغه هره شېبه تاسو ویني هغه «دوه خولې لري، یوه د دې ښار او بله د لیري ښار پر سر کوي.» هغه دا څلویښت کاله کېږي چې د دې ښار د ورانیدو دنده لري. دا څلویښت کلونه په همدې غورځو پرزو کې تېر شول. دا د لوی بنجاره امر دی چې د اوږود مخې قصاب په خوله یې رااستولی دی. په لوی بنجاره کې د یزید روح ځای شوی او راژوندی شوی دی. هغه روح یې نه پرېږدي چې ارام وکړي، هغه لکه یو سادیست د ښار دخلکو له وژلو خوند اخلي. د هغه شیطاني ارواح تسکینوي. خو زه شمر یم ما ته امر شوی دی. زه د امر تابع یم، زه باید د ښار خلک له یوې مخې له همدې تیغه تېر کړم. دا اوسني خبره نه ده. بلکې دا څلویښت کاله کېږي چې زما څېره بدلېږي. یوازې د مخ او سر ویښته مې اوږدېږي؛ خو چې کله ښار ته راشم، نو بیا کولي شم نکتایي او دریشې هم غاړي ته کړم، زه د ځان د بدلون ښه تمرین لرم، د ځان د بدلون. نه د خپل روح او خصلت د بدلون.



www.sikaraam.com

شمر وايي: زما توره يوازې تېره شمشير نه دی. بلکې يوه بله وسله هم لرم او هغه د تقدس(!) وسله ده چې زما له تېره شمشير نه لا هغه ډېره کاري او اغېزمنه ده. هغه داسې وسله ده، چې په يو نيم زر کالو کارولو کې يې هېڅ زنګ ونه کړ.

په مخه کې راشين شوي لاروي خپل داستان ته دوام ورکړ. د دونيا د ستر بنجاره په دستور نن چې شمر د ښار په دروازه کې ودرېد. له يوې خوا يې د الله اکبر چيغې وهلې. په زوره يې وويل: «اوس د امامانو اولاده ختم ده. اوس له هغو څوك پاتې نه دي. نو د ارواحو د ښار د پاکولو په موخه بايد د ښار اوسېدونکو ته په خپلو وينو غسل ورکړل شي. ځکه چې دوې ملوث دي. له کلونو راهيسې ملوث دي. د دوی غسل په اوبو نه کېږي، بلکې د دوی په وينو.»

خو مخکې له دې چې زما روح يې وپوښتي، هغه را ته خپله کيسه نه بس کوي بلکې دوام ورکوي. راته وايي اوبو ته اړتيا نشته. بارانونه دي اوري. خو دوی بايد ولمبول شي، د دوې مقدس غسل يوازې د دوی په وينو کيدونی دی.

روح مې نيغ په مخ کي بيا راشين شو. لاروي له سترګو پناه شو. د ارواحو د ښار کيسې لا دوام لري. راته کړي: په ياد خو به دي وي چې کله د ارواحو په ښار کې اوسېدي. مازديګر ماښام چې له کاره خپل کور ته راغلی ستړی ستومانه وي، په زينه کور ته ورختلي چې په کور کي دې ژړاو او انګولا تر غوږو شوه. ستا د ماشومانو په ښوونځي کې توغندي لګيدلي و، څو توغندي لګيدلي و. ماشومه لور دې ټپي شوي، کور ته راوړل شوې وه. يوماشوم دې له وېرې او ترهې ډار او خپل اکر له لاسه ورکړي و، خبرې يې نه شوي کولي.



www.sikaraam.com

زه لا د لويي دښتې په سينه ولاړ وم چې لاروی بیا راشين شو.

له خپل تخرګ نه يې څو انځورونه را وويستل، راته يې کړه وګوره:

په يو انځور کې د ارواحو دښار د ښوونځيو ماشومان له يوې مخې د ښار په واټونو او کوڅو کې په منډو دي. د ښار اوسيدونکي ټول په منډو دي. وايي د ښار نوم بدل شو. د ښار نوم کربلا شوه، شمر هلته بيا په څلورلارې کې ولاړ دی. توري يې لاس کې نيولي دي. يوه يې بربښي چې پړکا کوي او بله يې نه بريښي. دا هم وايي چې دلته د امامانو اولادونه نشته. د هغوی پرځای نن د ارواحو د ښار خلک بايد حلال شي. بايد ووژل شي او په خپلو وينو ورته غسل ورکړل شي. روح مي وايي:

وګوره له دې لاروي سره نن بلا انځورونه دي. يو بل يې دا دی:

يوه خور او ورور له مور سره د سهار په چای ناست دی، هغو ته د ابدي دونيا د سفر په باب څه نه دي ويل شوي. ناڅاپي د توغندي چرې د چايو له ګوټ او ډوډۍ سره يوځای کيږي، خور او ورور دواړه استول کيږي او مور يې په وينو کې ليت پيت کيږي.

لاروی له تخرګ نه بل انځور هم راباسي، په هغه کې درې واړه ورونه د سهار مهال د خپلي دندې په لور خوځيږي. مور او پلار يې ورسره خدای پاماني کوي، خو نيم سات وروسته د شمر په توره حلاليږي او جنازي يي په کور دننه کيږي. ماشومان هک پاک پاتي کيږي، تور سرې يې حيراني دريږي، پلار يې لويږيږي او مور يې له ډيرې ژړا و چيغو هم په ځمکه لويږيږي.



www.sikaraam.com

وايي چې نن د ښار د میندو او پلرونو په ګډه توغ تړلې دي وايي موږ ټول ابدي دونیاته ځو. نور د ارواحو په ښار کې ژوند ته دوام نه ورکوو، په جهر او په لوړ اواز وايي موږ ته نوره د تسلیت کلیمه په خوله وانخلئ. خو هغوی خبر نه دي چې ټول کارونه د دونیا د لوی بنجاره او د اوږود مخي قصاب په دستور کیږي. شمر د هغوله خوا ټاکلي او دنده یې اخیستې ده.



www.sikaraam.com

که دا خبره تکرار هم وي؛ خو باید ویې کړم. مطلب دا دی چې دلته د کوم قصر او ماڼي نه دا کیسه نه درته وایم. اونه خو له کوم میله ځای او یا د سمندر غاړه او یا د غرونو له لوړې څوکې درته وایم. خبره د ابدي دونیاپه باب ده. د ابدیت دونیا ابدي ده، هماغه ډول چې په فاني دونیا کې هر څه فاني وي. نو زه درته د ابدي دونیا کیسه کوم، هغه دونیا چې یو وار ورغلي بیرته دې ترې د راتګ هیله نشته. په ابدي دونیا کې زمان په تېرېدو نه دی. د وخت د ساعت ستنې په ځای ولاړې دي. مکان هم نه بریښي، محسوس نه دی، د لویدیځ او ختیز لوري څرکونه نه لګېږي، چې کوم کومې خواته دی، اسمان هم نشته. ستورې هم سترګکونه نه وهي یوازې خړې لړې او غبار دی چې وزری یې غوړولې دي. ارواح ګانې په فضا او تشه کې کښته پورته کېږي. ډېرې اشنا و نااشنا هلته شته دی، خو څوک په چا غرض نه کوي، د خبرو مجال هم له چا سره نه وي، په خبرو او مطلب پوهیدا هم عجیبه پیښه ده. هغه ځانته نزاکت لري. یو بل ته ګوري په یوه شېبه کې د یو کال پیښې یو بل ته بیانیدای شي.

نن مې روح لږ اوتر غوندې دي. وارخطا بریښي، داسې لکه کومه مهمه پوښتنه چې ورسره پیدا شوې وي. همداسې وه، خبره د پوښتنې اړوند وه. هغه دیوې لوېې لارې پر سر داسې برېښېده چې یو څه یې ورک کړي وي یا یو چا ته په انتظار وي. هو په رښتیا چې یو چا ته منتظر و.

هلته له برې خوا نه په لویه لاره کې یو دنګ او قوي سړي څیره را وبرېښېده، اصلاً خو د هغه روح و چې څېره یې ورته ترمخه اچولې وه، هغه هم د دې



www.sikaraam.com

لپاره چې وپېژندل شي او له نور چا سره یې خبره غلطه نه شي. د سړي په خبره کې د هغه د خولي او تنډې تر منځ واټن په قوده قوده بریتو پټ و، روح مې ورته منتظر و، هغه سم دواره زما د روح په پوښتنه پوه شو، ورته کړه یې:

هغه یو سوړ اسویلي وکیښ، لکه چې ستړې و، خو بېرته یې خبره غبرگه کړه، له جسماني ستړیا ستړي نه یم ځکه چې جسم او تنه خو نه لرم خو روح مې چې خپه دی، ستړی دی، له انسانانو ستړی دی، دوی ته چې گورم ټول او هر یو په یو کار بوخت دی. د دوی کار دا دی چې انساني نوع وساتي، کار یوازې د همنوع سره د مینې او عشق له مخې نه دی، بلکې په دې موخه دی چې په انسان کې له دې غریزې پرته بل هېڅ شی پیاوړي نشته.

رښتیا درته ووایم چې د همدې غریزې په بنیاد انسان ډېر بې رحمه دی، ماتې نه خوري، په خپل مخ یې نه را وړي، دا ځکه چې همدا غریزه ده چې په ډېر دقت سره د نوع جوهر یا انساني رمه ده.

روح مې وپوښتل: لږه دې خبره توضیح کړه، زما روح په فلسفو نه پوهېږي او نه یې پرې سر خلاصېږي.

ــ مطلب دا چې په انسان کې ډېر لنډ پاریتوب شته. کیدای شي دا همنوعان په ښو او بدو، په گټورو او زیان رسوونکو وویشو، خو کله چې په ټوله کې د هغو اعمالو ته گورو نو بیا خپل باور په دغه ویش او توپیرونو له لاسه ورکوو. که یو لور ته وگورو، ښایي ډېر شر اندازه انسان بیا هم په پایله کې ډېر گټور وي. انساني نوع وساتي او خوندي یې کړي. دا ځکه چې هغه کولای شي په خپل عمل سره په ځان او نورو کې دا غریزه فعاله وساتي. کومه چې له هغه پرته به بشریت او له ډېر پخوا تباه او برباد شوي وای. کینه، خوند، نورو ته زیان

رسول، بخښنه او د نورو لاس ته راوړل، په نورو لاسبری او په ټوله کې هغه څه چې بد ګڼو هغه داسې څه نه دي چې له یو عنصر پرته د همنوع د حیرانۍ وړ نظام ساتنه وي. لګښتي نظام او په ټوله کې ډېر نامعقول خو له کومه ځایه چې ثبوت شوې ده. همدې تر اوسه انساني نسل ساتلی دی.

پڼه، هډوړ، روح چې د پڼهو بریتو څېره یې درلوده اخیر یې د ګونګو او مغشوشو خبرو وضاحت وکړ، ویې ویل:

له انسانه ډار په کار دی، همدا دي چې خپل همنوع په بیرحمۍ وژني، وینه یې څښي بل هېڅ حیوان دا کار نه کوي، پړانګ د پړانګ د وژلو سبب نه ګرځي، زمري هم د زمري. نو انسان ته چې د زمري ستاینوم ورکول کېږي، د زمري په حق کې تېری دی.

زمري پړانګ او بل کوم حیوان بې له وخته په خپل جفت تېرې نه کوي، خو انسان دي چې د خپل شهوت د ارضا لپاره هغه ارزښتونه چې په خپله یې هست کړي، تر پښو لاندې کوي، یعنې چې فرهنګ او ارزښتونو سره هم دروغ وایي.

حرص او طمع خو به نه وایم. هغه به بیا بل وخت درته وښییم.

روح مي غلی شو ورته حیران شو، چوپ ودرید، خو هغه زیاته کړه ته مه حیرانیږه د انسان ټوله ناسمه کړنه د هغه له شعوره راوځي.

روح وایي، دا څنګه؟

ــ زه به درته د یو لېوني کیسه وکړم، دې ته غوږ شه!

ــ په سترګو !



www.sikaraam.com

اغه د ليوني داستان به دې نه وي اورېدلي چې په رڼا ورځ يې څراغ په لاس کې وو او د امپراتور په لټه کې گرځېده. تل يې چيغې او فرياد کاوه، چې امپراتور پلټم، هغه چې قدرتونه يې سارى نه لري. خو چيغې يې د نورو د خندا سبب شوې. يوه تن وويل:

ايا هغه ورک شوى دى؟ بل وويل: ايا هغه ماشوم دى لاره يې ورکه کړي ده؟ ايا هغه له موږه ډارېږي او ځان پټوي. بل همدا شان: ايا هغه مسافر دى يا کډوال شوى دى؟ نو په دې ډول خلکو چيغې او خنداگاني کړې.

ليونى د خلکو منځ ته ورغى اوهغو ته، هر يو ته ځير ځير شو، بيا يې چيغې کړې:

زه هم تاسو ته وايم چې امپراتور چېرې تللې دى؟ ما او تاسو هغه وواژه. موږ ټول د هغه قاتلان يو!

خو موږ څه ډول دا کار وکړ؟ څرنگه مو وکړاې شول سيند وچ کړو؟ چا موږ ته اسفنج راکړ چې ټول افق پاک کړو؟

نو کله چې موږ د ځمکې او لمر ترمنځ پيوند وشلاوه، څه وشول؟

اوس ځمکه چېرى درومي او موږ چيرې او کومې خوا ته بيايي؟ ايا موږ له لمرونو ليرې کيږو؟ ايا موږ له مخې او شا له خوا نه، له څنگ او بغل نه، او له هرې خوا نه سقوط نه کوو؟ ايا اصل پورته او کښته وجود لري؟ ايا موږ په لايتناهي نيستۍ کې نه سرگردانه کيږو؟

***



www.sikaraam.com

وايي چې لېونی په همدې ورځ بيلابيلو کليساګانو، جوماتونو او معبدونو ته ننووت او هلته يې د امپراتور ماتم او وير پيل کړ. کله چې خلکو هغه له کليسا بهر کولو او له هغه يې توضيح غوښته، لېوني په يوه ساه ويل: ايا کليسا، کنشت، صومعه، معبد، ګوردواره، جومات او نور د امپراتور د ارامۍ او قبر پرته بل څه دي؟



www.sikaraam.com

ابله ورځ د «نشت اباد» په بره برخه کې یو پهلوان را دبره شو. همدا چیغې یې وهلې، چې تسلیت، تسلیت، دا تسلیت نور په درد نه خوري. نور دا بې مانا کلیمات ولې تکرار کړو؟ ولې د ارواحو د ښار وګړي تېرباسو! ولې هغوی ته کاذبه هیله ورکړو؟ د څه لپاره؟ او تر څو به یې تکراروو؟ د هغه خبرې هم بدې نه وې. د یوه حقیقت عکاسي یې کوله، رښتیا موږ چې مړه یو او په اخیرت یا دنشت په دونیا کې یو. د ژوند تمه مو نشته، اوس هم لګیا یو تسلیت وایو. زموږ د تسلیت پړاو تېر شو.

تاسو خو خبر یاست چې موږ له هغه دونیا نه چې په مقدسو متونو کې ورته ابدي دونیا وایي، خبري کوو. موږ چې د ژوند کولو امید له لاسه ورکړی دی، نه یوازې ورکړی بلکې د هیلو او امیدونو په نامه هډو څه پیژنو هم نه. نو اوس باید دا ووایو چې خدای دې مغفرت زموږ په برخه کړي، ګناهوې دې را وبخښي او د جنت په واټونو او کوڅو دې موږ وربرابر کړي.

رښتیا له هغه مهاله چې دلته دې ابدي دونیا ته راغلي یو، نه خو د دوزخ څرک شته او نه هم د جنت، هسې په سپیره میدان مو ارواح کښته پورته کېږي چې که وغواړي څوك ویني چې ونه غواړي څوك نه ویني، دا عجیبه دونیا ده. دې ته د «برزخ» قلمرو وایي، دا د برزخ قلمرو هم عجیب قلمرو دی. دا هماغه قلمرو دی، چې«نر په کې ښځه کېږي او ښځه په کې نر کېږي.»

پوښتنه هم دا ده چې د ارواحو له ښار سره د دې برزخ د قلمرو توپېر په څه کې دی؟ ایا پوله یې ړنګه شوې ده؟



www.sikaraam.com

خو له دې ټولو کیسو چې تېر شو، اوس په برزخ کې مېلې کوو، برزخ به تاسو نه پیژني. لږ څه به مو سرونه درخلاص کړم:

برزخ له دوزخ نه وروسته د ظلمت له سیمو د نهو ګونو طبقو څخه تېریدل دي، د ځمکې د کرې له اوږدو لارو تیرېږي او هاغې خواته رسېږي. هلته له ستورو ډک اسمان ویني او بیا درې ورځنی سفر پیل کېږي، چې هغه برزخ دی. په دوزخ کې مسافر سرګردانه دي، کړاو ګالي خو په برزخ کې نو هر څومره چې د برزخ په طبقاتو کې قدم ږدي، ځان او د خپلو اوږو بار سپک احساسوي. جنت ته په رسیدو بیا دا ټول کړاوونه لیرې وي.

اوس چې زما د افکارو سمندري بیړۍ چې توفاني سمندر یې شاته پرېښود، چپه یا (ډینګري) مې راپورته کړه، چې د څپو له پاسه په ارامه تېر شم.

دا دی زه د دې دویم قلمرو په باره کې خپله نغمه بولم، چې د انسان روح په کې تصفیه کېږي او اسمان ته د پورته کیدو وړتیا پیدا کوي.

په دونیا کې چې به کښته پورته کېدو او ژوند به مو کاوه، خو ښه ورځ مو ونه لیده. دلته لږ ارام یو. یوه نیمه ملایکه را پیدا شي څو پوښتني وکړي دروغ او رښتیا ورته ووایو نو بیا مو له مخې پناه شي. د ملایکو لپاره هم کارونه ډېر شوي دي، د ځمکې د سر چړیان ترې جوړ دي.

اوس خو که رښتیا درته ووایم موږ د تسلیت ویلو ته اړه نه لرو، ځکه تسلیت ژوندیو ته ویل کېږي، هغه متل به مو اورېدلي وي چې وایي چې، نه کار هلته څه کار. دا ځکه د ژوندو له دونیا چې ولاړې نو بس ولاړې، بیا ګرځه لېونیه. مزې کوه. که ایمان دې تېر کړ، خو ۷۲ حورې به وې او شپه او ورځ به ورسره



www.sikaraam.com

«بیش باقو» کوې او که تېر دې نه کړ، نو بستره واچوه او له مخ نه دې مچان شړه.

ابله ورځ مې زیگموند فروید کاکا مخې ته راغی ویل یې: مبروک، برار، مبروک چی زنده جان قشنگې دارین. ما ویل اکا خبره دې څه ده؟

هغه ویل لکه چې د پیل په غوږ کې ویده یې او له څه نه خبر نه یې؟

ما ویل څنگه؟

هغه ویل: دا چې اوس په کوم ځای کې یې او راتښتیدلي یي او له ژوند کولو توبه گار شوي یې، نه یوازې ته بلکې د هغه سرزمین ټول نفوس د هماغه جنسي محرومو ملایانو له لاسه چې له جوماتونو نه یې د «د لاهور مشهوره کوڅه» جوړ کړې، د ځمکې پر مخ یې دوزخ جوړ کړ، یو پر بل سورېږي،.طالبان زېږوي کله چې وطن ته داخل شول. د جهاد په نامه یې درته ټول «اغوانیستان» لوټې لوټې کړ، دومره پاټې ده، چې په سمنټې دیوالونو کې هم د خپلې ارضا لپاره درزونه جوړ کړی.

زه یې حیران کړم؟

رښتیا درته ووایم. زه حیران شوم! د زیگموند اکا خبرو دا خیرت په دونیا کې لېونی کړم. راته یې وویل، چې زه درته یو وړاندیز لرم:

ما ویل څنگه؟

هغه وویل: ستاسو د ملک ټوله خاوره خو قبرونو نیولې، څه په بمباردونو کې د ذلیل په د سایسو کې بنجاره ووژل، امریکنیانو ووژل او څه د الله اکبر په نعره د



www.sikaraam.com

جنت ټیکه دارانو چې اوس هم لګیا دي، ساطول یې لاس کې دی، نو راشئ او له همدې قبرستانه یو لوی سراسري جومات جوړ کړئ چې هم ثواب او هم خرما شي. ما ویل هغه څنګه؟

هغه ویل ثواب به یې عبادت ځای وي او خرما به یې دا وې چې څوک ژوندي ترې پاتي وي، نو چړیانو چې اوس ځانونو ته د جنت نرینه پربښتې (!) وایي دهمدغه تور سترګو اهریمنانو سره به یې سات تېر وي.



www.sikaraam.com

هو! دلته ارواح خبرې کوي، هغه ارواح چې د جسم له عذابه اوس فارغې شوې دي. هغه روح چې په یوه ختېه کې پوه (پف)شوی و، یو عمر یې په هغه ختېه کې تېر کړ. په هغه کې کښته پورته شو. خواوشا یې ولیده، عذابونه او کړاوونه یې ولیدل او دا دی اوس ترې جلا شو.

هو! دا هغه روح دی چې په جسم باندې د شکنجو شاهد و، د عذاب او کړاو شاهد و. خو اوس دا دی فارغ دی، روح لکه یو شاهین چې د ځمکې په دښتو والوزي، په یو ځنګله ننوځي، د ځنګله د ګڼو او دنګو ونو جاج واخلي پرې والوزي، یوه لویه دوره وکړي او بیا دیو دنګ غره په لوړه څوکه کښیني، سترګې شاوخوا وغړوي. کجیران ویني چې په مردارو بوخت دي. لاشونه او مړه شوي، وژل شوي حیوانات راباسي. شور او پکړ یې پرې جوړ کړي وي، په خپلو کې سره په جنګ او دعوا اخته وي. بلې خوا ته هم چې پام واړوي، وحشي غرني ځناور ګوري، چې د نورو ښاروېو او حیواناتو په لاشونو بوخت دي. زورور ځناور یې سترګې سرې راویستلي وي، کمزوري ورته زیړې زیړې ګوري. روح له دې ټولو لیدنو وروسته له ځانه سره فکر کوي، بیرته یې ځواب یاد ته ورځې. هو د ځنګل قانون همداسې وې.

بیا هم د ځنګله ښاروېو، حشراتو، بوټو او ونو ته پام اړوې، له هماغه ځایه په بنیادمانو سترګې ښخوي چې په لږ توپیر هغوی هم داسې بوخت دي. څرنګه یې په خپل کار او روزګار یې زړه کلک تړلي وي، چې څرنګه د خپل ځان او



www.sikaraam.com

خپلې راتلونکې په اندیښنه کې ډوب دي. دوی درد زغمي، کړاو ګالي، سختۍ پرې تېرېږي خو سترګې یې په راتلونکې ګنډلې وي.

دا روح چې اوس له دې اندیښنو فارغ دی، د غره له سره د اسمان له مورګو، د سپوږمۍ د کاسې له سترګو د لمر د وړانګو له تنابونو لاړې ویني، هر څه ورته روښانه دي. اوس دا روح فارغ دی. کله چې سهار مهال د اخیرت او د بلې دونیا یا ابدې دونیا په دښتو ورسم، شي هلته ګوري چې هر څه په لړو او راتېتو او پلنو خورو ورو تورتمو وریځو پوښلي دي. هغه د بنیادمانو ارواح ګوري، چې د ښاپیریانو په څېر کوچني په یوه او بله خوا اوړي، هغوی هم د خپلو تنو نو راجلا شوي او په ابدي دونیا کې لالهانده او سرګردانه سر وي. په دښتو کې شینشوبې کم ښکاري یوازې سپیرې دښتې وې. ارواحګانې په کې کښته پورته کېږي. د هغو خبرو ته یې غوږ ایښي وي. ورته ګوري دوې پخپلو منځو کې خپل مجلس ګرم کړی او په خپل منځ کې یو له بله پوښتي.

ــ اوس خو به څوک له هغې دونیا نه وي راغلی؟

ــ کومه دونیا؟

ــ هغه چې «مکاره بازار» ته پاتې کېږي، هغه چې «قلدران» او زورواکان په کې خپله پنځه زره کلنه بوډۍ مور منډیي ته راولي او بیا پرې بیه بږدي.

ــ او س پوه شوم، د ژوندو په خبرو مې سر خلاص شو. هغه دونیا کې چې ځینو په کې مزې کولې، هماغه دونیا چې اکثریت ژوندي پکې له خپل تن او جسم سره ګرځي.

ــ هو هماغه دونیا درته یادوم.



www.sikaraam.com

ــ هغې دونیا کې اوس هغه خوند نه دی پاتې، «هغه د ژمي مازدیګر ته پاتي کېږي»، د ژمې د مازدیګر لمر په شېبه کې د غره له سره اوړي او پناه کېږي.

ــ اوس له هغې دونیا ډلې ډلې راروان دي، همدې خوا ته راځي. خلك دا باور لري چې ژوند پیکه شوی دی. د مرګ سیوري په ټول ښار پلن دی. هلته د ارواحو په ښار کې جذام ناروغي سرایت کوي، دا هغه جذام نه دی چې طبیبان یې یادوي بلکې دا یو بیل جزام دی چې لومړې مغزو کي ځای نیسي او چې ځای یې ونیو، نو بیا د جذام والا اپوټه وي. عاطفه، احساس، مینه هر څه له لاسه ورکوي او د دروغو پنډونو ته اوړه ورکوي. په ځان دروغ، په دین دروغ او په خدای هم دروغ وایي. دا بیل خیل جذام دی. جذام نه بلکې یو داسې مرض دی چې د جذام په څېر خلك رېبي.

ــ دا رښتیا جذام دی؟

ــ هغه جذام چې پیژندل کېده، هغه نه دی، دا بل خیل جذام دی. دا سم دم بنیادم دی، خوا ته رااستوي.

دا داسې جزام دی، چې انسان لومړي نشه کوي، د ژوند مانا ورته له صفر سره تقرب کوي. هغه داسې انګېري چې مرګ بنیادم یوې بلي دونیا ته استوي. هلته چې هر څه شته. لوږه او تنده هلته خړوبېږي او د عمرونو نعمتونو ته لاسرسي پیدا کېږي. هلته جنسي غریزه او محرومیت ارضا کېږي. د همدې اندې په بنیاد عجب رسم اودود لاسبری ویني.

هلته خو له یوې خوا داسې جزام دی، خو له بلې خوا یو فریق حاکم دی. داسې فریق چې پنځه زره کلنه بوډۍ مور یې په مارکیټ کې کښینولې ده، سوداګر راځي او تېرېږي. خو هره ورځ یې بیه راټیټېږي. دوی شرم او حیا نه



www.sikaraam.com

لري دا ځکه چې د دوی سترګې د سر له کاسي پورته تندي یا ټنډې ته ختلي دي، نه هم ځان ویني او نه هم نور. نږدې ده چې د خپلو کالیو، ښختګونو او لونګوټیو سره د نورو په سترګو کې ننووزي. یو بې شرم مخلوق دی. دوی په اسلام کې، په دیانت کې یو څه نوره اضافه راوستي ده. دروغ، منافقت او پستي یې هم وراضافه کړې ده. نو ځکه باعزته او بااحساسه خلک ورځ په ورځ کالي راټولوي، دې خواته یعني د ابدي دونیا په لور رااروان دي. هغوی وایي، بې له هر څه هم مرو، په بمونو الوځو، په راکټونو او توغندیو ویشتل کېږو. په چسپکي بمونو الوزو، یوازې د تسلیت کلیمه لکه د سر درد دوعا چف کېږي او نور هېڅ، او که دا هم نه وي نو کلک ټکي را پیدا کېږي او په هغو غندل کېږي.

ــ نو دا کلک ټکي یې لا څه دي؟

دا «کلک ټکي» تر اوسه پیدا شوي نه دي، دا یو ډول امریکایي ټکي دي چې د ارواحو په ښار کې نه پیدا کېږي، یوازې د چارواکو په پرتوګونو او پرتوګاښونو کې غوټه شوي دي. د همدې لپاره دوی پتلون نه اغوندي؛ بلکې د خوب کالیو کې دا کلک ټکي ښه پټېږي.

ــ ښه نو دلته به د ارواحو له ښاره نور کسان هم کوچ راکوي؟

ــ عجب روح یې! ډلې ډلې ځوانان قتلېږي، په بمونو الوزول کېږي، د بنیادمانو تنونه ټوټه ټوټه کېږي.

وژل کېږي، غوښې او هډوکي یې هوا ته پورته کېږي، په کوڅو کې، په دېوالونو نښلي او بیا وایي:



www.sikaraam.com

دا د خدای کارونه دي.

همدا سبب دی چې یو فریق، په خدای باندې تومت کوي. تومت یې حده زیات شوي دی. دا هم وایي چې موږ د خدای د رضا لپاره، د کلمت الله لپاره، په ځمکه د اسمان د قانون د پلي کولو لپاره دا هر څه کوو، ارومرو چې خدای به هم په حیرت کې وي چې دروغ او منافقت او جزام هم حد لري. اوس د ارواحو د ښار خلك ورو ورو راکوچیږي. ځینو کالي او پنډوکي تړلي دي. ځیني د کالیو غم هم نه کوي. وایي دلته نور د ارواحو په ښار کې ژوند نه کیږي. پنځه زره کلنه بوډۍ مور هم پلورل شوې ده، ټکري یې له سره لوېدلي دي. حیرانه دریانه ناسته ده. هغه بوډۍ خاورې پر سر بادوي وایي:

ـ زما همدا سزا بس ده چې حرامیان مې زیږول.



www.sikaraam.com

په همدې مهال چې وګړي له هوا نه ځمکي ته را تلل، ارواح ته د مقدسو متونو روایت مخې ته ودرېد، چې په پیل کې هماغه شان ټوله فضا لړو نیولي ده، اوبه ډنډ ولاړې دي. د ځمکې او خاورو غرونو او ځنګلونو درک نشته. بنده خو هېڅ نه لیده کېږي، یوازې یو ماهي د اوبو له منځه سر راپورته کړي، بیرته غوپه شي، لمر هېڅ نه برېښي. خو د سترګو په رپ کې چې کلونه او زمان اوړي، ناڅاپه ځمکه، د سمندر له منځه را پورته کېږي. بیا لمر راخېږي. نه خدایه!

اصلي کیسه پاتې شوه، اصلي کیسه د بنجاره کاکا ده، اوس هغه د لمر او کایناتو د کنترول دعوه ګیر دی. په همدې بنسټ نن بنجاره کاکا یوه نوې دم دوعا چف کړه لکه چې د ارواحو د ښار په وګړو یې جادو وکړ. سملاسي یو توفان را والوت. د ښار لیوني وګړي ټول د ځمکې له سره پورته شول، په هوا شول او بیا له هوا څخه یو یو ځمکې ته راتللو. هغه هم داسې راتلل چې ارواح به یې په هوا کې پاتې کیده، له جسد نه به یې الوتله، نو کله چې به یې جسد ځمکې ته راورسېد، هغه به ذره ذره شوی و، بنجاره به ورته له ورایه چینګه خوله ولاړ و او د فضا ننداره یې کوله.

هو! لکه څنګه چې په مقدسو متونو کې راغلي، هماغه شان ټوله فضا لړو نیولې، اوبه ډنډ ولاړې دي. د ځمکې او خاورې د غرونو ځنګلونو سرونه نه بریښي. بنده پر هم نه لیدل کېږي. خو د سترګو په رپ کې چې کلونه زمان اوړي، ناڅاپه ځمکه د سمندر له منځه را پورته کېږي. لمر راخېږي. نه خدایه! لمر لکه یو عاشقانه سترګک، څرک وهي، نه راخیژي خو د لړو تورتم لا ټوله



www.sikaraam.com

فضا نيولې وي. بنيادمان هم راشنه کېږي. د بوټو او خځلو په منځ کې راشنه کېږي. شيطان چې اوږده لکړه يې په لاس کې ده او پر لارې کوږ ووږ درومي، څوکړه ږيره يې له مخ نه را ځانګي. پزه يې د مخ په کاسه کې ننوتې ده، شنې سترګې يې چې يوه اوږده او بله ګرده بريښي د څيرې بدرنګي يې ورته نوره هم زياته کړي ده. هڅه کوي چې د بنيادمانو په تن کې ځای ونيسي، بالاخره ځای نيسي، د پليدو بنيادمانو په وجود کې ځای نيسي او خپله کارروايي د هغو له وجوده کوي. نور هغه په لاره، په مالت او قلمرو کې نه بريښي بلکې د عاصي او ګناهکارو بنيادمانو په تن او روان کې سنګر نيسي. له هماغه سنګر نه سالمو انسانانو ته يوه بله دونيا جوړوي چې هغې ته دوزخ وايي.

دا داستان له لومړي ورځي ان تر ننه دوام لري، د بني ادم او شيطان ترمنځ ناپايه او نه خلاصيدونکي جګړه دوام لري او تر موږه رارسېږي.

په همدې ترتيب پرون چې مهال يې نه بريښيده چې سهار و او که غرمه کله چې ارواح دوزخ په يو واټ کي تاويدله، يو کوږ او مات ګوډ بنيادم چې تازه او نوی د وزخ ته راغلی و، وبريښېده چې د ابديت دونيا ته يې له فانې هغې راکوچ کړې دي، روح ورته ټکنې او پښه نيولې شو. ارواح غوښتل چې ترې وپوښتي او د فاني دونيا حال ترې واخلي.

خو مخکې له هغه چې ارواح يې وپوښتي هغه لکه بزرګ د زماني يا دا چې شېږم حس ورته ويلي وي، پخپله کيسه کوي:

وايي بس پوښتنه مه کوه. پر هغه ځمکه چې موږ خاپوړې کولې، اوس هماغه ځمکه ورځ په ورځ پړسېږي، ډډېږي، ځمکه پورته کېږي، په هغه کوڅو کې چې موږ خاپوړې کولې، هغه اوس ټولې ډډې دي. پړسدلې دي، پړسېږي او



www.sikaraam.com

راپورته کېږي پسې. ژوندي تر خاورو لاندي کېږي، نو د دې لپاره چې ځمکه يې ښه هواره شي. له بنيادمانو تشه شي نو شيطان دا وار په بله جامه او په بله څېره کې را برسېره کېږي.

وايي چې له کلونو را هيسې شيطان په دې لټه کې وو، چې يو څوک پيدا کړي، شيطان انديښمن و، چې ځرنګه دا ځمکه هم شاړه کړي. بنيادمان يې ارامه ساه ونه کاږي. په عذاب او کړاو اخته شي. مرګ پر هر څه غوره وبولي. هغه و چې شيطان کلونه کلونه په دې انديښنه کې تېر کړل. شيطان پتييلي وه چې خپل کار پر هغه چا ښه تر سره کولای شي، چې حرامي وي او د رشوت په ډوډۍ را لوي شوي وي او يا يې نطفه د رشوت اويا يې د رشوت له خوراکه جوړه شوي وي. د «رشوت اباد» په کور کې زېږيدلې وي، د داسې سړي زوي وي چې په منافقت او حراميتوب کې يکه تاز وي. نو يوه شپه يې خوب وليده چې يو ماشوم يې د کټ بازو ته ولاړ دی، ورته وايي:

ولې دلګير او ساه نيولی خپه برېښې. لکه چې څه دي ورک کړي دي؟

شيطان په خوب کي ورته وايي: داسې معلومېږي چې ته زما له انديښنو خبر او پرې پوه يې، چې پر څه چرت وهم او په څه باندې انديښمن يم.

شيطان چې د دونيا علوم ورسره دي، د خداې تعالي هوښياره خو لعنتي پرښته ده. لا له وخته پوهېده چې په خوا کې ولاړ ماشوم يې هغه وسوسه ده چې له کلونو ورسره وه او اوس په يوه بله څېره کې را ښرګنده شوه. ماشوم په شېبو شېبو کي غټېږي. اوږدېږي، يوه بله څېره خپلوي. يوه دهشتناکه څېره، يوه ډاروونکې څېره، مخ يې اوږدېږي. د دونيا د لويې شيطان خانې په کارخانه کې را پوخ شوې برېښي.



www.sikaraam.com

د مخ کاسه یې یوه اوبښ ته پاتې کېږي، خو داسې اوبښ نه، بلکې داسې اوبښ چې تیره ښکرونه هم لري، سترګې یې بتې بتې راوځي او یوه مرداره او کرغېړنه څېره خپلوي.

ولاړ کس چې د ماشوم له څېرې جوړ شو، ورو ورو یې په غاړه کې د تاویذونو یوه اوږده غاړکۍ لیدل کېږي؛ خو په بل لاس کې یې یو اوږود بوتل هم شته، بوتل داسې برېښي چې په هغه کې مخصوص نشه یې مواد دي، چې کله یې هسې یوه ذره هم څوک ووینې، نو بیا بې خوده کېږي، شیطان په خوب کې پوښتنه کوي.

اعلیحضرت(!) شیطان، چې د فاني دونیا پادشاهي دي تر امر لاندې ده، په شرق او غرب دې فرمان چلېږي ووایه څه وکړم؟

ځکه ته به هېڅکله زما په څېر مرید پیدا نه کړې، زه په هماغه خاوره زېږیدلی یم چې ته یې د هوارې او د بنیادم د امحا انده لرې! ووایه چې په پوره مهارت دې ارمان پوره او اندیښنې دې رفع کړم. باور وکړه چې زه ستا وفادار او رښتینی شاګرد یم. ستا مرید یم مرید څه چې زه ستا مریې یم. ستا ټولې اندېښنې به درته یوه یوه رفع کړم دا ګورې دا هغه تاویذونه دي چې بنیادم درته په غره خېژوي.

شیطان په کټ کې د خوب په حالت کې په ډډه اوړي، خرار یې کمېږي، له ځانه سره بونېږي. لکه چې پوښتي: بس دا تاویذونه او کوډې خپل کار کولی شي، خو دا راته ووایه چې په دې بوتل کې دې څه دي؟

هغه ځواب وایي: دې بوتل کې هغه څه دي چې تصور به ونه کړې؟ دا یوازې نشه کول نه کوي، بلکې بنیادم بدلوي. کله چې دا د بنیادم له ستوني تېر شي نو



www.sikaraam.com

له هغه چې هر څه وغواړي جوړېږي. دا په بنیادم کې د حیوانیت د راژوندي کیدو درمل دي، هغه چې په وجود یې ورړی او پشم راښکاره کوي، مخ یې وړي پوښي، سترګي یې توریږي، د خلکو د تیر ایستلو لپاره اوراد تکراروي. خیته یې را بهر کیږي. سورین یې پلنیږي او ادعا کوي چې د اسمان قانون په ځمکه پلي کوي او د ځمکي قانون اسمان ته خیژوي(!).

د بوتل شربت ته اندېښنه مه کوه، دا هغه درمل دي چې څښونکي یې د تل لپاره نشه وي له خپل ځان سره نا اشنا کیږي. هر څه چې ترې وغواړي هغه کوي. د څه پروا نه ساتي. هغه داسې نڅاه هم کوي چې شکیرا(امریکایي ډمه ) یې ګرد ته نه شي رسیدلي. خو دا نڅاه هم د خداې امر بولي. دروغ او دوکه یې تاسې هم تصور کولی نه شئ.

دا به داسې نڅاه ګر وي، چې په خوله به د خداې او د دیانت چیغي وهي، خو همدوې به د خداې د اوامرو د عملي کولو مخالفه لاره نیسي. دوی به ډېر بد رنګ وي ډېر بده څېره به لري، خو نڅاه به یې نه په شرق کې بیلګه لري او نه په غرب کې. د دې ځمکې خلك به سم دم لیوني کړي.

شیطان ترې بیا پوښتي، چې په بوتل کې څه دي؟

خو هغه ماشوم چې ښکرونه یې ویستلي او د اوښ په څېره کي ولاړ دی، لکه د فولکلوري کیسو لندهور یا دیو (دیب) ورته وایي: پوهیږې دا زهر دي. بوتل کې هغه زهر دي چې سقراط او افلاتون یې نوم هم نه دی اخیستي. مارکس او فروید هم پرې پوه شوي نه وو، یوازې د اپیون نوم یې ورته اخیستي دی، هغوی هم له دې پیژندني بې برخې پاتې شوي او تللي دي. دا هغه زهر دي چې بنیادم ته شکنجه ورکوي. په رنځ یې اخته کوي، او بیا یې داسې وژني چې



www.sikaraam.com

د چا خبره وينه يې هم نه تويېږي. دا د سرطان د پيدا کولو او د سرطان د تخم کرلو لپاره ستا نورې زياتې هڅې ته اړتيا نشته. بس د راتوليدو ځای د عبادت ځای د خوښي او خوشالي په ځای کې لږ وشينده، په يوه شين شوبي يې وشينده، بيا خپل کار کوي.

شيطان په خوب کې په ډډه اوړي، سره له دې چې تشو بولو هم په عذاب کړي دي، د خوب ليدلو له لړۍ خوند اخلي او ښکره ور ځناور اوږود مخې حريص ورته په يوه ساه لگيا دی، ټټر ورته ډبوي، ورته وايي:

«من به شما اطمينان ميدهييييم کاري که من ميکنم هنوز در خيالات و تصورات شما جای نداشته ميباشد استک.»

شيطان له خوبه پاڅېږي، له ځانه سره وايي: ډېر ښه خوب مې وليده. اړتيا نشته چې اوبو ته يې ووايم. همدا به عملي شي او د تسليت او ډاډگيرنې کليمات هم بايد نور له فرهنگونو ليري شي.

۱۸

دا مهال ارواح لکه د ژوري ځاه نه چې خبرې کوي. د تېر ژوند او تېرو حالاتو خاطرې او يادونه راته مخې ته بردي او په دې ډول خپل داستان غځوي:

***

ټوله ورځ په سوچونو او اندېښنو کي تېره شوه، روح په ډېرو گرځېدو او الوتو ستړی شو، د خوب ځای ته ورغی چې بس ويده شو او له دې بې ځايه سوداګانو او اندېښنو گوښی شو، خوب ته په ورتللو يې سملاسي سترگې پټې شوې، هر څه اندېښنې، سوچونه، گيلې او گروېږنې، ژړاوې او خنداوې ټولې بهر پاتې شوې. داسې يې انگېرله چې دا کار به وشي، خو روح لکه چې تصور کوي ويده نه شو، بلکې په خوب کې ويښ پاتې شو. اوس هم هماغه لړۍ کې تيندك خوري، روان دی. يا په يوه بل سفر کې له يوه بل حالت سره مخامخ دی.

***

دا وار د روح سفر د ځمکې لاندې او د هغه ابديت دونيا کې چې دمخه به رهي و، نه وو، بس د ځمکې پر سر و، دلته لمر او اسمان ليدل کيده، که شپه وي ستوري هم سترگکونه وهي، هلته د خپل سفر په دوران کې د لمرخاته په لور په ارتو گامونو روان او الوتنه کوي، لمر نوې څړيکه وهلې ده، د ښار منځ ته ورداخلېږي، د ښار خلك ټول وارخطا معلومېږي، له هر چا چې پوښتنه کيږي بس وايي: موږ برزخ کې يو، د دوزخ په لور روان يو، خلکو او ښاريانو



www.sikaraam.com

ټولو په غوړونو لاسونه ایښي دي، سرونه او سترګې یې پورته نیولې دي، داسې برېښي چې ټول د یوې معجزې په تمه او انتظار دي. لکه چې د اسمان په لور د اسمان له څنډو راکوزه شوې لار څاري چې یو څوک یو ناجي یا منجي راشي، دوی ته داسې زیري راوړي چې د زړه سوبه یې وشي .

نو عبث خیال او بېځایه اندېښنه، بې ګټې هڅه او کوښښ. د ښار ټول خلک پورته اسمان ته ګوري، هېڅ شی په نظر نه ورځي؛ د دوی سترګې ورته برندې دي. غوړونه یې د یو څه اورېدو لپاره څک کړي دي، مخامخ یو ستر او دنګ دېوال لکه غر هسې نړېږي. ورو ورو په ځمکه کښېني، هوارېږي او له دېوال څخه اخوا قلمرو د یو سپیره ډاګ او په ډاګ کې دننه خوسا ډنډونه چې سخت او بد بوې ترې راپورته کېږي، سږمي سېځي ټوله فضا یې نیولې ده؛ خو د ښار خلک لا هماغه شان پورته په څو او په کتو دي، دلته له دېواله اخوا قلمرو څه بل شان دی، د قمچینو او دورو په لاس سپاهیان ګرد تاوېږي، د یو نیم کس په لټه کې دي، ګوري چې هلته وړاندې د خلکو د ګڼه ګوڼې په منځ کې یو ببر سری لېونی چې د تاویزونو، تسپو او مریو اوږده زینارونه یې په غاړه پراته دي، وېښتانو یې چې اصلن یې اوبه لیدلي نه دي. خاورو او دوړو په کې ځای نیولی دی، یوازې په توره خوله اوبرې بږیرې له منځه یې سپین غاښونه ځلېږي او سپین برېښي .

لېوني ښه را نږدې کېږي، په رڼا ورځ یې څراغ په لاس کې نیولی دی، په ښکاره چیغې وهي:

زه امپراتور لټوم، امپراتور چیرې دې؟



www.sikaraam.com

هغه فریاد کوي چیغې وهي خبرې یې د ټولو ښاریانو چې پخپله هم اوتر او وارخطا دي، په خندا بدرګه کوي، په لیوني ملنډې وهي. یو تن ورنږدې کېږي ورته وایي:

ایا امپراتور لادرکه شوی دی؟

بل تن وایي: ایا هغه ماشوم وو او لاره یې ورکه کړې ده؟

بل تن وایي: اې لېونیه موږ ته ووایه چې هغه له موږ ډارېده چې اوس نه معلومېږي؟

پوښتنې ډېرېږي بل تن وایي: ایا هغه امپراتور مسافر شوې اوکه له خپل کلي کوره نورو ملکونو ته رهي شوی دی؟

په دې ډول د ښار اوتر اوتر او وارخطا خلک چیغې وهي، خنداګانې کوي، خو لېونی د خلکو په منځ کې ننوځي او هغوی ته ځیر کېږي او ناڅاپه چیغه وهي :

«زه هم تاسو ته وایم چې امپراتور چېرې تللی دی، ما او تاسو له هغه ځان وژغوره.موږ ټول د هغه قاتلان یو. خو موږ څه ډول او په څه شان دا کار وکړ، ایا پوهېږئ؟

موږ ټول د امپراتور قاتلان یو! خو په دې مو سر خلاص دی چې څه شان مو دا کار وکړ او له امپراتور نه مو ځان بېغمه کړ؟

موږ څرنګه وکړای شول دا لوی سمندر وچ کړو؟ یو چا ورته هګۍ کېښوده اوسمندر ټول په هغې کې ورک شو.

پوهېږئ موږ چې کله د ځمکې او لمر ترمنځ پیوند وشلاوه څه وشول؟ اوس پوهېږئ ځمکه په کوم لور درومي او موږ چېرته له ځانه سره بیایي؟ ایا موږ له لمرونو لیري کېږو؟ ایا موږ له مخې او شاه له څنگ او له هرې ډډې سقوط نه کوو؟ ایا اصولاً کښته او پورته شته،کوم څه شی شته! وگورئ، موږ په لایتناهي نیستۍ کې سر گردانه یو، موږ خپل لوری لودن نه لرو. هسې پورته مه گورئ، له اسمان څخه له راکوزو شویو لارو مخ واړوئ، څوک نه راځي بلکې تاسو په هغه لار گام واخلئ»

وایي چې لېوني په همدې ورځ بېلابېلو معبدونو ته ورننووت. او هلته یې پخپله د امپراتور په ماتم پیل وکړ، د سر وېښتان یې وشلول، د خپلې غاړې مرۍ او تسبیح یې وشلولې، خو کله چې خلکو له هغه وضاحت وغوښت نو لېوني په پرله پسې نارو وویل :

«ایا د امپراتور د ارامۍ لپاره په ځمکه کې کوم ځای شته؟ ځمکه هغه ته له قبر پرته بل څه نه ورکوي.» نو امپراتور خپه شو،هغه په دې خپه شو چې ډېر ناروا کارونه دهغه په نامه تمام شوي دي. هغه له دروغو پکو و، نو ځکه یې ځان پخپله خپه کړ.



www.sikaraam.com

## ۱۹

کېدای شي تاسو پوښتنه وکړئ، چې ولې د تسلیت لړۍ همداسې زېږي او رامنځته کېږي. واقعیت داسې دی چې د تسلیت کلمه د افسوس د لړولو او یو چا ته د ډاډ ورکولو لپاره کارول کېده. د یو چا د درد او رواني کړاو د کمښت په خاطر ویل کیده ؛ نو که موږ او تاسو خپل حالت ته پام وکړو، په واقعیت کې موږ په بله دونیا کې یو. موږ د ژوندو له قلمروه کوچ راکړی دی، په داسې جغرافیه کې یو چې ماضي او مستقبل نه لري خو د غمیزې د پای نقطه لا هم نه ده رارسېدلې؛ نو چې داسې ده په یو لور روان یو. په داسې حالت کې به ارومرو یو بل ته تسلیت وایو.

خو دا تسلیت د ځمکې پر سر نه دی او د ژوندیو د کلي د وستل تسلیت هم نه دی بلکې د ارواحو په ښار کې تسلیت دی، چې ژوند خو نشته، خو د مرګ هم څه پته نه لګي. یوازې ارواح چې بنګار کوي او دې خوا او هغې خوا ته الوزي. خو زه به درته اوس د دې ورځو خبره وکړم:

پرون چې د برزخ د هغه لوړ غره وروستې څوکې ته زما روح ساه وتېږه وروخوت، نفس یې قید او بیا یې ساه واخیسته. لاندې هوارې او ناپایه دښتې ته یې وکتل، ګوري چې یو مست اوښ تر سترګو کېږي. روح ته تلوسه پیدا شوه، چې په دې پراخه جغرافیه کې چې لمر په کې له مغربه راخېژي او په مشرق کې غوپه کېږي. اسمان ځمکې ته راځي او ځمکه اسمان ته پورته کېږي. ستوري له وېرې او ډېرې ترهې پړکا نه کوي، سپوږمۍ هم لکه



www.sikaraam.com

شرمندوکې پیغله پټ پټوني کوي او د وریځو پلو مخې ته نیسي؛ نو زما روح حیران شو چې دا اوښ څه کا؟

ورو ورو لکه چې ګامونه اخلي، لاندې هوارې ته راکوزیږي ؛ خو یو څه وخت اخلي. د غره له لوړې څوکې نه هوارې ته مزل دولس کاله ونیول، خو چې کله هوارې ته راکوز شو، د لمر سترګه له اسمانه راکوزه شوې وه او په هواره رغړېده. کتل یې چې اوښ رانږدې شو. دا وار یې کوپان لږ هوار برېښېده، ترې وې پوښتل چې دا ولې؟ څنګه دې کوپان نشته؟ هغه بیان کړه:

کوپان مې لږ اره کړه دا ځکه چې بادار مي راته ویلي و، کله چې د خره په نقش کې کار کوي نو بیا اړتیا نشته چې کوپان ولري، نو ما هم کله چې بغداد کې د یزیدیانو زیارت ته ولاړم د زړه له اخلاصه مې دوعا وکړه او چې کورته راتللم نو بیا کوپان نه و، نو اوس زه په ارامۍ سره کولي شم چې د خره په نقش کې هم کله ناکله ظاهر شم.

اوښ مخې ته ودرید، خوله یې له زوزانو ډکه وه. سپین ځګونه یې هم له خولې وتل، بادېدل او پورته کېدل. د هغه د خولې ځګونو به د دښتي له پاسه د وریځو ځای نیوه .

اوښ ښه رانږدې شو. ډېر په ناز او نزاکت راروان وو، اخوا او دې خوا اوښت. کوږ ووږ روان وو، ارواح مې غوښتل چې ویې پوښتي چې دلته څنګه راغلې؛ دلته خو برزخ دی؟

دلته خو پوره او نیمه ګناهکاران راځي، بیا انتظار باسي چې کله یې وخت پوره شي نو بیا یا دوزخ ته ببرته ستانه شي یا ایمان تېر کړي.



www.sikaraam.com

خو اوښ لکه د پنج پیر مولوي صیب چې د ډېرې حلوا د خوراک په وجه یې اوږود ارګمی وکړي، راته په وینا شو وایي:

زه هسې دې خوا راچکر شوم، مالك مې پر ما غاښونه وچیچل چې ولې سوړ سوړ تاوېږي. ما خپل وار (پیټې) راووړ، خپل بار مې هلته وړاندې کښته کړ، نو ځکه اوس په دې دښته کې ګرځم چې هم قدم ووهم او هم شنه ځوځان پیدا کړم .

روح بیا په تلوسه شو، حیران ودرد‌ېد، د هغه څېرې ته یې کتل، اوږود مخ او په ځوځانو شخوند ته یې کتل چې کله به یې سر هواري ته کښته کړ او بیا به یې اوږده غړۍ پورته ونیوله، سترګې به یې پورته ونیولې، بیا ترې پوښتي:

نو ستا دنده دا ده چې دلته بارونه راوړې، د څه شي بارونه؟

هغه بیا واښکې کړوي، لنډې او بوخ غوږونه خوځوي، ځوځان یې له خولې تویېږي، ځان په ناګارو کې اچوي، وایي ته خو زما له دندې خبر یې چې زه څه کوم ولې ځان په ناخبرو کې اچوې؟

روح بیا ټینګار کوي: ستا ټول ګناهونه دې زما شي که به ستا له کارونو خبر یم لږ راښه شه. راته ووایه نو خوشاله به شم.

اوښ یو وار بیا خپله اوږده غاړه پورته کړي، خپلې شونډې کښته پورته کړي، غاښونه یې چې په واښو او ځوځانو شنه دي او بړېږي بیا په خبرو راځي:

زما له ازله دا دنده ده. ګوره چې دا څلور سوه زره کلونه کېږي، چې زه د یو هېواد ارواح برزخ ته رالېږدوم، هلته یې بارونه تړم. جسمونه یې هلته په خاورو کې پاتې کېږي چې ارواح وې ډېرې راټولې شي؛ نو بیا مې بار راواخلم او دې



www.sikaraam.com

لور ته یې راوړم. زما دا څلور سوه زره کلونه کېږي چې د یو ملت په قتل او د روح په اخیستلو بوخت یم .

ما ته امر شوی دی چې دې ناشکره(!) ولس ته سزا ورکړم، یو ولس ته عذاب واستوم او له هغه ځایه د هغو د ملیونونو ارواحو نه بار وتړم او دې خوا ته یې راوړم. دا ارواحګانې د جنت جوګه نه دي، د دوزخ د ساتلو هم نه دي چې د اوسېدو جغرافیه مې ورته په دوزخ بدله کړې ده. څلور سوه زره کلونه کېږي چې په دوزخ بدله ده، دوی په ځان نه پوهېږي خبر هم نه دي. دوی له عذابه سره اوس روږدي دي. عذاب د دوی روزمره حالت اوعادت دی.

اوښ یو وار بیا خوله هوارې دښتې ته ورښکته کوي، هلته د غنو یا ځوځانو بوټې په خوله کې رانیسي، مخ ښې خوا ته او کله یې هم کینې خوا ته واړوي، خپله لنډه لکۍ هم وخوځوي او بیا هم خپل داستان ته دوام ورکوي، وایي:

دا خلک په هېڅ نه پوهېږي، په هسې خوشې وچ فېشن کې بوخت دي، په واده، په جنازو، په جوماتونو، په وسلونو، په کورونو او کلیو، لنډه دا چې په هر ځای کې چې به راتول شول، د باروتو په اور کې به مې وسوځول؛د «مور » په نوم یا دبلاګانو مور په نامه بلا مې پرې نازله کړه. خو دوی پوه نه شول او سرونه یې هم خلاص نه شول، دا ځکه چې د دوی سترګې د محشر د ورځې د ګنهګارانو په څېر تل د اسمان په لور وې، لاندې نه ګوري، اخیر ونه شوه. د سپو ګلې ته مې امر وکړ چې د دوی په مړو بولې وکړي، هغوی لاړل ښې ډېرې بولې یې د دوی په مړو او جسدونو وکړې. دا کار هم وشو خو باور وکړه چې سر یې پرې خلاص نه شو. دا ځکه چې د دوی په سرونو کې غوښه راشنه شوې ده او ماغزه هډو نشته.



www.sikaraam.com

اوښ له لرې دمې نه وروسته او له لږ شخوند نه پس بيا خبرو ته دوام ورکړ:

زما روح هم ورته ښه غوږ نيولی و، ويې ويل: اخير مې بله لاره ونيوله او هغه دا چي ومې پتېيله چې دوي دا د کبلو بوټو په شان دي چې ځيلی يې اوږدېږي او په هېڅ شان نه ورکېږي، ځان مې دوکاندار کړ، د اوښ څرمن مې يعنې خپله څرمن مې لېري کړه، اوږدې تسبيح مې پيدا کړې، د دوکان په دخل کې کښېناستم، اوږده اوراد مې پيل کړل. د اوښ څرمن مې په سپينو کاليو بدله کړې وه. اعلان مې وکړ او د دوکان په سر مې هم لوحه جوړه کړه چې «د جغرافيه او تاريخ د پلورلو هټۍ».

خلك او مشتريان د لوحې په لوستلو راټول شول، ټولو لوحې ته پام کړ. د هر يو شونډې رپېدلې. هېڅ چا زړه نه ښه کاوه، جغرافيه يې خوښېده خو چې کله به يې تاريخ ته پام کړ، نو وبه بوگنېدل. ليرې به شول، اخير يو مشتري پيدا شو، تور لينگي يې نيولي وو، خوله يې له پان نه ډکه وه. ځان ته يې څو نومونه ورکړي ول، خانداني دعوه يې کوله خو زه اړ وم چې ډې ان اې يې وگورم، په پايله کې معلومه شوه، چې مور يې د هندوستان يو رنډۍ وه، يوه انگريز پرې د سهار له خوا ختلي وو او دی ترې پيدا شوی وو خو ده ځانته ډېر کلك بسولمان وايه، حال دا چې دی له ما هم ښه دوکاندار وو. دا ځکه چې حرامي و، حراميان په هر کار کې ډېر قابليت لري، ما ته نه گورې، يو مثال يې زه يم. هغه ډېرې شش کليمې هم زده وې، د اوداسه لپاره يې لوټه هم گرځوله خو د سورين سور يې ښه زيات وو. هغه چمتو شو چې دا جغرافيه واخلي. د جغرافيې واکمنان مې ناخبره واچول، ځينې که پوهېدل هغه هم د دې رنډۍ له زوې سره د پان او کبابو په دوکان کې مزدوري کړې وه، لا پرې خوشاله ول. سودا مې پخه کړه چې «نن دی که سبا دی، دا مال د زرغون شاه دی.»



www.sikaraam.com

خو څه به دي سر خوږوم، ونه شوه، یوه بل شیطان چې د دونیا علوم ورسره وو او د سړي علیه سلام (بابا ادم) د زیږیدو په مهال یې اووم اسمان کې مقربو ملایکو ته درس ورکاوه، زما نسل و نسب ورته له ما ښه معلوم و، زما پلان یې په اخیر کې شنډ کړ. نو دا دی د نورو ارواحو یو لوی بار او پېټې مې راورسولو. هلته مې خطا کړ، هغوی خپرې ورې شوې او ما خپله د اوښ څرمن بیرته واغوسته، نو اوس تاسې مخې ته راغلئ، خو زما خبرې نورو ارواحو ته مه کوئ، «راز مردها را نگهدارید.»



www.sikaraam.com

## ۲۰

دا وار روح د شپې کیسه کوي، دا شپه ده؛ خو دلته د کسانو ارواح او پرښتې وايي، چې په دې سیمه کې د شپې او ورځې توپیر له منځه تللی دی. دلته زمان سقوط کړی دی، دلته ماضي او مستقبل په سترګونه راځي، بلکې روښنايي هم نشته، هر څه خړ اوتوربخن دي. دا ځکه چې لمر هم نشته، اسمان هم نه لیدل کېږي، سپوږمۍ هم او ستوري هم نه برېښي. دوی خو لا څه کوي چې اسمان هم په دې قلمرو کې نه تر سترګو کېږي.

نو په داسې خړه او پولادي فضا کې چې هر څه خړ پړ او تور ته نږدې برېښي، له ورایه یوه ډله کسان مخامخ راروان دي، ارواح وي، له هرې خوا د هغو په تماشه دي. دا کسان ټول ببر دي، یوه تور سرې چې داسې ښکاري، د دوی مور ده، په پړو او ځنځیرونو یې کلکه تړلې ده. هغه چیغې وهي؛ خو کسان ټول ببر دي، دوی عجب مخلوق دي، په ظاهره خو په دوه پښو روان دي. ارواح یې په خپلو منځو کې سره پسېږي، وايي:

«په دوې کوډي شوې دي چې له ځانه ناخبره اوسي. دوې سره له دې چې په دوه پښو روان دي خو وايي چې دوې بېرته د بشریت لومړیو پړاوونو ته ګرځول شوې دي، لوخ لپړ دي. هرڅه یې ښکاري خو دوی په دې سوچ کې دي:

«نه! داسې نه ده، موږ ابرو لرو، ارزښتونه لرو او هر څه،خو ارواحوي ورته له خندا شنې دي. نو وايي چې دا مور یې نو څنګه د قربانۍ د ګډوري په څېر له ځانه سره روانه کړې ده. دا د انسانانو او ځناورو په منځ کې اشاوي دي. دوی له یو بل نه په واټن کې روان دي، دوه دوه تنه په لار روان دي خو هغه چې د اوښ په څېر دي بیا راظاهره کېږي. کله د مخه او کله د دې قطار شا ته شي،



www.sikaraam.com

هغه د دې ډلې د مور څېرې ته ځير دي؛ خو ډله ټوله د دغه افسانوي اوښ تر امر لاندي ده.»

په همدې حال کې یوه پرښته چې سپيني وزرې لري، له برې خوا راکوزېږي، د اوښ په مخ کې درېږي. د هغه تګ لاره ډب کوي. پرښته د هيبت او شوکت خاونده ده. اوښ ټکان خوري، د اوسني انسان ډوله ځناورو ډله ورپسې روانه ده، يو دم درېږي. پرښته ترې پوښتي څوک او چېري روان دي؟

افسانوي اوښ ورمېږ پورته نيسي، د غاړې غړه (ګينګړي) يې شرنګا کوي، په ځوځانو يې خوله خوځېږي، خپل شخوند دروي، وايي:

«زما دوستان دي، زما مريان دي، له يوې برې جغرافيي مې راوستل. پرښته چې د معجزو او کراماتو خاونده ده وايي: ايا ته پوهېږي او د دوې اصل و نسب درته معلوم دی چې له ځان سره دې روان کړي دي؟

افسانوي اوښ خپل شخوند دروي، مخ پرښتي ته را اړوي ورته وايي:

لکه چې ستاسو سر پر هر څه خلاص دی. تاسو مخکيني پوهه او درک لرئ، تاسو يې ښه پيژنې چې دوی د هغه دوران مولود دي چې هلته زنا له محارمو سره جاري وه، هلته مور او پلار نه معلومېدل. تاسو چې د معجزاتو او کراماتو نه برخمنه ياست، عقلاني موجود ياست، دا مولود ستاسو خپله شاهکاري ده خو زما اوامرو ته غاړه ږدي. دا مخلوق په ځنګله کې زېږيدلي دی. د پلار او مور درک يې نشته، د پلار خو يې هډو درک نشته خو دا سپين سرې چې پړوني يې له سره په لوېدو دی، په دې باندې د مور دعوه کوي.خو مور اوس د مور ولی سزاويني ځکه يې په ځنځيرونويې کلکه تړلې ده.



www.sikaraam.com

دی بربنډ لښکر ته د خپل تن دوه ځایه ډېر ارزښت لري. هغه څه چې عقل او هوش ورته وایي او د هغه له مخې د ماضي او مستقبل توپیر کوي نه یوازې نه پېژني بلکې کرکه ترې لري. اوښ په ځواب کې وایي:

ته رښتیا وایې؟ ما هم دوې د خپل هدف لپاره روان کړي دي؟ زه دا دي له دوی سره له څلور زرو کالو راهیسي روږدي یم. د دوی کړه وړه او غوښتني اشتهاوې او شهوت ټول ماته معلوم دي، ما تول او ترازو کړي دي. دوی د ازادۍ چیغې وهي خو د دوی ازادي هغه د ځنګله ازادي ده. دا هم ما ورته په خوله کې ایښې ده خو څه به دې سر خوږوم چې دوې ډېر ښه مریيان دي.

ــ زما مریيان دي. دوی ډېر ښه او معلومداره حرامیان هم دي چې د طبعیت په پراخه ورشو کې بلکې په ټولو کایناتو کې د دوی بیلګه نشته. دوی د خپلې متاع او خیټې نه اوله شهوت نه هر څه قربانوي، دوی د خپلو ګټو لپاره خپل زوی حلالوي. د پلار په مړي بولې کوي، په مور او خور اسره نه کوي بازار ته یې بیایي، وګوره کنه اوس یې خپله بوډۍ مور چې عمر یې له پنځو زرو کالو اوښتی دی، په خوله کې یې غاښ نشته مارکیټ ته مې پرې روانه کړې ده. دوی د تقدس په نامه هېڅ ارزښت نه پېژني خو چې کله ستیج ته را برابر شي نو د مقدساتو اړوند په میاشتو میاشتو یې له خولې ځګونه بادېږي.

ــ وګوره د دوې څېرو ته وګوره، سترګو ته یې وګوره، هغه له پورته خوا کښته لور ته ر اڅېرې دې، په وجودونو تنونو یې وژغني او وړی راپورته شوې دي.

ــ ارواح مې هم ورته ښه ځیر شوه، دلته شپه او ورځ نه بریښیده، زمان خپل اصالت له لاسه ورکړې و، توربخونه خړه فضا حاکمه وه، آسمان چې تل په شعر او ادبیاتو کې د قسمت او تقدیر حاکم بلل شوی،هم نه بریښیده. د انسان



www.sikaraam.com

ډوله څناورو ډلګۍ روانه وه، څو تنو یې په امساوو حرکت کاوه، هغوی فکر کاوه چې کالي یې اغوستي خو له ورایه معلومېدل چې جادو شوي دي، بربنډ روان دي، لوڅ لپړ روان دي، د هغو سترګې د تقدیر او ازل په لور پورته وې، چې هلته یې هم څه نه لیدل. ورپسې یوه درنه او له شان او عظمت نه ډکه مور روانه وه، هغه یې په ځنځیرونو کلکه تړلي وه په زور او اکراه یې د انسان ډوله څناورو له خوا کشول کېده، کله چې به د هغې ټیکري له سره کوږ شو، ژر به یې هڅه وکړه چې ونه ښویېږي. اوښ ډوله سوداګر په چینګه خوله روان دی، اوږود ورمېږ او لنډه لکۍ یې برېښي، په روانه لار کې د میتیازو کولو پروا نه کوي، کله هم سر کښته کړي، په موسکا وبرېښي، د لوڅ لپړو مریانو ډله یې په مخه کړې ده، له ځانه سره وایي:

ــ هو زه وروستي منزل ته په رسېدو یم. مریان به ژر خپله ګنهکاره مور مارکیټ ته ننباسي او هلته به یې وپلوري.



www.sikaraam.com

## ۲۱

نن په توره خړه کې د ارواحو له ښاره بلې ځنډې ته ولاړم، ما نه غوښتل چې هلته ولاړ شم، خو زما په روح کې هم داسې کومه بلا ځای شوې ده چې که وي او که نه وي، په معجزه ډوله پېښو او واقعاتو مې وربرابروي. په روح کې مې يوه بله غوښتنه راوټوکېده او وې ويل چې نن به د هغه بنجاري هټۍ ته ورځي، چې د يو خورجين سره راغلی وو خو اوس يې سم دم لوی مارکيټ جوړ کړی دی.

زه ښه ډېره لار وهم، نه خدايه! زه نه! بلکې زما ارواح ورځي، لاره لنډوي او هلته درېږي. ګوري چې يو سور ځناور، شين سترګي چې پخوانو به شين سترګي ته د پيغمبر دوښمن ويل او دا به يې هم زياتول چې شين سترګي د شيطان د کاکا زوي وي، سترګې يې هم تورې کړې دي. يو لوی خورجين يې په مخ کې اېښی دی. د خپلو توکو د خرڅلاو چيغې وهي. هو په تېرو وختونو کې چې زما روح له دې بنجاره سره مخامخ شوی وو، بنجاره يوازې خپل خورجين ته ناست و، هغه خپل توکي پلورل. څه شيان لکه خرموره، رانجه، پوډر يې له خورجينه راايستلي وو او څه نور لا دننه په خورجين کې پراته وو. له هغه سره اپين او ځينې نشه يي توکي هم وو. لږ نه بلکې ډېر. داسې ويل کېده چې بنجاره د همدې توکو سوداګر دی او داسې اپيون لري چې يو وار يې بنيادم وخوري نو بيا د ټول عمر لپاره نشه وي.

بنجاره دا توکي پلورل خو په بدل کې يې نور څه اخيستل، پيسې يې نه اخيستې، بلکې «احساس» يې اخيست، «عاطفه» يې رانيوله، ارزښتونه يې

رانیول، د وطنپالني احساس یې رانیوه، ایمان او غیرت یې رانیوه او بهرني کرنسي یې ورکوله.

ارواح مي وپوهېده چې دا خو هغه د کلیو بنجاره نه دی چې پخوا به یې خورجین په اوږه پروت و، یو تازي سپی به ورپسې و، که خورجین به یې درووند و، نو په کچره به یې باراوه او دېره په دېره او کلي په کلي به ګرځېده او چې د هر کلي مخې ته به ورغی، نو چیغې به یې کړې. سیخک والئ (واخلئ)، ګیرک والئ، پوډر والئ او نور خو دا هغه بنجاره نه دی، دا اوس د ارواحو د ښار بادار دی. هغه د یو خورجین په ځای لوی مارکیټ جوړ کړ، په دې مارکیټ کې قسم قسم سودا پلور ل کېږي.

ارواح په تعجب کې وه. ورته حیرانېږي چې دا نو څه بلا ده؟

خو بنجاره په لږه موده کې څو جنرل ستورونه او مغازې جوړې کړې. په دې ټولو جنرل ستورونو یعنې لویو پلورنځیو کې یوه لویه مغازه د عقیدې هغه ده. یو پلن ملا چې ږیره یې په سپغزو لګېږي او د تسبیحو کړسار یې لکه دکلاشینکوف دمرمیو کړسار ان تر ځمکې پورته د هغه د انګېرنې له مخې ان په اووم اسمان کې اورېدل کېږي، لګیا دی.

څو تنه ماشومانو ته سبق هم ورکوي، په ماشومانو قهر او منت هم کوي خو په پلورنځي کې یې د ثواب، عذاب، جنت او دوزخ، حورو ته د ورتګ تکت او نور څه پلوري. هغه په لوړ اواز قلقلې کوي، خلک مرګ او شهادت ته را بولي. ورته وایي چې که په دې حقه(!) لار کې یعنې د دې سوداګر په لار کې ځان قربان کړئ، نو سم دم به جنت ته ورځئ او هلته به مو حورو سره غومبر چالان وي.



www.sikaraam.com

هغه د دوزخ او جنت کیلي ګانې پلوري. هغه وايي چې په جنت کې حورې پنډې دي. بس تاسو ته په انتظار ناستې دي او چیغې وهي: عجله وکړئ ایماندارو! ځان والوځي او په هغه لور سفر وکړئ چې کړي دی ټولو هوښیارانو(!)

په دې جنرل ستور ډېر بیروبار دی. ټول مشتریان يې ښه پراخ سورینونه او راوتلې خیټې لري خو د ځېرو او قوارو نه ډېر بدرنګک او کرغېړن کسان دي. دوی یو نیم د دغه جنرال ستور نه پیژ قبضې، چړې او باروت هم اخلي. چې نور پري حلال کړي. وې وژني او جنت(!) ته يې واستوي او دا هم وايي: چې که څوك ایماندار وو، نو جنت ته به درومي او که ایمان يې تېر نه کړ، نو دوزخ خو يې خپل کور دی. دواړه د خدای مکانونه دي، اراده او اختیار يې د هغه په لاس کې نه دی، بس غاړه کېږده.

د همدي مارکیټ په بل سر کې یوه لویه مغازه چې کوچنۍ نورې مغازې هم دننه په کې دي، هغه جوړه شوې ده. هغه د قومونو او ملیتونو جنرال ستور دی، یو یو یا دوه دوه کسه په کې ناست دي. تلې ترازو يې په لاس کې دي. د پښتانه مغازه بېله ده، هغوی پښتو پلوري خو ډېره ګرانبیه يې پلوري. نوري ارواح وې کیسه کا چې د دې پلورنځي مالکانو ډېرې ګټې وکړې. ډېر کورونه يې واخیستل، ځمکې يې راونیولې، په دوبۍ ترکیې او نورو سیمو کې يې هم دا کار وکړ. دوی ډاډه دي چې دا یوه ډېره ښه سوداګري ده. ایله د ژوند په خوند پوه شو.

بل لور ته د تاجیکو پلورنځي دی. هغوې له خپلې ماضي سره په شخړه بوخت دي، د ماضي او تېر تاریخ په کړنو بد رد وايي. د پلورنځي له پاسه يې په ډبل



www.sikaraam.com

لیک یوه لوحه لیکلي ده: «شما بچه.... را ترسانده نمی‌توانید.» او بله دا چې وايي: «موږ خپله متاع په قبیله نه پلورو.» دوی د دې لپاره چې خپل پخته یې قهرمانان وځلوي. تل د نورو سپکاوی کوي، هغوی وحشي بولي او په تیر تاریخ کې چې کومو عقدو د دوی په ځان او روان کې ځای نیولی وو، اوس یې د رفع او جبران لپاره هلې ځلې کوي. دوی د نورو په مزدورۍ او نوکرۍ هم وياړ کوي خو پاتې دې نه وي چې دا یوازې د دې پلورنځي چلوونکي دي. نور مشتریان او امتیان ورسره نشته بلکې د هغوی هم ترې کرکه کیږي.

ارواح مې مارکیت ته حیرانه پاتې ده، له نورو ملکونو راغلي بنجاره او د هغه کوډو او جادوګریو ته ګوته په غاښ دی، ورته حیران دی، د مارکیټ لوړو بلډنګونو ته ګوري چې د هغه د سترګو پر وړاندې نور هم شبه په شبه لوړیږي. پورته اسمان ته روان دي خو ارواح وايي، بنجاره هم عجیب کارونه کوي.

په بل پلورنځي کې یوبل زیړ غوړونه ناست دی، هغه هم زیاتې دعوې لري. هغو په اوږو د عمرونو او پیړیو عقدې بار دي؛ خو د عقیدې له مخې هم یو شالید لري. تل د یو ناجي خوبونه ويني. ناجي ته انتظار دي، کله ناکله خو د پلورنځي ناست کسان یې خپل ځان د ناجي او منجي په څېره کي ويني خو کله بیا دوی خپل ناجي او مهدې په خپل منځ کې نه ګوري بلکې په دې تمه دي چې له ارض موعود نه به دوی ته راځي. دا ارض موعود چیرې دی؟ معلومه خبره ده. د دې پلورنځي پلورونکي هم ډېر ماهره او تجربه کار دي. دوی هر څه پلوري.



www.sikaraam.com

یوه بله ډله چې لوی پلورنځي یې جوړ کړی، غټ غټ سرونه لري، سیل بینان پرې ملنډې وهي چې سرونه خو غټ دي خو کاش چې ماغزه پکې وای. دوی هم وایي: «موږ یو چې پاچاهان جوړوو!، موږ بابر درلود، تیمور لنګ مو درلود.» او داسې نور چې اصلاً په دې قلمرو باندې د واکمنۍ دعوا کوي. نور امتیان یې په ابدي اوږده خوب ویده دي خو د دې هټیو سوداګر یو حرص او طمعه لري، هغوی سره له دې چې په باالقوه توګه د همدې ارواحو ښار ته په را کوچېدو دي، د خپل مستقبل هېڅ ډول تصور ورسره نشته. ارواح مې فکر کوي چې د دې پلورنځیو کسان خو څو محدود سوداګر دي، ولسونه او هغه کسان چې دوی یې استازیتوب کوي، د دوی په خوله پیاز هم نه خوري، بلکې کرکې ترې لري.

خو یوه بله ارواح وایي: «دا کارونه ټول د بنجاره دي، بنجاره جادوګر دي. کوډګر دی او هر څه کوي. هغه اوس د اپیون پرځای پوډر پلوري.»

دا مارکیټ چې بنجاره کاکا جوړ کړی، ډېر لوی دی. یوه په زړه پورې پلورنځي د بري لیکونو او علمي رتبو د پلورلو پلورنځي هم دی. هلته کسان ناست دي محدود کسان ناست دي. هغوی د ماستري، د ډاکترۍ او د بهرنیو هېوادونو د څانګیزو علومو او پوځي منصبونو ډیپلومونه ورکوي.

نو اوس د ارواحو ښار په یو لوی مارکیټ بدل شوې دی، دا مارکیټ عجیب «مکاره بازار» دی.



www.sikaraam.com

نن بیا د ارواحو په ښار کي چوپه چوپیا ده له چوپیا سره وارخطایي هم مله ده. داسې چوپتیا هېڅکله له مخه نه وه لیدل شوي. د ښار ټول وګړي اوتر اوتر ګوري. یو بل ته ګوري خو څه نه وایي. د ټولو په څیرو کې اضطراب او وارخطایي شته. اوس اسمان دوی ته د رحمتونو نه بلکې د افتونو او غمونو مور ده. دوی وایي: پر موږ چې هر څه کېږي د اسمان له څنډو کېږي. بي۵۲ هم د اسمان له لارې راغلې، هر څه د اسمان له څنډو راغلي، توغندي. له هماغه ځایه را ځي او ان د بمونو مور هم له هماغه ځایه.

اوس د ارواحو د ښار خلکو په کلکه پتېیلې ده چې نور به چا ته یا یو بل ته تسلیت نه وایي، تسلیت یعنې څه؟ ډاډینه ورکول یعنې څه؟ د زړه صبر یعنې څه؟ زغم او تحمل یعنې څه؟

هغوی دا او داسې نور ډېر مفاهیم قطاروي، وایي: موږ چې کله ژوندي وو او د ځمکې پر مخ ګرځېدو، هغه مهال یوه هیله، امید او ارمان راسره و، اوس موږ په داسې حال کې یو چې غم او خوشالي دواړو سره نااشنا یو. درد او غم سره نااشنا یو، رنځ او تحمل سره هم نااشنا یو، د هیلو او ارمان په نوم نور څه نه پېژنو. دا ټول له اسمانه راپریوتل. اسمان چې کله وسپنو او فولادو ونیو، هر څه یې را وغورځول. ډالرونه، د کنسروې قطي، باروت، مرمۍ او تر هر څه زیات پوډر یې را وغورځول. موږ لا له مخه په دې پوډرو روږدي وو. د هیروینو په پودرو. دا مهال ټول په پوډرو اخته شوي یو، یو بل ته چې به مو کتل نو هر یو به راته پنځه پنځه او څلور څلور بریښیدل.



www.sikaraam.com

پوهېږئ! دې اسمان له موږ نه احساس وتښتاوه. عاطفه يې را ته ووژله. يوه لويه چاړه يې د عاطفې په مرۍ ښخه کړه او هغه يې ځوانيمرګه کړه. د هغې مرۍ يې پرې کړه.

موږ يې په پوډرو روږدي کړو، دا پوډر رقم رقم وو. ځينو پوډرو خو لا له مخه زموږ په مغزو کې او زموږ په تن او روان کې ځای نيولی وو، ځکه خو مو حواس، عاطفه احساس، مينه، ترحم او هر څه له لاسه ورکړي وو. بس موږ وو او تشدد او بې رحمي وه، له ځانه بې خوده او پردي وو. دا پوډر هم ډېر خطرناك وو. زموږ په ذهن او تن او بدن لاسبري وو. له موږه يې اراده اخيستې وه؛ خو وروسته بيا ټول ښار په يو او بل ډول د «سوې پله» لاندې ځمکه (پل سوخته بدل شو)، هغه مهال مو غمونه ورك شول. دردونه مو کم شول. ځان مو ابدي نيکمرغه وباله(!)، دا ځکه چې د دونيا ډېر ستر قوماندان د اسمان له لارې پر موږ مهربانه شوی و او موږ يې د نيکمرغی(!) دې ښار ته راوستلو.

دې «ستر قوماندان» چې د دونيا او کايناتو لپاره د خدايي دعوه کوي، بچي وزېږول، نامشروع بچي يې وزېږول. هغوی چې پلار يې له مور سره نکاح نه وه کړې؛ خو په دوی يې وزېږول، ډېره ښه(!) او عالي تربيه يې ورکړه. اول يې د ځان پلورلو روزنه ورکړه، بيا يې د «مور» پلورلو روزنه ورکړه، په دې کار يې له مخه قانع کړي وو.

له هغه وروسته يې د نوکرۍ او مريبتوب پړی پر غاړه کې وراچاوه. بېلابېل نومونه او القاب يې هم ورته ډالۍ کړل. څوك قوماندان شو، څوك غازي شو. څوك سپه سالار شو خو د في سبيل الله جهاد(!) قهرمانان بيا ټول وو. هغوی د مورکۍ د پلورلو في سبيل الله تورزنان وو. د پوډرو په نشه مست او بدمسته وو،



www.sikaraam.com

هغوی لکه د ملخانو په څېر را توی شول. پرېکړه یې وکړه چې د پل سوخته لاندې ټولې تجربو ته غځونه ورکړي.

که تاسو په مطلب پوه نه یاست نو درته به ووایم چې د پل سوخته نه مطلب یوازې هغه څو کسه نه دي چې د رښتیني پل سوخته لاندې پراته وي؛ بلکې دا یوه نمونه او یا بېلګه ده، د ارواحو د ښار بیلګه، اوس ټول د ارواحو ښار په پل سوخته بدل شوی دی. دا دیوه قلمرو بیلګه ده. د داسې یو قلمرو بیلګه چې اولسونو په کې د خپل هوډ او ارادې سره ژوند کاوه. خو بیا ټول په «خواجه ګانو» بدل شول او له هغې وروسته د ارواحو دې ښار ته را واستول شول.

دې اوسیدونکو یو څه له لاسه ورکړل او هغه احساس وو.

نو خبره دلته ده! د دې لپاره چې سر مو په ښه شان خلاص شي. لږه نوره توضیح به هم ورکړم. مور مړه شو، روح مو له تنه جلا شو. مور ته یې ووېل چې که چا ښه کار کړی وي، جنت ته به ځي او که بد کار یې کړي وي، دوزخ به یې ځای وي. له مور سره اوس د دغه ځایونو پوسټ کود او ادرس نشته چې چیرته ولاړ شو. خو دومره درته وایم چې مور احساس نه لرو. احساس یې را څخه د ځمکي په سر واخیست. د اوسیدو ځای یې هم راڅخه واخیست. بلکې ویجاړ یې کړ. هېڅ شی پاتې نه شول. نو چې احساس یې رانه وتښتاوه، عاطفه یې را نه وتښتوله او مور یې پوډریان کړو. وجدان یې هم راڅخه واخیست؛ نو مړه او دلته (ابدي دونیا) راغلو، اوس دلته هم سرګردانه یو. نو ځکه د تسلیت ویلو ته اړتیا نشته، تسلیت ژوندو ته ویل کیږي، هغوی چې هیله او ارمان لري، مور له دې شیانو بی برخي یو.



www.sikaraam.com

## ۲۳

نن مې روح د ګڼو څنګلونو له منځه را تېر شو، يو وار د دنګو غرونو پر سر يې لکه عقاب والوت، کښته يې د غرونو له لړيو او روانو اوبو، سيندونو، درو او ويجاړو شويو کنډرو کنډو کپر کلاګانو ته وکتل، بيا يې د ارواحو د ښار پر سره دوره وکړه. د ارواحو د ښار له کورونو هم لوګي نه راختل، يوازې د سپو رمې دې او هاغې خوا ته کېدلې او په کوڅو کې ګرځېدلې.

خو نن چې روح يو وار بيا راتېر شو او د لويې او پراخې د ښتې له پاسه يې پرواز وکړ، په لويه دښته کې يې بنيادمان داسې ليدل لکه مېږيان او خځنده وو چې يوه ليکه جوړه کړې وي. يا په يو ځه را ټول وي، هغوی په حرکت کې وو، ټول لالهانده او سرګردانه برېښېدل، په دښته کې لارې او سړکونه هم وو، په هره لار او څلورلارې يوه لوحه لګېدلې وه، پرې ليکل شوي وو، «د وزخ ته د ورتګ لاره». په بله ليکل شوي وو «جنت ته د ورتللو لاره». د لوحو په بيخ کې ويکتورونه هم وو، لارويو ته يې لار ښوونه کوله. خلکو په لارو او واټونو روانو وګړو لويانو او ماشومانو، ښځو او پيغلو نجونو په چابکۍ ګامونه اخيستل، خو له دوی لار ورکه وه چې کوم خوا لاړ شي. دوی د جنت او دوزخ په کيسه کې نه و، داسې فکر کېده، چې دوی په خپله د دوزخ اوسېدونکي دي. دوی له دوزخ سره عادت دي.

روح مې چې د دوزخ په څلورلارې کې ولاړ و، شيطان يې له ورايه ليده، چې د هغه په لور را روان دی، شنې سترګې يې لکه د برېښنا تيز ځراغ ځليدلی،



www.sikaraam.com

شونډک یې اوښ ته پاتې کیده، بېره او اوږدې داړې یې له ورایه یو نااشنا ځناور ته ورته وې، خو کله چې ښه رانږدې شو، ترې ویې پوښتل:

تاسې چې ځو میاشتې ترمخه ما لیدلي واست، په بله څېره واست، ولې دې نن څېره بدله کړې ده؟

هغه شونډک پورته ونیوه، ویې ویل: ته مې هم عجیب سړی ولیدلی. که زه تل په یوه څېره وای نو کله مې کولای شول دا د خدای مخلوق چې اوس یې په دښتو او بیابانونو کې ګورې، ایل او تابع کولي شول. دې کې شک نشته چې زما څېره هره شیبه بدلیږي، زه د دې وس لرم چې کله د کلي د ملا په څېره کې، کله هم د پیر او مرشد په څېره کې او کله هم د طالب او په نورو تېر ایستونکو لباسونو کې ظاهر شم.

پوښتي یې: ایا ته د دې خلکو له سرګردانۍ، مرګ او حلالیدو خوند اخلې؟

راته وایي: ته چې کله عجایب او غرایب ویني او په خپلو سترګو یې ګورې، نو تا ته خوند نه درکوي؟

ارواح وایي: عجایب او غرایب یو څه او د انسان ځورول، حلالول، او وژل بل څه دي؟

راته وایي: هغه به تا ته بل څه وي. ما ته هماغه د آدم اولاده ده، چې له عذابه یې خوند اخلم. زه هم د دې دونیا پر سر ورته دوزخ جوړوم او زه ترې خوند اخلم. که دا کار ونه کړم، زما د وس تابیا به څنګه وشي؟ زه یو بل خدای یم، هغه خدای چې دوزخ او جنت اصلاً زما په لاس کې دي. د دوزخ ټیکه داران او د جنت سوداګر زما په دې لستوڼي کې دي.



www.sikaraam.com

ورته حیران شوم. په روح او روان کې مې له انسان سره د مینې او عشق اړوند یو څه را وخوځېدل. ورته غلی او چوپ ودرېدم. خو هغه خپلې خبرې بس نه کړې، دوام یې ورکړ، وایي:

پوهېږې! په دې وروستیو وختونو کې مې وپتېیله چې یو تیاتر جوړ کړم، دا مې هوډ وکړ چې د تیاتر لوبغاړي به د تیاتر تماشاچیان هم وي. نو ما یو لوی تیاتر جوړ کړ، ستاسو له ملك نه مې جوړ کړ. ستاسو ملك مې ورته ستیج کړ، زه په دې فکر کې شوم چې د دې قلمرو وګړي په دې نه ارزي چې ژوند وکړي، دوی باید د ځمکې له سره پناه شي. چې ځمکه یې پاتې شي، په ځمکه کې یې زما کار شته، ځمکه یې زما په کار ده نه دوی. دوی باید جنت ته ولاړ شي ځکه خو مې د جنت او دوزخ لوحې ودرولې.

زه یې خبرو حیران کړم. شیطان هم معجزه کوله. نو بیا مې له ځان سره فکر وکړ، تاریخونه مې ولوستل، یوه کیسه مې ذهن ته را غله. هغه د یو عرب سر لښکر کیسه وه. تاریخونه وایي: کله چې یو عرب سردار د سیستان او هلمند سیمو ته را ورسید، هلته د سختو مقاومتونو سره مخامخ شو. هغو ته ویل شوي وو. تحت السیف واك د شمشیر لاندې دی.

تاریخونه وایي: نو بیا یې قسم وکړ چې زه به د سیستان د خلکو په وینه ژرنده ګرځوم. باید ټول له تیغه تېر کړم، هغه خپلو وحشي لښکرو ته چې د تقدس د خپراوي په نامه راغلي وو، امر وکړ. چې یاد امر او سوګند عملي کړي چې هېڅوك ژوندي پاتي نه شي. وایي د زرنج ښو تنه سپین ږیري پاتي شول، هغه را پیدا کړل شول، د چا خبره د تقدس(!) په نامه وحشي سردار ته چې ژامې یې



www.sikaraam.com

کښته زنګېدلې او له تنه يې د خوسا وينو بوی تللو، په وړاندې ودرول شول. سپين ږيرو يو بل ته غوږونه نژدې کړل، يوه بل ته وويل:

څوک وايي چې اهريمن د ورځې نه ليدل کېږي، دا دی وګوره همدا اهريمن نه دی نو څه دی؟»

له دې کيسې له لسو زياتې پېړۍ اوښتي دي. هماغه وحشي لښکر چې د اهريمن په لباس کې د اهريمني خوی سره، د اهريمني کردار سره بيا را ظاهر شوی و او د دې سيمي وګړو ته يې دوزخ جوړ کړی و، نن بيا را ظاهر شول، نن بيا د دې تراژيک تياتر سټيج ته راغلل. شيطان ورته له ليرې ولاړ دی. که هغه مهال په اصطلاح د تقدس لښکر له لوېديځ نه راغلي و، نو نن د شيطان په قومانده له ختيځ لوري راغلي. په خلکو يې کورونه پرېښي دي. ماشومان ترهېدلي دي، تورسرې او مېرمني اواره او پښې ابل روان دي. بوډاګان وژل کېږي. د زلمو د سرونو لو کېږي او شيطان ورته دا هم وايي، دا هم د جنت لاره ده او هاغه هم د دوزخ لاره ده.

شيطان چې د دوزخ او جنت په څلورلارې کې ولاړ دی، هره شېبه خپله څېره بدلوي. هره شېبه يې قد اوږدېږي او يا ټيټېږي. کله له سترګو پناه شې، کله بيا د لويي او پلنې دښتې په مخ را ښکاره شي. د اور د ماشين په توکمه لاس ږدي. له سوچ نه لاندې درې تورې تر سترګو کېږي:

اورکم

اورزيات

د اور لمبې او لوګي



www.sikaraam.com

خو هغه د لمبو او لوګو په توکمه فشار راوړي.

ورته وایم: ستا داورکم او اور لړ غوراوی څه شو؟

هغه وایې ته زما په کوډو نه پوهېږي؟

عالم زما په کوډو نه پوهېږي، سر یې نه خلاصېږي. زه هغه څه وایم چې نه یې کوم او هغه څه کوم چې وایم نه یې کوم. هغه پلي کوم.

ما ته خو تاسو نوم راکړی دی چې اهریمن یم!

ما ستاسو نیکه ادم ته سجده ونه کړه. په ظاهر کي خو لانت شوم. خو اوس خدایي او پاچا یې زما ده. هغه لانت چې پر ما وویل شو په هغه کې هم چال او کرشمه وه. ځکه خو د جنت او دوزخ د لویې څلورلارې د ترافیک دنده لرم چې څوک دې خوا او څوک هغې خوا ته استوم.

زما دنده هر څوک نه شي ترسره کولای.

عاقلان په خپلو کارونو ښه پوهېږي. کښینه او زما د جوړ تیاتر سیل کوه.



www.sikaraam.com

زه همدا اوس د قیامت یا وروستۍ ورځې ښار ته را غلم، دلته د لمر او سپوږمي درك نشته. اسمان هم نشته، یوازې د ځمکې تودوخې او سور تنور دی چې د خلکو ارواوې ګرځي. هغوي یوله بل سره نه ګډېږي، ټول چوپ دي، جسدونه یې نه برېښي خو ارواح یې د سیورو په څېرو یوې او بلې خوا ته کیږي.

کله چې زه دې ښارا ته را تللم، سره له دې چې ما ته یې ویلي وو، چې نور پنځلس کاله به د ژوندیو رزق وخورې؛ خو له نیکه او بده مرغه زه نن راغلم. نن مي د قیامت سارا ته را مخه وکړه. لومړی ډېر ترهې واخیستم. کرار کرار ورسره عادت شوم، ومې پټېیله چې برخلیك نه بدلیږي، خو زه چې له کومه ځایه تاسو سره خبرې کوم، دلته عجیبه فضا برېښي او په بل عبارت دلته فضا نشته، دلته هوا نشته، لمر نشته او د ستورو رڼا هم نشته. هر څه پولادي بریښي ان د ګرځیدونکو ارواحو څېرې هم پولادي په نظر راځي، هر یو اوتر اوتر ګرځي، خو زه غواړم خپل قبر پیدا کړم له هر چا پوښتنه کوم. زما قبر چېرې دي؟

هره ارواح را ته بدې بدې ګوري، اواز یې نه خېژي، په خوله څه نه وایي. هر یو، یا هره ارواح په څنګ تیرېږي، له یو بل سره خبرې نه کوي، څوك چا ته لاره نه ورښیي، څوك چا ته ځای نه ورښیي؛ خو زه بیا هم پوښتم:

نو زما قبر چیرې دی؟ زه باید خپل قبر کې ځملم.

ارواح اوتر اوتره ګرځي، نه پوهېږي څه وکړي؟



www.sikaraam.com

یو سیوري ورته مخې ته درېږي، سره له دې چې مخ یې نه برېښي، اواز یې اورېدل کېږي. د ګونګوسې په انداز سره وايي:

ته نه ګوري، دا یوه لویه هدیره ده، همدلته چې څوک ګوري دا مړه کسان دي، د دوې ارواح یې په دې دښته کې تاوېږي. زه ورته حیرانېږم ځکه چې زما له ذهنه د مرګ او ژوند مفاهیم الوتلي دي. زه نه پوهېږم چې زه مړ یم او که ژوندی؟

خو یو سیوري را دمخه کېږي، شېبه په شېبه خپله څېره او د قد اندازه بدلوي، خبرې یې هم ګونګې دي، وايي چې په هغه سرزمین کې چې تاسې ژوند کاوه، اوس خبر یې چې هلته څه تیرېږي؟

ارواح ورته د نه! سر خوځوي.

هغه وايي اوس هغه ځمکه دوه درې متره پړسېدلې ده. د ځمکې په لور یو کاروان او یوه اوږده قافله روانه ده. دا قافله د ژوندیو قافله ده. ورو ورو د دوی نفس الوتنه کوي، جسدونه او تنې یې خاورو ته ورځي او بیا ځمکه پړسېږي. هر زورګیر وايي دا قلمرو د زورګیرو او غارتګرو هدیره ده. دا سمه ده. خو دا وار د دې قلمرو د اوسېدونکو هدیره هم ده او د هغو هدیره هم ده.

نن چې د محشر د سارا انځور وینم. دا انځور په بشریت کې ډېر ځله تکرار شوی دی. زما ارواح ورته هکه پکه ده. زه نور د تسلیت د ویلو لپاره څه نه لرم، تسلیت انسان ته ویل کېږي خو اوس انسان ته د تورات یوه آیه په ځغرده زمزمه کېږي او هغه دا چې «ای انسانه! ته به مرې!» نور دې ژوند نشته. حالت له غریو او خپګانه ډک دی. یو ځوان له خپلو څلورو ماشومانو سره له کوره ووځي، په منډه ځان له ماشومانو او مېرمنې سره ځان یوه ځای ته رسوي، چې د سر لپاره



www.sikaraam.com

سيوري پيدا کړي، دا ځکه چې وحشت ويني، د انسانيت پای ويني. نو په تېښته دی. هغه خپل سرمنزل ته په لاره کې په مرميو غلبيل کېږي، ماشومان يې بيرته کور ته استول کېږي او په تنه او جسد يې خاورې پړسېږي. اوس د هغه روح هم دلته سرگردانه دی او د خپلو بچو د بيکسۍ او سرپرستي غم په مخه کړی دی.



www.sikaraam.com

نن هماغه شان د ارواحو په ښار کې توره شپه ده، ګونګوسي اورېده شي، له دېوالونو او ډبرو په لاره کې له ونو او بوټو اوازونه راځي. يو وخت چې د ژونديو په ښار کي اوسېدم اوريدلي مې وو، چې په اولو کې هر څېز خبرې کولې شوې. هر شي ژبه درلوده. د هغو په وينا چې ژبه او کليمات د بشر محصول نه دی، بلکې طبعيت دې چې هر څه او هر شي خبرې کولي. نو ځکه نن زما ارواح يو وار بيا هغې دونيا ته ولاړه او ورته تداعي شوه چې خبره کول او څه ويل يوازې د بشريت عمل او کړنه نه ده.

اوس دلته ښار د ارواحو ښار چوپ او خاموشه دی، د ارواحو په ښار کې سپي هم نه غاپي، ټول په وېره او ترهه کې دي. په دښته کې ځناور ګلي ګلي ګرځي، د ارواحو ښار نن ډېر ببر دی، ونې ببرې، خاوره ببره او لارې هم ببرې دي. ديوالونه ببر او هر څه ببر دي. څاروي او ځناور هم چې د قحطی د ملخانو په څېر د ارواحو ښار ته رادننه شوي دي، هم ببر دي.

هو! له هرې خوا اوازونه، نامريي اوازونه، چې د اواز فاعل نه معلومېږي، اوريده شي. هر څه خبرې او غږ لري، يو جادويي چاپيريال دي. يو دم ټول څاروي د دښتي په يو بل لوري چې هم د ارواحو ښار دی او هم د سيل او لوبو ميدان دی، په ځغاسته وررروان دي.

ارواح ته پوښتنه پيدا کيږي. څه خبره ده چې ټول په منډه او ځغاسته دي؟ ايا دلته کومه ننداره ده؟ نه! که بله لوبه ده؟ زما له ارواح سره شېبه په شطبه دا



www.sikaraam.com

پوښتنه غځېږي. هم مې مخې ته را ځي. هم يې له خواوشا بوټو او خځلو اوري!
خو په همدې ترڅ کې يوه ارواح رامخته کېږي، راته وايي:

«مه حيرانېږه! دلته يو څوک دی، يو موجود دی چې د انسان په وجود کې دی. د يوې لويې کټلې له جسامت نه جوړ دی. د ارواحو ښار ته راغلي دي. هغه ډېر تنومند او هم ډېر پياوړی برېښي، خو نن يې د هغه متې شاته اړولي دي. هغه يې تړلې دی، هغه يې تېل ماتيل کړ، سپک يې کړ او په غوږ کې يې ورته څه وويل:

دلته د ويلو څه نشته، د ليدلو څه دي؟

ارواح يو دم ورکېږي، ترې تم کېږي اواز يې نه اورېدل کېږي. چوپ کېږي، خو زما ارواح په سوچونو کې دوومي. کاڼي بوټي فرياد کوي. دوی هم خبرې نه کوي. په فضا کې يوه لويه بلا ښکاري، ارواح ترې راځوړندې وي، هغوی هم ځان د هغه تنومند سړي د تړلو او کړولو نندارې ته ځان رسوي، خو يو يو ترې ځمکې ته راځي. ځمکې ته نه رارسېږي. د ځمکې له سره او له هغه ځايه چې راجلا کېږي، دوی هم راجلا کېږي. جسدونه يې ځمکې ته راځي. ارواح يې پورته الوځي. خپل ماهيت او ځيرې له لاسه ورکوي. د ارواحو د ښار د کسانو د ټولو ارواحو پرواز کړی دی، ځکه خو يي رنګونه زيړ اوښتي دي. ارواحو ليکه رواني دی. ځناورو او ببرو ښاروېو، ځنګلي حيواناتو چې له څټو نو او خولو يې مردار بويونه بادېږي، حشرې، سپړې او خزندې پرې رواني دي، هغوی هم روان دي او د دوی ننداري د ليدلو ليوال دي.

بيا هم له ارواح سره پوښتنه پيدا کېږي، دا نو څه ننداره ده؟ د پوښتنې د ځواب لپاره يو بل سيوري رامخېته کېږي. راته وايي ته ولې دومره بې خبره يې؟



www.sikaraam.com

ته نه پوهېږې، چې نن هغه بوډا چې د مليونونو انسانانو روح په يو جسم کې تجمع کړې، هغه له دې کړاو سره مخامخ دی؟ خو پوه شه چې هغه مرګ نه لري، هغه چې د ابد لپاره ژوندی دی. هغه چې د الياس نبي په څېر تل حضور لري نن يې متې تړلې دي. هغه يې تړلی دی. هغه نن دې لوبغالي ته راولې، دا لوبغالی ډېر پراخ دی. د دونيا له يوه سره تر بله دی. هغه نن ټوټه کوي، هغه نيست او نابودوي او په هر ګوزار سره پرې د الله اکبر ناره هم کوي. خو هغه نه مري، د هغه روح به په ځمکو، اسمانونو، ستورو، سپوږمۍ او هر پرخه او کمره کې پاتې وي، بيا به سر راپورته کړي.

زه د هغه سيوري خبرو ته حيرانېږم، څنګه کيدای شي، داسې معجزي او نادرې پيښې رامنځته شي؟

هغه راته وايي:

هغه پهلوان دی. د «پرومته» په څېر يې له زيوس نه اور راووړ. د خپل ابديت او تلپاتې والي اور. څنګه يې فرعون ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړې. څنګه يې هغه کس چې د لمر کاسه يې لاس کې وه او د رڼا مخه يې ډب کړې وه، راوپرځاوه. څنګه او څنګه؟

خو وينم چې هغه يې اوس روان کړی دی، وايي د اخطرناک پهلوان دی. له کاڼو، بوټو، دېوالونو او هر څه اورم چې وايي:

«جنګ ته دی منصور روان، نه توپ او نه تفنګ لري»

هغه په لاره تېروي، متې يې تړلي دي. نوم يې ورته په يوه جنډه ليکلی دی. وايي دا پهلوان دی، نور بايد پای ته ورسېږي. بايد سنګسار شي. بايد ووژل



www.sikaraam.com

شي، چې ان ايره يې پاتي نه شي. هغه تېرېږي، سيل بينان او نندارچيان ورته زيړ زبېښلي ولاړ دي. څارويو هم گز ژبې راويستلي دي او تروش بويونه ترې خېژي، ورته نيغ نيغ گوري؛ خو ارواح هماغه شان چوپ او خاموشه دي، لا څه نه وايي.



www.sikaraam.com

اوس د ارواحو د ښار ټولې کوڅې شاړې پرتې دي. دغه کوڅې لا نورې هم شړېږي. خلك ترې جوپې جوپې بهر روان دي. میرمنو یوه نیمه برېستنه پر سر ایښې، ماشومان یې له لاسو نیولي دي، د لمر خاته، لمر پریواته، د شمال او سهیل په لور روان دي. ارواح کیسه کوي چې د یوې نیمې کوڅې پر سر کې یوازې سپي لیدل کېږي. سپي چې لکۍ خوځوي خو غپا نه کوي او د هغو سپو په څېر هم نه دي چې کور ته به څوك نږدې شول نو غپا به یې پیل کړه. دوی چوپ دي. خو په کوڅو کې داسې برېښي چې دا ټول پمن شوي او ناروغي لېږدوي.

خو په ټول ماحول کې امه شمه نشته. شور ماشور او د ماشومانو لوبې او اوازونه هم ترې په هوا شوې دي. د ښار له کوڅو تروش بویونه را پورته او سږمې سیځي. سپي یې زیاتره لیوني شوي دي. د انسانانو په غوښو روږدي شوي دي. له هرې پېښې سره دوی ته د بنیادمانو وینې او غوښې برابرې شوې دي. ځکه خو یې سترګې هر وخت سرې وي. هر وخت په غضب وي. داسې برېښي چې دوی د وینې تویولو او د بنیادم د غوښو په خوراك کې ښه ښاربه شوي دي. لیوني سپي په ښار او په بې خوده ډول د ښار په کوڅو کې اخوا دې خوا ګرځي. ښه ببر شوي دي. ښه ښاربه شوي هم دي. نو د ارواحو په ښار کې چې یوه نیمه ارواح را ښکاره شي، سترګې یې پاس اسمان ته نیولې وي. هغوی د لمر په ننداره او نظاره وي؛ خو دا مهال په اسمان کې لمر نه برېښي. لمر نه را خېژي.



www.sikaraam.com

پخوا چې به د ځمکې پر سر لمر سهار راوخوت او مازدیگر به په غرغړو د غرونو شا ته پناه کیده، بیا به شپه راتله او د شپې له تیَره به د سباوون رڼا را پورته کیده. اوس هغسې نه ده بلکې نن ورځ چې کله پمن او د لیونو سپیو لښکر په ښار رادننه شوی، لمر هم خپل مخ اړولی دی. وایي چې لمر هم خپله پریکړه کړې ده چې نور نو د ارواحو ښار ته سر نه ورښکاره کوم.

څه موده وړاندې وبا په ښار را دبره شوه. چا ورته چینایي وبا ویله او چا ورته امریکایي وبا. په هر صورت د نوې لیونیو سپیو په لښکر هغه وبا هم وویرېده، ورکه شوه. خلك اوس ټول د نوې وبا په کیسه کې دي. لمر نه بریښي وای چې لمر خپه نه دی، بلکې لمر شرمېږي چې د ارواحو داسې ښار ته چې لیونو او پمنو سپیو په کې غوبل جوړ کړي وي، ورښکاره شي او د خپلو وړانګو تنابونه د ښار کوڅو ته ورکوز کړي.

نن زما ارواح هم په دې خبره پوهه شوه چې لمر له ځانه سره د زمان یا «زروان» پیغام لري. هغه نور خپه او پښه نیولي دي. هغه اراده کړې، چې زمان او وخت په یو ځای ودروي او ووایې چې «نور زمان» نشته. یعنې چې نور حرکت نشته، نور هېڅ نشته، مکان هم خپل ماهیت له لاسه ورکوي.

نور د دې قلمرو د خلکو لپاره زمان چې د حرکت او د سیندو نو د څپانده غورځنګونو نښه او راز ورسره دی او د سیند د جریان په څېر پر مخ درومي. نوې زېږوي او زاړه شیان له تېر لاندې کوي، اوس په ټپه ولاړ دي. په ځغرده وایي نور د وخت تېریدنګ نشته. مکان هم بدل شوی دی، په نشت او نشتون شمیرلی دی او زمان خو همدا ډول تری تم دی.



www.sikaraam.com

دا مهال د ارواحو د ښار کوڅې شاړې دي. بنیادمان پکې نه بریښي، یا خال خال بریښي. ښار د دیوانو او پیریانو په ولکه کې دی. د هغوی ارواح د لېونو سپیو له ارواحو سره ګډې وډې دي. لیوني سپي چې د کوڅو دیوالونو ته پراته دي، ژبې یې راځوړندې دي. ځینې یې پمن شوي هم دي.کله کله په خپلو پښو خپلې تنې ګروي اوس همدوې د ارواحو د ښار اصلي هستوګن دي.

د ارواحو د ښار نوی مالکان چې اوس دا ملکیت ځانته د برخلیك او تقدیر سوغات بولي، دوی ته یې ورکړي دي، په جار وایي چې د ښار پخواني مالکان باید دوزخ ته واستول شي. نو دا دی اوس یې په دغه وعده او دغه پلان د عملي کولو لپاره متې رانغښتې دي.

خو دوزخ لیري نه دي. نوی «دیوان او پیریان» چې دې ښار ته راغلي دی، په دې باور دي چې «این را نقد گیر ودست از ان نسیه بردار!»

متې یې را نغښتې وایي چې موږ په همدې ښار کې یو دوزخ جوړوو، موږ د زمان «خدایان» یو، موږ چې لمر په ټپه درولي شو. زمان او زروان په ځاه کې غوپه کولي شو، نو د دوزخ جوړول لا څه دي؟ دا دی د ارواحو ښار یې په دوزخ بدل کړ. د هغه چا خبرې اوس دلته خپل مصداق وموند چې ویل یې: «دوزخ د انسان په وجود کې دی، خو زه به ورزیاته کړم، چې د ځناورو په وجود کې انسانانو ته هم جوړېدای شي.»

هغه کس چې مخکیني خبره کړي وه، انسانان یې یاد کړي وو، د انسان په باب یې خبرې کړې وې خو دلته د ارواحو په ښار کې دوزخ د نورو موجوداتو له خوا جوړ شوی دی. ایا دا د دوزخ نښې نه دي؟ دې تابلو ته ګوره:



www.sikaraam.com

ارواح د پورته خبرې سره سم دم ترې تم کېږي. یوه تابلو او یوه ننداره را مخې ته کېږي. لیدل کېږي چې هلته وړاندې یوه مور د واټ پر سر له دوه ماشومانو سره ناسته ده، یو ماشوم یې په غېږ اوبل یې په خوا کې دی. یو ماشوم ناروغ اوبې حاله بریښي.

په یوه پاڼه یې څه لیکلي دي. چې څوک ورنږدې شي، وېني چې د ماشوم د پلورلو اعلان دی. د یوه بوډا ارواح ترې پوښتي:

ولې او د څه لپاره؟ دا خو د مور د زړه توټه ده.

خو مور وايي. د مور زړه اوس دوه توټې شوی دی. یوه ټوټه یې ژوند له لاسه ورکوي او بله توټه هم باید ژوندی پاتې شي. نو ځکه یې پلورم چې یو بل ته قرباني ورکړي. یو باید قرباني شي چې بل ژوندی پاتې شي. کوچنی لور ناروغه ده. هغه په ښه اوبد پوهېږي. د درملو پیسې نه لرم.

نو ماشوم زوی چې لا تر اوسه په خبرو نه دی راغلی، باید وېې پلورم چې په بیه یې درمل واخلم، درمل د نجلۍ لپاره.

روح دا صحنه ګوري، د ارواحو په سیورو کې یو لوی او ناپایه قطار ګورم. د ښار وګړو چې دمخه به یې دی ځای ته پسونه، څاروي، وزې او چرګان د پلور لپاره را وړل، اوس یې خپل ماشومان د پلورلو لپاره را وړي دي. ټول کتار او لاین ولاړ دي. یو نیم کس چې اوږده ږیره یې را پرې ایښې او د سورین سور یې د قد سره هم سیالي کوي، اوږدې تسبیح یې په لاسو کې چې په ټکی ترې د په څېر ټکار باسي. داسې بریښي چې اوراد وايي. خو له پلورونکو سره په بیه کې نه جوړېږي نو بیا لاره وهي بې پروا لار وهي. د دوی پلور ورته عادي او معمولي خبره ده.

په یودم او درنګ شیبه کې زما روح هم خپل پام اړوي، تورتم دی لکه خونړۍ وریځ چې په ماحول پلنه وي. زمان په یو ځای ولاړ دی، د شپې د راتلو او په ورځ باندې د شپې د بدلون څرک نه لګیږي. یو څوک یا د یو چا ارواح بنګاری کوي، وایي: اوس پوه شوې چې دوزخ چېرې دی؟

زما روح ورته په سکوت او چوپتیا ځواب وایي:

هغه راته وایي:

اوس پوه شوې چې د ارواحو ښار په دوزخ بدل شوی دی. هغوی چې د جنت تبلیغ کوي او د ځمکې پر سر دونیا د جنسي محرومیت د خیالي حورو او غلمانو په یادولو او فکري استمنا جبرانوي، اوس یې هلته دوزخ جوړ کړ. دا دوزخ د همدغو له تنونو او وجودنو جوړ دی. ځکه د دوی په باور ټول باید ووژل شي. ټول باید دې دونیا ته چې زه او ته پکې یو، یعنې اخیرت ته راشي. د دې لپاره چې هغو ته د ځمکې سر خالي شي، چې خپل غومبر په کې پیل کړي.



www.sikaraam.com

اوس د ارواحو په سار کې د تورتم پسې تورتم دی. د چا خبره ښي او کيڼ لاس نه برېښي. په زړو کتابونو کې يادونې شوې دي، کله چې د دونيا خاتمه راشي، نو اسمان را کښته کېږي، په ځمکه خوله لګوي، لمر هم د لويديځ له خوا راخېږي او په ختيځ کې ډوبېږي. همداسې علامې او اشاري تر سترګو کېږي، هوا او باد نه برېښي، رڼا خو هډو نه شته، يوازې د ارواحو ښکالو او ګونګوسي اورېده شي، چې له هغو ګونګوسو او بيا ورو ورو د هغو له چيغو ډار او وېره پلنېږي، ډار او وېره يوازې په ارواحو کې نه بلکې کله چې همدا غږونه په ډبرو، بوټو او ونو پريوځي، هغوی هم کوچني کېږي، د هر څه رنګ زيړېږي نو د تورتم له امله دا رنګونه هډو نه ليدل کېږي.

ارواح چې نن بيا د ارواحو د ښار له قلمروه خبرې کوي او د خپل ليد په اوږدو تېر شوی د استان درته اوروي، دا هم درته وايي چې د ارواحو ښار د اجسادو او تنونو ښار نه دی، هديره او قبرستان هم نه دی، خو هغې ته ورته يو مکان دی. داسې مکان چې ژوندي مړه شوي دي او يا د مرګ په لور رهي دي. ځينې چې مړه دي، خو مړه دي، خو ځينې چې د مرګ احساس نه کوي او د مرګ لپاره شپې سبا کوي، هغوي هم وايي موږ مړه يو.

د ارواحو په ښار کې چې د انسان بوی هم نه وي. بنيادم نه بريښي نو ارواح ګاني لکه باد، لکه سيوري او لکه برېبوکۍ له مخې تيرېږي. چا ته څه نه وايي. دا يوه جلا دونيا ده. په دې دونيا کې اراده، ازادي، هڅې او کړاوونه نه شته، د عبادت کيسې کېږي، بڼاری او بنګاری اورېده شي، خو دا داسې عبادت نه دی چې عابد نيکمرغۍ ته وربرابر کړې، بلکې دروغ او ريا، کبر او وحشت، دوه



www.sikaraam.com

مخې او دوه رنګي ټول په یوه خم کې غوپه شوي دي او د یوه داسې ځواک اکر او کردار تمثیلوي، چې د غرونو ځناور ورته ګوته په غاښ دي. ابله ورځ د پخواني کور برګ سپی زما د احساس انګړ ته داخل شو، ناڅاپه راته په خبرو راغی، راته یې کړه:

دا اوس چې د پیریانو او دېوانو کوم ځواک د ارواحو په ښار یرغل راوړي، ایا دوی هم ځانته څه وایي؟ انس و جنس، یا انس وجن یا دیو ودد؟. نو زما پوښتنه له تاسې دا ده چې ستاسو بابا آدم به څه انګېري؟ دوی خو د الله نوم هم په خوله اخلي؟ دا خو د انسانانو کار دی. څاروي او ځناور خو ماضي او مستقبل نه لري، که دوی د دې دعوا کوي نو د دوی کړه خو د دوی دخپل نیکه زوزاد ته پاتي کېږي، ځکه دوی چې په هر قدم او هره خبره کې د الله اکبر کلیمه هم وایي، ایا ستاسو خدای به ورته نه خاندي او خپل دې خلقت ته به حیران نه وي؟ ارومرو چې حیران به وي.

برګ سپي چې په ژوندوني کلونه کلونه را سره یوځای و، د خپلو خپلوانو او ګاونډیانو څېرې یې پېژندلې، نن له ډېرې مودې وروسته زما د احساس قلمرو ته دا خل شوی و، بیا را ته وایي:

ایا تاسو بنیادمان او ستاسو د بنیادمانو ارواح یې نه ویني؟ همدې کسانو چې کله نا کله ځان اشراف المخلوق هم بولي، ابله ورځ یې خپله مور روانه کړي وه او په یوه مارکېټ کې یې پلورله. دا یې هم دعوه کوله چې موږ ته مور نوره په کار نه ده؛ بلکي ایمان(!) راته اړین دي. موږ د ایمان لپاره کار کوو، زه نه پوهېږم، چې دا ایمان به څه ته وایي؟ او دا به کوم ډول ایمان وي چې د مور نه هم زیات ارزښت لري، ځکه ایمان خو د مور په غېږ کي زده کېږي او پخېږي او



www.sikaraam.com

ځواکمن کېږي. خندا خو مې هغه چا ته راغله چې ویل یې: «ما ته مې مور نصیحت کړی چې وطن به نه هېروي.» مور به یې اوس د هغه د کردار نظاره نه وي کړي؟ رښتیا هم هغه د مور وصیت هېر نه کړ. خو ډېر ارزانه او د لیلامي یا دوم لاس کالیو په توګه یې وپلورله. داسې کسان یې راوستل چې بس مه کوه پوښتنه. زه لا د همدې خبرو اترو اورېدو سره بوخت وم چې ناڅاپه چیغې او کړیکي پیل شوې.

نن بیا نیمه شپه کې بې دریغه اوازونه اورېده شي، نه! نه یوازې زه بلکې زما د احساس غوږونو ته راځي. دا غږونه کڼول کوي. د غوږونو پردې څیرې کوي. هغه د میندو اوازونه دي. د خویندو کوکارې او چیغې دي. د نیمزالو کونډو په واده ولاړو پیغلو اهونه او چیغې دي. بس چیغې دي، چیغې له بهر نه راځي. سم دم زما د احساس په درو او لارو کې لاره کوي. زما د احساس د سمندر له پاسه لکه لاهو شوی لامبوزن، لکه بې مالکه بېړۍ رهي دي؛ خو چیغې دي او ورته ځیر کېږم.

 تر ډېرو شپېو د چیغو او فریادونو پیژندګلوي نه کېږي. داسې برېښي چې یو کوچنی خو نازېږیدلی، ماشوم د دشت برچې له یو روغتون نه را ولاړېږي. اواز یې د بم په څېر غوږونه کڼوي. چیغې وهي. فریاد کوي، سلګۍ هم وهي همدا وایي:

لانت پر تاسو! لانت پر تاسو. ځناور هم د خپل هم نوع بل ځناور ویني نه زبیښي خو تاسو هغه څه کړي چې.... زه خو لا د ځمکې مخ ته نه وم راغلی، زه خو لا زېږیدلي نه یم. ما خو لا د ځمکي د سر د ارواحو د ښار بیوزلي ماشومان هغوی چې د سپند قطۍ له سرونو تاووي او دوه ټنګو ته درېږي. پښې



www.sikaraam.com

يبلي ماشومان چې له يخنۍ ږچېږي. همدا سبب و چې زه دونيا ته رانغلم، د دې لپاره هم چې تاسو ونه وينم، ما له دونيا نه مخ واړاوه. ان د مور له ګېډې پوه شوم چې د ارواحو په ښار د ځناورو او د دوه پښو لرونکو د وحشي ځيرونکو يوه ځپه راروانه ده. هماغه وو چې زه مو ووژلم. مور مو هم راته ووژله. تاسو هم د دې لپاره د ځمکې سر ته زما د راتګ مخنيوی وکړ، چې لکه بوټي زرغون نه شم، نو زما سترګې هم ونه غړېدې.

نورې کړيکې اورم. کړيکې د ارواحو د ښار له ديوالونو رابهر کېږي. د دېوالونو له درزونو اورېدل کېږي.

اوس د پخوا په څېر د ارواحو د ښار د غرونو له سره، د شپانه د شپيلۍ اواز نه اورېدل کېږي. د کوچي شپانه د بول بول (دکوچيانو دسندرو اواز)غږ نه اورېدل کېږي، خو د يوې مور، د يوې خيرې ګريوان مور چيغې او فرياد اورېدل کېږي.

د همدې مور يو زلمي زوی څو مياشتې تر مخه همدې دېوانو او ځناورو د ځمکې له سره را رخصت کړ. د نورو لسګونو زلمو سره يې رخصت کړ، اوس د پيغلو نجونو د کونډو پيغلو قطار څومره اوږود شوی دی. له نورو ماشومانو سره اوږود شوی دی. د کراچۍ چلوونکو سره، له لاروېو سره، په خپلو وينو کې ولمبېدل. يو ځناور و چې د الله اکبر ناره يې پورته کړه او د هماغه الله اکبر مخلوق يې د ځمکې له سره رارخصت کړ. په يوه منډه د بيوزلو منځ ته ورننووت او د هغو د ژوندانه د پای اعلان يې وکړ. يو ډنډ يې جوړ کړ، د وينو ډنډ او ټولو شتو کسانو په کې ولمبل. د همدې وينو ډنډ د يوې مور تنکي زوی يې وواژه، د يوې مور کوچني ماشومه لور يې د ارواحو له ښاره بلې دونيا ته



www.sikaraam.com

واستول. ټوټې ټوټې شول، اوازونه يې پاټې شول، اوس هم چې مياشتي او کلونه تېر شوي. د هغو د غوښو او هډوکو پوټکي د ځمکې د سر د ارواحو د ښار په دېوالونو نښتي دي. دېوالونه هم ټپي دي. کله چې شپه نيمايي ته ورشي، هماغه پوټکي چيغې او فريادونه کوي او اوس د ښار په کوڅو کې غوږونه کڼوي.

خو نن شپه چې کړيکي او چيغي اسمان ته پورته دي. د ارواحو د ښار فضا يو خړ او پولادي ګرد نيولی ده. د اسمان ژړا او د ستورو زګيروی هم ورسره غبرګيږي، دا ځکه چې نن د هماغه قاتلانو جشن جوړوي.

ناڅاپه يوه بله کړيکه د ارواحو د ښار د څلور سوه بستر روغتون له دېوالونو اورېده شي. د جمهوريت له روغتونه زګېروي اوريده شي.

وايي: ای ښاريانو! ستاسو قاتلان، ستاسو د بچيانو او پلرونو قاتلان لکه د ځنګل شرمخان د ښار په ستوني پراته دي. د ښار ساه بنده ده. خو اوازونه ورته وايي. ستاسو قهر او غضب څه شو؟ ستاسو کرکه او نفرت څه شو؟

ولې نه را پاڅېږي؟ ولې د خپل قهر او غضب توفان نه جوړوي؟ نن بيا د کابل د څلور سوه بستر روغتون د ناروغانو قاتلان د دښار يوې برخې  د وژونکو، د مزار شريف د قول اردو د سلګونو سرتېرو د قاتلانو، د جوماتونو د امامانو او د جوماتونو د ويجاړوونکو، د دښار دبلې برخې  او د کابل د هوټلونو د چوونکو او سيځونکو، د زرګونو سرتېرو د قاتلانو لپاره او د هغو د وحشيانه کارنامو لپاره جشن دی. جشن د زرګونو ښاريانو د اجسادو پر سر د ارواحو په وړاندې په پوره استکبار نمانځل کيږي.



www.sikaraam.com

ولې د کانتيننتال هوټل له ديوالونو څخه غضب او اور نه رابهر کېږي چې همدې قاتلانو د دې دېوالونو په وړاندې انسانان ووژل.

کبر، استکبار هم حد او اندازه لري. وحشت او بربريت هم اندازه لري.

هو نن! چې د ارواحو د ښار چيغي په ايرو بدلې شوې، سپرغۍ لا پکې له ورانه بريښي.

د ښار ټنډه تروه بريښي. ارواحو د ښار په کوڅو او سرکونو کې خوځېږي. چوپ او غلي دي.

دا ځکه چې د قاتلانو د ځناوري کارنامو جشن نمانځل کېږي. خو ای د ارواحو د ښار په خوب ويده وګړو، پرته له دې چې درته تسليت ووايم، نور څه نه لرم.



www.sikaraam.com

دلته موسم د فضا تابع دی. ځکه او اسمان په ګډه موسمونه جوړوي، خو که سمه او سپینه خبره وکړو نو موسم نشته، ختیځ او لویدیځ هم نشته. نو ځکه خو د اسمان ستوري هم نه لیدل کیږي. باد هم درک نه لري. د دې دښتې پر سر چې «ګور» او یا بله دونیا هم ورته وایي او یا د ویجاړو او ورانو قبرونو یوه شړګاه ده. یوازې د سرونو له پاسه د وریځو په څېر یو پولادي څادر بریښي. د دې ښار ارواحګاني افسانوي څیزونو او موجوداتو ته ورته دي. په لرغونو فولکلوریکو کیسو کې به مو اورېدل چې د یو چا غوږونو ته به د پیریانو اوازونه راتلل. هغه به داسې اوازونه وو لکه د کوچنیو ماشومانو خنداګاني او ژړاوي. نامریي اوازونه به وو چې اوس په دې شړګاه کې اورېده شي. څېرې نه لیدل کیږي، اجساد نشته. خو یوازې په ځینو کنډوالو کې یو لړ اسکلیتونه لیدل کیږي، جمجمې لیدل کیږي، کله ناکله خو رغړي او تولیږي او د کړنګا ښکالو ترې راولاړیږي. په خپل سر درېږي او بیرته غورځیږي.

له لیرې له یوې ښځې اواز اورېده شي. وايي:

«هغه بابا چې په غنم دانه یې جنت بایلوده، اوس به چېري وي چې پیدا یې کړم او ورته ووایم چې اې ظالمه! ولې دې موږ داسې سرګردانه کړو؟ د خپل هوی او هوس له لاسه دې چې ته یې تابع وې، موږ دې په عذاب اخته کړو. تا خو به لږ صبر کړي وای، ښه به دې ځان پوه کړی وای، بیا چې دې هر څه کول نو کړي به دې وای.»



www.sikaraam.com

بل اواز ترې پوښتي نو هغه ځای او هغه مکان چې د شیدو ویالې په کې روانې وي، اوس هغه ویالې چېرې دي؟ هغه تنکي هلکان او نجوني چېرې دي (حوري او غلمان یادوم) چې هغه ټول دي شا ته کړل او په یوه غنم دانه دې هر څه داو کړل؟

بله ارواح ورته پسپړي، ورته وایي: غم مه کوه، دا خبرې پرېږده. «اوس یې یادونه افسانې ښکاري.» هاغه پرون او ابل پرون یا میاشت او تېره میاشت یا کال او تېر کال چې یې د جنت وعدې درکولې، له هغو کسانو دې کوم یو ونه لید چې د جنت بشپړ ادرس او پته ترې واخلو او ورته ووایو چې:

اې مړو، موږ مو را واستولو، تمامه ورځ به مو څګونه خولو کې وو، وعدې به مو راکولې، خپل بچیان خو مو په عیش او سات تېرۍ کې بوخت کړي و، اوس هغه جنت چېري دی؟ دلته خو هلته څه شته نه؟

بله ارواح ورته وایي، غم مه کوه غم، ته مې یې صنم!

هغو بیچارګانو چې وعدې درکولي. هغوی اوس ډېر سخت بوخت دي.

ـ نو په څه بوخت دي؟ ما ته یې هم راروښانه کړه کنه؟

ـ های زوروره! ته نه پوهېږې چې هغوی پرون خپله زړه پنځه زره کلنه مور روانه کړي وه، په لار هم تللې نه شوه. ځکه عمر یې خوړلي و. بوډۍ وه، د روزګار سرې تودې یې ډېرې لیدلې وې. د پنجاب کوم منډه یې ته یې روانه کړې وه، چې ویې پلوري، سودا یې پرې کوله. د هغې خوارکۍ له سره ټیکری هم لویدلي و. هلته یې په څو مارکیټونو وګرځوله. اوس هم معامله روانه ده. د هغې د پلورلو معامله. اټکل داسې دی چې هېڅوک یې اخیستو ته زړه نه ښه



www.sikaraam.com

کوي، دا ځکه چې د هغې د ساتلو زور په ځان کې نهويني. چا ترې ښه ورځ نه ده ليدلې.

ــ دا څه درځخه اورم. سره له دې چې زما خو جسد نشته، يوازې روح يم. کنه نو اوس به مې له ډېرې حيرانۍ نه په تن لړمې راختلې وای!

ــ نو خبرې خو هم داسې ببرې دي. حيرانېږه مه! وربه شې خبر به شې.

بله ارواح وايي:

هغوی يوازې د «انۍ» په سودا کولو بوخت نه دی، بلکې ډېری دېوالونه او شپولونه يې وران کړل. ويالې يې وچې کړې، باغونه يې شاړ کړل، پوهېږې د څه لپاره؟ د دې لپاره چې وايي موږ بايد د شل کالو پاتې کسانو ته يو دوزخ جوړ کړو، د دوزخ جوړول زموږ کار دی، نو اوس يې خپل معماران او استادکاران بوخت کړي دي، دوزخونه جوړوي. سقر دوزخ، جهنم دوزخ. هغه چې د اور لمبې يې شپه او ورځ بلې وي. هغه چې د مردارو اوبو ډنډونه پکې وي او انواع او اقسام د دوزخونو.

ــ بله ارواح رامخته کېږي، پوښتنه کوي: نو څوک ورته وراستوي؟

استولو ته اړتيا نه شته، د ارواحو د ښار ټول اوسېدونکي بايد د د غه دوزخ اوسيدونکي شي. د غنمو د ډوډۍ په نوم بايد څه ونه پيژني. ځکه وايي دا پليده دانه ده. د خوراک په نامه هېڅ شی بايد دې ښاريانو ته ور ونه رسېږي.

بله ارواح اشاره کوي وايي:



www.sikaraam.com

اخوا ته وګوره! ارواحګاني چوپ کېږي، په یو لوی قطار یې سترګې نښلي، د ښار د وګړو د ارواحو په انځورونو کې یو لوی قطار بچیانې روانې کړې دې. د هر یو بیه یې پر تنده ورته وهلې ده. نو دا ولې او د څه لپاره؟ هر یو پوښتنه کوي؟

د خبرې ځواب پخپله احساس ته لاره کوي. دوی بې موره شوي دي. یتیمان دي. نوی سوداګر ورته مور پلوري. هغه یې کوم مارکیټ ته بېولې ده، د دوی د خوراک څښاک څه نشته. ارواح وایي چې مور ونه لري، نو د دوی ساتنه هم د وخت ضیاع ده. باید سودا شي او یا باید همدي دونیا یعنې ګور ته راشي.

د هغو تنکی ارواحګانې ژاړي. له یخنی ژاړي، له لوږې ژاړي. د مور او پلاره له جلاوالي ژاړي. فریادونه کوي. چنګاری کوي. یو څو یې د کمزورتیا له امله ضعف کوي. لویېږي او مړه کېږي.

بله ارواح وایي: مړه کېږي نه بلکې مړه دي. له لوږې پلورل شوي او بیا مړه شوي دي. دا یو لوی کاروان دی. کاروان په همدې لار راروان دی، قطار یې اوږود دی، پاې نه لري. دا د یو نسل کاروان او قطار دی. داسې قطار چې نوره کربلا، د بشریت له ذهنه لیري کوي. نور به د چنګیز او هلاکو روح هم ورته ووایي: «شاباس د دین او د جنت سوداګر وو. دا چل خو زما هم نه وو زده.» هتلر او نرون به ورته وخاندي، په قهقهه به وخاندي او ورته وایي، به چې اوس مو د «د وزخ جوړوونکو» اصلي څېره ولېده، هسې مو پر موږ ملامتیا اچوله؟ یزید به په خندا وي: «ما همدا شیبه غوښته چې تاسو یې ووینئ»؛ نو که لیدلي مو نه وي چې زه یې درته انځورونه دروښیم؟ د یزید په همدي خبرو دا کیسه



www.sikaraam.com

پای ته رسېږي خو د حمید بابا دا شعر په یو ارام حالت کې له کوم لوري زمزمه کېږي.

سر زما سرکوزې نه مني د تاج

ګڼه تاج زما و سر ته دی محتاج

زه یې خر د ډېرانه ګڼم په حال کې

دا چې ناست دی بې پروا په تخت و راج

سلطنت جلب د فقر نیوی نه شي

نه خوري ډب په یوه کک بحر مواج

## ۲۹

اوس چې څه لیکم له دېرشو شمیرې سره سر خوري. دېرش شمېره په فیثاغورثي نظر کې بده شمېره نه ده. دا د یو کار پای ده. مقدس قران په دېرشمه پاره بشپړ شوی دی؛ خو موږ دلته خوښي او نیکمرغي اړوند څه نه لیکو، دا ځکه چې داسې څه نه شته چې ویې لیکو. اسمان هم هېڅ په سترګو نه برېښي. لمر خو دلته درک نه لري. د ځمکې پر سر چې مو ژوند کاوه، هلته به د شپې په مهال ستورو پړک واهه، کله به مو دخپل بخت ستوري هم لیدل او که به کوم پاړوګر ته کیناستو او ښی لاس به مو ورکړ، نو د شونډو له رپولو نه پس به یې راته ویل:

«ستا ستوری په فلك هفتم کې قرار لري. بخت به دې د برات د میاشتې په لسمه نیټه وغوړېږي او بیا مزې کوه.» خو دلته دا کارونه نشته نه زوړ پاړوګر شته، نه د تاویزونو سالار شته او نه بل څه. هسې د ختو کندې دي چې تنونه مو په کې وراسته شوي، اراوحګاني مو ګوښې ګوښې ګرځي او د خپلو غمونو په یاد غومبر وهي. کله چې به د ځمکې پر سرووم او له کلاګانو به سهار مهال راووتو، نو په شنو ببرو پولو به مو ګام اخیسته، د واښو او شنیلیو له منځه به چنډخو او ملخانو ټوپونه وهل او له لارې به لیرې کیدل؛ خو دلته دا کیسه نشته. ارواحګاني مو نه د «ګله کې» استاد سندره اوري او نه خو د حضرت باز استاد ټوکې، بلکې یوازې ساندي او زګېروي دي او د غم یو خاموشه موزیك غږېږي. زموږ د حواسو غوږونو ته لاره کوي؛ خو دلته د ارواحو د ښار کوڅې او لارې او پلې لارې اوس ټولې شاړې پرتې دي. نه په کې غږونه شته او نه په



www.sikaraam.com

کې لاروي شته او نه نور څه؟ د خلکو ګڼه ګوڼه نشته، تګ راتګ په ټپه ولاړ دی، اوس ښار د ارواحو ښار دی، يعنې د ژونديو پته پکې نشته.

يوازې له ليري ګونګوسي او بنګاري تر غوږو کېږي، هغه ارواحګانې چې بنګاري کوي او نامعلومې خبرې اوري، حيرانېږي. خپله اراده له لاسه ورکوي. داسې بريښي چې سترګې يې تندي کې پاس يا ټنډې ته پورته شوې دي. خو يو ناڅاپه د ماشومانو يوه لويه ګله په لاره راسمېږي. چيغې وهي. فرياد کوي. همدا وايي:

موږ وږي يو!

موږ ډوډۍ نه لرو!

موږ خوراک نه لرو! موږ هېڅ نه لرو، موږ خوراک نه لرو، موږ هېڅ نه لرو، دا ځکه چې موږ د ځمکې پر سر وطن نه لرو او له دې سره سم بيا اواز د يو اهنګ او غمجنې سندرې بڼه خپلوي.

يو تن پوښتنه کوي وايي: ايا د ښار حاکم چېري او په څه بوخت دی؟

بل يې ځواب وايي: هغه د څوکۍ پر سر خوب وړی دي. يوازې د تسبيحو ټکار يې د ماشيندار له ضربو سره يوځای کېږي او د غم سندره جوروي او بيا په ليرې دښتو کې اوريده شي.

خو د يو لښکر ماشومانو په مخ کې د هغو پلرونه او ميندې چې د پاخه عمر خلک دي، اواز راځي. يوه تن چې پنځه شپږ تنه ماشومان يې په مخه کړي دي. چيغه وهي. په ځلور ځلور، يعنې هر ماشوم په ځلور زرو افغانيو پلورل کېږي. تر مخه تر دې په تېرو کلونو کې په همدې لارو کې پسونه پلورل کيدل؛



www.sikaraam.com

خو اوس ماشومان پلورل کېږي. یاد رقم د هر ماشوم بیه ده. پلرونه یې غواړي ویې پلوري. غریو نیولی بوډا غواړي خپل بچیان وپلوري، د خپل زړه توکړې او ټوټې وپلوري. هغه هم د دې لپاره چې ژوندي پاتي شي. یوه ارواح تري پوښتي:

ولي او د څه لپاره؟

هغه وایي: زه د دوې د نس له مړولو وس نه لرم. غواړم ژوندي پاتې شي. په یو داسې چا یې پلورم چې دوی ته رزق او روزي ورکړي. زه یوازې د دوی د خپټې غم کوم، همدې غم اخیستي یم.

ــ او تاسې؟ یوه بله ارواح پوښتنه کوي:

زه او میرمن چې عمر مو خوړلي دی. موږ په مرگ حساب یو. زموږ ژوند نه دی په کار. ژوند نور موږ ته عذاب دی. د عذاب تېرول خپله عذاب دی. اوس په دې لوی ښار کې ټول واټنونه صفر شوي دي. دلته د احساس او عاطفې، د رحم او بې رحمۍ، د درد او بې دردۍ واټن، د غم او خوښۍ واټن او بالاخره د ژوند او مرگ واټن.

بوډا په ږیره لاس را کاږي. له سترگو یې اوښکې دارې وهي. کوچنی ماشوم یې له لمنې کشوي ورته وایي:

پلاره ما ته ډوډۍ؟

بل ماشوم هم غږ کوي، پلاره زه وږی یم، نور لوېږم. د پلار ستونی پړسېږي، خبرې یې په خوله کې وچېږي. ارواحگاني ترې گردچاپېر درېږي، ټولې حیرانې دي.



www.sikaraam.com

ارواح مي پوښتي: ايا د مرگ او ژوند واټن هم صفر دی؟

ــ نو صفر نه دی څه؟ کاملاً صفر دی. د مخه به مړي هديرو ته وړل کيدل. اوس د ښار ټول وگړي مړه دي. همدا چې کله په کوڅو کې په حرکت دی، دا د مړو حرکت دی.

نه گوري چې د ښار حاکم په پټو سترگو د جنازو لمونځ ورکوي، د ښار جنازه، د ښار د وگړو جنازه. ځکه خو اوس په ښار کې هېڅ بل څه نه اورېدل کېږي. يوازې اوراد او دوعاگانې، مړ ښار؟

اوس د ارواحو د ښار وگړي، مړه وگړي هم بې کفنه حرکت کوي. دوی هديرو ته اړتيا نه لري، دوی غواړي بې کفنه په کوڅو او لارو کې وگرځي، بې کفنه وپلورل شي، بې کفنه په خپل ديار کې ساه ورکړي. ټول د ساه ورکولو په حال کې دي، دا اوس يوازې د ارواحو ښار نه بلکې د ژونديو او متحرکو مړو ښار دی. ايا زه خوب وينم؟

نه! خو اوسني حالت هغه خوب ته ورته دی، چې په خوب کې به تاسو ليده. اوس د ويښې يعنې بيدارۍ او خوب واټن هم صفر دی. نو د ژونديو مړو ښار!

ولې د ژونديو مړو ښار؟ دا ځکه چې دوی هدېره هم نه لري. هدېره پلورل شوې ده. په هغه ځمکه چې مالك يې اوس پردي دي، د ښار وگړو ته د ژوند حق نه ورکوي او نه يې د مړي لپاره د قبر ځای! دا ځکه چې واټنونه ټول صفر شوي دي.



www.sikaraam.com

زه هم د ارواحو په ښار کې له ارواحو سره بند پاتې یم. څه چې درته وایم، له ارواحو درته نکل کوم. دلته په دې خبرو کې انځورونه هم د ارواحو دي. ارواحګانې چې سختې ترهېدلي او وارخطا دي، جسدونه په دې جغرافیه کې لا له مخه خاوري شوي او خاوري کېږي او دا لړۍ لا روانه ده. یوازې ارواحګانې د سیورو او ماښام څکالو په څېر دي چې یوه او بله خوا ګرځي. وارخطا، زېږ زبېښلي، ډارېدلي او اوترې دي.

خبره په څه کې ده؟ له تاسو سره به هم دا پوښتنه پیدا شي چې ولې ارواحګانې وارخطا دي؟ ځکه هغوی خو نور د خپلو اجسادو غم نه کوي، بلکې د ژوند په باب اندېښنه هم نه کوي.اصلن دژوند په نامه څه پیژني هم نه. نو د ژوند اندېښنه ورسره نشته، دا سمه ده. اژدها دومره ډارولې دي، چې د مرګ په شېبو کې چې کله له خپلو اجسادو جلا کېدلې، هغه ترهه اوس هم نه هېروي.

خبره دا ده چې ښار ته د ببرې اژدها په رانښوتلو سره یوه سره لمبه اور د هغې له خولې راووت، دا هغه افسانوي ښامار ته ورته و، چې په لرغونو افسانو کې به ویل کېدل چې کله به کوم اساطیري ښامار په ښار داخل شو، نو هر څه به یې ایره کول. په ټوله فضا به د اور غرغرې او لمبې پورته وې. لوګي یې د وریځو په څېر د همدې مکان په لر و برو اړخونو پلن دي، د لوګو او لمبو وزرې ورو ورو غځېږي.

کانې بوټي او هر څه چې یې مخې ته ورځي، رانغاړي یې. د اور لمبې لکه د یوې اژدها له خولې چې راووځي، لکه د هماغه افسانوي ښامار له خولې چې



www.sikaraam.com

را بهر کېږي او هر څه ته چې ورمخامخ شي، نو هغه بیا تر ستوني تېروي یا یې ځای په ځای ایره کوي او په ګرد یې بدلوي.

نن هم د عدم په دښته کې همدا داستان تر سترګو کېږي، ارواحګانې یو ه بلې ته دګونګوسی په اندازکې حال وایي، خپل سرګذشتونه یوې بلې ته حکایت کوي.

یوه ارواح یوه منظره ترسیموي، د یوه ګڼ ځنګله د ونو په خمبو او ښاخونو کې زیات مرغان سره راټول دي، شور ماشور یې جوړ کړی دي، تورتم په ټوله فضا پلن دي. ښی او کیڼ لاس نه معلومېږي. خو کله چې یو ځناور دې ځنګله ته وردننه کېږي، د ځناورو یوه لیکه او ځیږه ورپسې په منډه وي، مرغان چې یو لوی لښکر یې جوړ کړی دی، د ونو له ښاخونو، د پاڼو له منځه د خمبو او لښتو له سره الوځي، د مرګ وېره یې په اندامونو د خپسې په څېر کښېني، الوزي او پورته اسمان ته پورته کېږي، بیا نه ګوري چې کوم خوا درومي، د ونو او د ځنګله له سرونو الوځي، د جوړه مرغانو جوړې هم کنډو کېږي، هر مرغه له خپلو ملګرو او جوړې نه جلا کېږي او په نامعلوم لوري الوتنه کوي. هم داسې کرار کرار له سترګو پناه کېږي، د اسمان په لمنو کي تری تم کېږي، په یو لوري هم نه درومي، د هر ټول (د مرغانو سیل) یا ډلې لاره جلا وي، یوه ډله د لمرخاته په لور او بله د لمر پرېواته او همداسې نور، ځنګل چوپ او خاموش پاتې کېږي. سکوت پرې لاسبرې کېږي، د سکوت سلطنت جوړېږي. خو ځناور په ځنګله کې کښته پورته ځغلي. ژبې یې له خولو راکښته ځانګي.نږدې ده چې پر ځمکه ترې ورغړي. د یو نیم ځناور لکۍ جنډه وي او د یو نیم غوږونه مړه او کښته ځانګې خوسا بویونه او زړه بدوونکي بویونه په ټول ماحول



www.sikaraam.com

کي پلنېږي، یو نیم وایي همدا بوی د وبا بوی دي چې ځناورو له ځان سره راوستي دي. خو ځینې بیا وایي همدا تعفن «جنتي تعفن» دی او تقدس لري.

ارواحګانې خپلې وزرې څنډي. که څېرې یې لیدل کېدای شوای، اورومرو به زېړې وای، حیراني او له وارخطایي به رپېدلای؛ خو داسې په پوره او بشپړ ډول نه برېښي، دا ځکه چې جسامت یې له مخه په ایره بدل شوی، دوی اوتر او وارخطا ګرځي. دوی د اور له لمبو تښتي. له خپلو کوټو او کوډلو کلیو او کوڅو او محلونو راوتلي دي. هېڅ بله اسره نه لري، د ژوند بار په خپلو ولیو اېښود شوی احساسوي؛ خو نور د دې متره نه لري چې هغه تر کوم ځایه ورسوي.

یوه ارواح کیسه کوي او وایي: یوه لویه اژدها په ښار راننوته، د اژدها له خولې اورونه، لمبې او ورپسې لوګي را وتل، له هرې لمبې سره به یې ناروغي قحطی،لوږې او مرضونه شیندل، د اژدها هره لمبه او هره د اور څپه چې به د ښار په کوڅو ننوتله، خلک او زنده سره به یې ایره کول. دېوالونه به یې په ځمکه کښېنول. ودانۍ به یې په کنډرو او کنډوالو بدلولې. اور اوس هم د اژدها له خولې را بهر کېږي. د ښار په کوڅو او واټونو کې د بادونو بړبوکۍ نشته خو د اور لمبې د بړبوکیو په څېر تاوېږي.

ځیني ارواحګانې وایي: دا اژدها مرضونه زېږوي، وباګانې راولي، د وبا تخمونه شیندي. سره له دې چې ځینې سادګان بوده ګان او شوده ګان یې «مقدسه اژدها» بولي. ښار ته په راننوتو سره عقل او فکر او سنجش له مغزو تښتوي، د ماضي او مستقبل مفاهیم د انسانیت او ښاري مفاهیم له ذهنه باسي. تحمیق او ړندښت لکه تخم په انسان کې راشین کوي. سواد، زده کړه او ښوونه کفر بلل کېږي. دا هم داسې وبا ده چې ښار ته په ننوتو سره ارواحګانې له کالبدونو او



www.sikaraam.com

جسامتونو والوتلې. همدغو چې مرګ يې نه وو ليدلی، مرګ د يو نابلده مېلمه په څېر د کورونو ماشومان هم زاره چاودي کړل. د وينو سيلاب په دروازو ورننووت او له هغه وروسته بيا جسدونه ورک شول. يوازې ارواحګانې وې چې د ښار په کوڅو کې په نامريي توګه کښته پورته کېدلې.

يوازې سيوري وو، د ارواحګانو سيوري، چې د ماښام څکالو په څېر اخوا دې خوا کښته پورته کېدل، کله به يوه نيمه ارواح فضا ته ورپورته شوه او له هغه ځايه به يې ځان راغوځار کړ. خو د ښار له څلورو دروازو د يو لوی کاروان په وتلو شو. دا کاروان په سترګو نه بربښېده. خو ټولې لارې ترې ډکې وې او له هغه وروسته بيا ښار ورو ورو له ژونديو کسانو تشېده. يوازې د «الله لوی دی» غږ له يوې او بلې خوا اورېدل کېده.

هغو چې دا چيغې يا د لوی ذات د لويوالي چيغې وهلې، په فرعوني اواز يې چيغې وهلې. اوازونه يې بيرته غبرګېدل او له دېوالونو يې بيرته انګې اورېدل کيده. همدا يې ويل: «خدای قهار دی». خپل قهر يې نازل کړی دی، ځکه خو اوس دلته د بنيادمانو ځای قهر نيولی دی؛ خو هغوی يوازې د خدای څواکمني په قهر کې ليدله. د خدای د رحم او شفقت يې څه نه ويل، له دويم صفت نه يې منکر وو. يوازې د قهر او غضب په باب يې خبرې کولې او ځانونه يې د دغه قهر مجريان ګڼل.

ارواحګانې يوه له بلې سره پسېدلې، ويل به يې ايا دوی په خدای تومت نه کوي؟ اورمرو چې تومت کوي، خو د شيطان نامريي خندا چې له بوټو او ګټو به اورېدل کېده، همدومره يې ويل: «ځان په بغارو مه ستړي کوئ. د دوی تعبير له هر څه د شيطان له تعبير سره سرخوري. تاسې خپلې بغاري ووهئ.»



www.sikaraam.com

تاسو هم پوهېږئ چې د ارواحو ښار له لمر او روښنايي په بشپړه توګه بې برخې دی. د ښار حاکم په قهر او غضب هرې خواته ګوري؛ په خوله ګونګی دی. څه نه وايي. داسې برېښي چې په وجود کې يې د کلونو عقدې کښته پورته کېږي. د محروميت عقدې، د اهانت او سپکاوي عقدې او داسې نورې. هره شېبه يې ياد ته ورځي چې کله به د يو کليوال دروازې ته ودرېد او د «وظيفه راوړئ خدای مو وبښه!» غږ به يې وکړ، له دننه به ورته د سپي خطاب وشو. د کور د انګړ سپي به غوړونه مړه کړل، غلی به شو، خپه به شو او ارومرو به يې له ځانه سره ويل، «زه خو دومره سپک نه يم، زه خو د دې کور چاپيريال ته وفادار يم، د کور ساتنه کوم، دا بې انصافي ده چې اوس هغه چا باندې زما نوم ږدي چې ان کور نه پېژني، د خپل پلار کور و قبر يوازې د دې لپاره په دوه توته پلوري؛ که يو ماښام غوړه مړی ور ورسېږي.» ارومرو به د کور د خاوند خپل سپي ته ورپام شوی وي. په سپي به يې لاس را کښلی او بيا به پاڅېدلی وي او د کور بهر سوالګر ته به يې خپل غضب ور ښکاره کړي وي.

خو که کله به د کور مېرمن د سوالګر پسې له دروازې سر ور وويست او سوالګر ته به يې ستغې سپورې وويلې، چې نه شرمېږي په تنه جوړ او څلور اندامو روغ يې؛ نو ولې کار نه کوي، تر څو به د پردي در ته ولاړ يې؟ د خبرې په اورېدو سره به د سوالګر عقده به لا پسې زياته شوه. نه يوازې د هغه کور له مېرمنې سره به يې دوښمني شوه، بلکې د ټولو مېرمنو او ښځينه جنس سره به يې دوښمني واخيسته. له ځانه سره به يې ويل: «که يو وار مې لاس ته توره



www.sikaraam.com

راغله، بیا به دا (ښځینه جنس) د ځمکې له مخه لرې کړم، همدا یو جنس (نرینه) کفایت کوي.»

خو نن چې د ښار حاکم له تېرو ترخو تجربو سره له خوبه را پاڅېدلې او د خپل مسلک او فرقه‌یي عقدې د ده په ناخوداگاه کې راټولې شوي او لکه د امریکایي «مور بم» یې ټول وجود وربدل کړی؛ نو مایکروفون ته درېږي. اذان یې له یاده وځي. خو یوه کړیکه کوي، وایي:

له دې وروسته باید ښار ببر شي، هېڅوک باید ښویه او تراش شوی نه وي. ښار باید ښویه، صاف، بې پشمه او بې وژغنو نه وي.

بیا بیا جومات ته ننوځي، اذان ترې هېرېږي، له یاده یې وځي؛ خو د اذان پر ځای بیا چیغه کوي.

«ای وګړیو! د دې ښار چې یاست پراته په پار دیار

غبږ مو جګ کړئ په بغار

هر څه وغواړئ الله نه

هیله مه کړئ له ملا

غواړئ بچ شئ له بلا نه!

موږ نه ستاسو مسوولین یو

نو بغار کوئ الله ته!

هغه ستاسو دې مسوول، هم د کار هم د روزګار»



www.sikaraam.com

خو نن سهار بيا د ښار په کوڅو او واټونو کې، په څلورلارو، پر هر دېوال او هره خښته ليکل شوي وو: ښار ببر کړئ چې ثواب مو شي په برخه!

دوه کسه يوې لوحې ته ولاړ وو. حيران ولاړ وو. د جملې په مانا نه پوهېدل، يوه وويل، ارومرو د نيالګيو د کېنولو لارښوونه ده. بل يې ويل، نه داسې نه ده. د ونې او نيالګيو سره د حاکم څه؟

بل ورته را دمخه شو، ورته ويې ويل: لکه چې پوه نه شواست؟

لومړي شخص ورغبرګه کړه: نه، ته يې ووايه؟

هغه وويل: دلته د طبعيت او بدويت داستان دی. مطلب دا څنګه چې انسان پيدا شوی دی، بايد هېڅ ځای پاک نه کړي. مخ بايد پاک نه کړي، ږيره اوږده پرېږدي، کار و غرض ورسره ونه لري؛ ځکه دا د خدای امر دی چې څنګه يې پيدا کړي ياست، دوام ورکړئ.

ولاړ سړي وويل، دا خو انسان ببرېږي. نن خو يوويشتمه پېړۍ ده. بايد له تمدنه څه زده کړو؟

په ځواب کې ورته وايي: خبره هم دلته ده. دلته حاکم صيب په تمدن باندې طبعيت ته ترجيح ورکوي. تمدن په درد نه خوري. تمدن افتونه زېږوي(!)، وحشتونه زېږوي(!)، جنسي وحشتونه او شهواني وحشتونه، نو بس امر امر دی.

هلته پر بلې تختې کښل شوي و، چې څوک په مخ وژغني ونه لري؛ دفتر ته د ننوتلو اجازه نه لري. موږ بايد د لومړيو پېړيو ژوند ته ورستانه شو!



www.sikaraam.com

دوه کسه چې تختې ته ولاړ وو، د ډېرو پوښتنو علامه یې په ذهن کې لیکه ودرېده. ویې پوښتل، ولې د ښار د ببرولو امر؟

خو روح ورته په مخکې ودرېد، په خوله یې غږ ونه کړ. همدومره یې ورته وویل:

لکه چې پوه نه شواست؟

لاروي همداسې په لاره تېر و بېر کېدل. هر چا په لوحو سترګې نښلولې. څه یې نه ویل. ارواح وپوهېده چې دا جسامتونه نه دي، بلکې ارواح دي. د اواز ویستلو، غږ کولو او د څه ویلو وس نه لري. خو هر څه ویني. داسې بریښې چې نور د دې ارواحو احساس هم مړ دی. یوازې لیدل کوي او بس.

خو په لار چې درومي، خولې یې وچېږي. له ډېره درده په ګېډو لاسونه ږدي اوتر اوتر روان دي؛ څه نه وایي.

روح او روان په درنګ شیبه کې کوځې، سرکونه او ښار له یاده باسي؛ حیرانېږي. یو ګړ او تورتم ځنګل ویني. داسې ځنګل چې د تګ راتګ لاره په کې نه شته. وګړي بیا هم یا د هغو ارواحوې کښته پورته کېږي؛ خو ترهې او ډار نیولي دي، هغوې په خیالونو او تصوراتو کې ځېرو‌ونکي حیوانات ویني. داسې حیوانات چې ګز ګز ژبې یې راویستې دي. خولې یې په وینو سرې دي. ارواحوې ترهېږي. په اندامونو، اکر او روان یې زلزله راځي. اوس لوحې او احکام هم نه ویني. بلکې هر څه ببر ویني، د وړیو او وژغنو ببر.



www.sikaraam.com

رښتیا چې طبعیت او ټولنه یوازې مخ ته نه ځي، بلکې شا ته هم ځي. ژوند بیا له څمڅو او غارونو پیلېدلی شي. دلته هم دا کانه ده. داسې چې ونو او دېوالونو هم وژغني را ټوکولې وي. تېرې وژغنې چې ګوتې او لاسونه سوري کوي.

نو د هماغې شېبې پر «اسماني» غبرګ چې وژغني باید توې نه شي؛ باید په قیچې لنډې نه شي، باید پرې نه شي. نو ټول ښار ببر شو، هر څه ببر شول، ښار په یو پراخ ځنګله بدل شو او ځنګل له ځېروونکیو ځناورو ډک شو. ځناورو ګز ګز ژبې راوویستې. د انسان د داړلو، وژلو، حلالولو او الوزولو جشن ونیول شو. نغارې بندې وې؛ خو په دې ویاړ یې په ټول ښار کې نغارې وډنګولې او وحشت ته یې د «اسماني تقدس» جامه ور واغوسته.

## ۳۲

د فنا قلمرو ته راغلي ارواحوې کیسه کوي چې نن بیا له ښار نه لوګي پورته دي. لمبې او غرغړې راخېژي. څو تنه سیلانیان ورته هک پک او ګوته په غاښ ولاړ دي. دوی په خوله څه نه وایي؛ خو سیل کوي. وایي چې د ښار حاکم نن په ښار د خپلو کوډو اوجادو داسې دم شیندلی دی، چې غوږونه کاڼه او د ښار وګړي یې سرکاوته او بې حاله کړي دي. ښاریان ټول نشه او ګنګس دي. وایي چې «ښاریانو ته یې اپیون ورکړي دي»؛ نو ځکه د خبرو مجال نه لري. اواز او ښکالو یې نشته، څوک سڼ هم نه کاږي. د اور لمبې د ښار له کوڅو راپورته دي، نه یوازې د ښار له دېوالونو لمبې دي؛ بلکې د وګړو له تنونو او وجودونو هم د اور لمبې را پورته دي؛ خو په سترګو نه برېښي.

یوه لاروي ارواح درېږي پوښتنه کوي: «څه پېښه ده؟»

ځواب یې په خپلو غوږونو اوري. نن د کتاب د سوځولو ورځ ده. کتابونه باید وسوځل شي، حاکم امر کړی چې د کتاب په نوم څه باید ونه لیدل شي، ټولو ته دې اور واچول شي. قلم هم حرام دي، «نون او القلم» هم مانا نه لري، ځکه «چې کتاب او قلم فکر جوړوي او فکر کفر او شرک ایجادوي».

نو په دې لړ کې ارواحګاني د ارواحو د ښار په منځ کې د لوګیو او لمبو په منځ کې کښته پورته کېږي. کتابونه سوځول کېږي. د ښوونځیو دروازې په ځمکه پرتې دي. د اور لمبو سوځولې او توري یې اړولي دي. د ښار حاکم چې مخ یې پټ دي، نه غواړي سترګې له خلکو سره مخامخ کړي. خلک دې معجزې ته حیران دي، پوښتنه کوي. « ایاحاکم شرمېږي؟ کوم د شرم کار یې کړي، چې



www.sikaraam.com

له خلکو سره نه سترګه په سترګه کېږي؟ ایا کومه پېښه پرې شوې ده چې مخ نه ښکاره کوي؟» همدا سبب دې چې یوه ورځ یې خبري کولې خو مخ یې بلې خواته اړولی او شاه یې مخاطبو ته اړولې وه.

ارواحګاني کیسه کوي، وایي: «هغه غواړي پخپله د حجاب بېلګه وي؛ نو امر کوي چې نور باید د انسان نیمایي تن یعنې ښځینه انسان او وجود د کور له انګړه رابهر نه شي، نه یوازې نه رابهر کېدل؛ بلکې په لاس کې د کتاب نیول او د هغه لوستل خو بېخي د الحاد(!) او شرک(!) بېلګه ده.»

ارواح د حاکم له خولې وایي: «تر اوسه چې اسلام دې قلمرو ته راغځېدلی دی، رښا یې د وطن په غرونو، دښتو پلنه شوې ده، نو فساد په کې هم زور اخیستي دی. شرک او کفر هم په کې موجود او زور یې اخیستی دی. د هغه په وینا د فساد یوه سرچینه همدا ښځینه جنس دی. دا جنس باید ممنوع الورود او ممنوع الحیات اعلان شي. خیر دی که زېږون ودرېږي، نورې اړتیاوې نرینه هم په خپلو منځو کې رفع کولای شي. خو که بیا هم موجود وي؛ نو داسې حجاب او پرده باید وکاروي، چې څوک پوه نه شي، د پردې په منځ کې دې ژوندی موجود ساه وباسي.»

یوه مظنونه ارواح حاکم ته مخ کې درېږي. ورته وایي: «صایبه یوه چاره خو بله هم شته!»

ځواب کې وایي: «کومه چاره؟»

«چاره دا ده، چې د دې ښار نقشه بدله شي یعنې هر څه نیست و نابود شي. اوسنی نسل او اوسنی نفوس له منځه ولاړ شي. پخواني تعلیم یافته باید په مطلق ډول له ملکه لیرې، نیست و نابود شي، نوی نسل راپورته شي. هغه له سره

سنت یا «ختنه» شي. یوازې نرینه جنس دی وي، ښځینه باید نه وي. د مکتب او کتاب په نوم هر څه باید نابود شي. علم له شیطان سره ښایي. شیطان علوم لري، موږ یو کتاب لرو، هماغه بس دی. په ابتدا کې هم همداسې وه. نو دا کار به زموږ چاره اسانه کړي.»

هغه په ځواب کې وایي: «ولې ته نه پوهېږې، چې د ښار زیات نفوس له ښاره ووتل. نورو ملکونو ته ولاړل، دا پاتې چې دي، د دوی مغزونه کار نه کوي. دلته د مرګ لپاره شپې سبا کوي. دوی چې ونه وتل، پخپله یې مرګونه مېلمانه دي. د لوږې او له مرض نه او له جنګ نه! او زندانونه لا په مخ کې دي. په دې ډول به د «خدای او پیغمبر» اوامر پر ځای او عملي شي؛ خو دا هم درته وایم: «که دوی کتاب په لاس کې واخلي. هرومرو به شیطاني وسوسه (!)هم په دوی کې غځوني وکړي. دا چې دوی ادعا کوي، چې قلم، کاغذ او کتاب د مدنیت نښه ده. نو زه خو وایم چې مدنیت! د الحاد بېلګه ده، بې دیني ده. مکتوب د دوزخ بېلګه ده(!). همدا ښوونځي دي، چې دوزخونه جوړوي. نو باید وسوځول شي او د ځمکې له سره نابود شي.»

**پای**



www.sikaraam.com